# دریم تهوک

# رباعیات

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الف

که واړه خلق ثنا دَ خداي کا
نور هر څه پريبږدِي خودِ هاي هاي کا
ثنا ئې ډيره دَه تر حساب تېره ده
څوک به ئې کومه ثنا په ځاي کا

دَ باغ گلونه عجب نماي کا
ځني غوړيبږِي ځنې آي آي کا
سوسن ته گوره په هونبره ژبه
بې حرف و صوتَه ثنا دَ خداي کا

ته قهقه خانده عاشق که غم کا
غم کا بې تا نه تل تل ماتم کا
يوسف که هر څو څه ښه نومېږي
باء به ئې چېري له تا عالم کا

فلک کجرو دَي کارونه کج کا
دانا په غم کښ نادان فرج کا
دَ صافو ميو پيالې دروَ څښوِي
بيا په کښ هونبره خمار مزج کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لقمه حرامه نطفه ناپاک کا
فرزند چه وشي چاري بې باک کا
تقویٰ په دواړه کَونَه لوي کار لَري
په هر هر کار کښ خوا فرحناک کا

یَو موتي خاوري زیبا صورت کا
زړه ئې کڅوړه دَ معرفت کا
گویا ئې ژبه په خپل صفت کا
بیا ئې له خاورُو سَرَه لت پت کا

زر دئ چه زیرمه دَ ننگ و شرم کا
صحبت دَ هر چا وَ بله گرم کا
ډیر گران کا رُونه په زر آسان شي
زر په فولاد کښیږدې فولاد هم نرم کا

ژړا خوشحال لَه که تل دا دود کا
چه پیچمي ستا په مینه مښود کا
چه را ښکاره شِي په خوب و خیال کښ
دا بځن زړه مي په دا هم سود کا

شیخان چه هسي اوړده نمنځونه کا
پکښ باغونه آسونه جونه کا
پکښ رنگین رنگین گنډي وریښمین سکڼي
پکښ دَ سپینو دَ سرو گنجونه کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوده چه رغاندي ثنا دَ دوغ کا
هر څوک پوهېږي چه دا دروغ کا
فرق دَ وَيلو خبرو ډېر دَي
وکيل چه بد وِي روغ کار ناروغ کا

که بد خواهان دِ ښېرې غوغا کا
لا دِ ئې ډېرِي په هر سبا کا
خوشحاله غم دَ ښېرو هيڅ مکړه
سل که ښېرې کا دوه سو دعا کا

ورَځ چه کړَه شِي خداي دِ امان کا
دا هسي فضل مگر سَجان کا
چه لکه سَمَه وه بيا هسي سَمَه شِي
فکر دِ هر څوک سَرَه په ځان کا

چه کښېني ستا نه دَ زلفو راز کا
هغه دِ فکر دَ واړو دراز کا
که هر څو ناز کړې ناز به دِ زه وړم
دَ کښليو دود دَي په عاشق ناز کا

چه طبيبه ئې دَ زړه په زور کا
دارو ئې درد شي ځان دِ پېغور کا
دَور څه نور شه که څه بلا شوه
دَ شهسوارِيِ لافي خر سپور کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيار پخپله ورته ځان پړَ کا
نادان ورځي په قاصي غړيږ کا
که دولتمن وِي چه نا انصاف وي
په وړاندِي ورروستو ځان دَ کپړ کا

مردان نن جنگ کا آشتي سبا کا
چه سره کښېني صلح و صفا کا
څو ئې ژړا وِي هونبره خندا وِي
څو ئې جفا وي هونبره وفا کا

ځني يوه کا ځني دوې درې کا
په انځورنو کښېدې سرې کا
دَ دنيا خلق ياري ياري کړي
چه سود ئې نه وِي يارِي پرې کا

ما ډير ليدلي دِي چه نرد شطرنج کا
ځني شطرنج کا ځني صد رنج کا
ځني نتلي دَ دو و يک دِي
ځني ذوقونه په شش و پنج کا

څو دِ زړه خاندِي خوله دِ خندا کا
چه زړه دِ ژاړي سترگي ژړا کا
مدار دَ هري چاري په زړه دَي
زړه دِ مفتي دَي هره فتوا کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندو دَ قندو وزن په تلو کا
خوشحال ئې گوره تر لب وتلو کا
شکري وخوري مزه ئې ولاړه شِي
خوړې خبري لذت تر تلو کا

وخت دَ قيامت دي خدر له هر چا
پرېکړه خوشحاله باور له هر چا
ورونه که زويه دَ خپل غرض دي
پکار کښي يشي تېر له هر چا

دا پند دِ هر څوک سَرَه سند کا
هوښيار به نه وِي چه څوک حسد کا
همراه چه ښه وِي بد سړَي ښه کا
همراه چه بد وِي ښه سړي بد کا

چه له حرامه سړَي نفوت کا
خداي به ئې اَرت حلال نعمت کا
هونبره به لوئي مرتبې مومي
چه دَ نېکانو سَرَه صحبت کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال چه تشه مینه په بل کا
تر خلق به پورته خالي وَیل کا
خدا ئې ور پرېږده یَو هسي یار لري
په قهر راشي روته ښکنځل کا

په باغ کښې خلق په میوه شخوند کا
په خوله کښې هَره مېوه خپل خوند کا
ترخه هم ښه دِي په دا جهان کښې
دَ خوږو قدر ترخه ثرگند کا

لوئي هغه ده چه لوئِي خداي ورکا
لوئي هغه نده چه ئې کتخداي ورکا
لوئي له خدایه ده نه له همایه ده
دَ خداي په حکم سیوري هماي ورکا

په گل چه هونبره مینه بلبل کا
سېل دَ بلبلو باندِي غلغل کا
دَ ښایسته وُو عاشقان ډېر دِي
عالم به ولي هیداد دَ گل کا

ډېر ډېر فکرُونه چه آدمزاد کا
عقل ئې ولاړ شِي جنون بنیاد کا
چه ډېر دروغ وائي فسق فساد کا
خپل ځان پخپله په بلا یاد کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قابل که تښتي دولت ته شا کا
دولت ئې مخې وته راتله بیا کا
بدر هلال شي هلال شِي بدر
په کم وکاست کښې کله پروا کا

خاص به له عامَ اختلاط کم کا
که کا بد کار کا په ځان ستم کا
پړانګ چه ګیدړُو سَرَه جار وزي
خپل ځان پخپله له ګیدړُو سم کا

څوک چه له خلقه شور و غوغا کا
ناپوه حریص دَي هغه چه دا کا
چه عاقلان دِي چه صابران دي
هغه به کله جنجال له چا کا

هوښیار به مینه په ورمونو زیاته کا
ورمونه وایم که څوک مخ راته کا
محتاج دَ نورو نورو نغریو شي
سړَي چه خپله کتَوه ماته کا

مخ چه په پسول سَرَه و تا ته زېب کا
ګنړه یو ټګ وي مکر فرېب کا
مخ هم هغه ګنړه چه پسول ئې نه وي
تاخت دِ په دین و په دل شکیب کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاشق دِ هیڅوک ملامت نه کا
زړه ئې خَپل نه دَئ ویل دي څه کا
اور ئې دَ عقل په خونه ولگي
چه دَ دلبري سترگي تر زړه کا

قاضي چه اُوم وِي بې علمه کار کا
هم خپل ځان خوار کا هم خلق خوار کا
غلط غلط لولي خطا خطا وائي
وسل لعنت ته خپل ځان تیار کا

شیخان چه هونبره بندگي طاعت کا
که اجر غواړي څه قباحت کا
هغه بنده به نابود بنده وِي
چه به په طمعَ دَ څښتن خدمت کا

احمق چه وپوښتي خپل زړه زبان کا
په وَیل گډ شي وَیل شان شان کا
هر چه په زړه کښ څه نېک و بد لَرِي
هغه به واړه ورته بیان کا

گل چه په باغ کښ جامه رنگینه کا
څو چه تازه وي بلبل پرې مینه کا
په ښه صورت سَرَه په ښه نگهت سَره
گل دَ بلبلي مینه متینه کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګړِي واړه کارُونه خپل کا
مردان هغه دِي چه کار دَ بل کا
څوک چه آرام ګټي دَ نېکو نام ګټي
دَ خوږو زړونو دارُو به تل کا

ځني په علم ګردن دراز کا
ځني په زهد په شيخي ناز کا
ما سر نيولي دَ عشق په کار دئ
ما دِ پدا کښِ خداي سرافراز کا

سيلاب په څو خاشکي غوبر پيدا کا
بنياد ئې نشته غړ پړ پدا کا
چه لوي وي نور ئې صفت ثنا کا
درياب چه لوي وِي کله غوغا کا

چه خاندِي نورُو وته کتَل کا
ژاړه خوشحاله دا خوي که تل کا
سترګي ئې نه دِي دواړه قصاب دِي
چړې په لاس کښِ واړه کُتَل کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له بندگۍ دِ بنده نور هيڅ نکا
په لبړ په ډېر دِي له څښتن پيچ نکا
که ئې و مرگ ته په قهر وکاږي
بنده دِ تېښته دَ څښتن له قليچ[۱] نکا

چه طبيبان مي دَ رنځ درمان نکا
رنځ مي که ډېر شِي بيا دِ ارمان نکا
کفر که گورې فرمان دَ نفس دي
مؤمن به هيچري دَ نفس فرمان نکا

که څوک پيدا شي چه عدل و داد کا
غوږ دَ درمنو په داد فرياد کا
چه مقرب دِي عرض ئې لگېږي
عمر ئې ډېر شه خوشحال دِ ياد کا

توره چه بيا مومي غازي غزا کا
توره چه نه وِي غزا ته شا کا
توفيق له تا نه تقوا له ما نه
توفيق چه نه وِي څوک به تقوا کا

---

۱. يعني توره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَو چه رشتيا کا دويم دروغ کا
عجب که کار په دروغو روغ کا
رښتيا غوړي دِي دروغ متياځ دي
چراغ په غوړُو سَرَه فروغ کا

ځان به په قدر هغه فرزند کا
چه چاري واړه دَ پلار پسند کا
روش ئې واړه دَ پلار روش وي
خپل نوم تر پلاره تر نيکه بلند کا

چه ډير دخول کا يا ډير خوراک کا
چه ډير وَيل کا ځان به هلاک کا
دخول ډېر خر کا خوراک ډېر ستور کا
په سړي هوښ کښ دِ سړی خپل ژواک کا

لينده هغه شکوه چه مټ دِ خوړ نکا
ښځه هغه کوَه چه زور دِ لړ نکا
دَ هغې غوښي کباب په خوله مکړه
چه په سکرو ئې کتره خړ بړ نکا

څوک چه بد ذات ته علم هنر ورکا
خوني رهزن ته توره خنجر ورکا
دَ ځان غليم به دَ گرگ بچړي ساتي
خپل به ئې نشي که خپل ځگر ورکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



گني بند بند کړه و تا شکر درکا
سر دَ صدف پرېکړه و تا گوهر درکا
بتر تر کاڼي مه شه خوشحاله
کاڼي چه وسېځي و تا ته زر درکا

نه سرداري ورکا نه زر داري ورکا
نه لوي ملکونه اُوبه جاري ورکا
چه له ازله خداي څوک نمنځلي دي
هغو سړيو ته خداي هوښياري ورکا

چه نوکري کا څوک ډېر گنده کا
سړي آزاد وي خپل ځان بنده کا
تر آزادي نه بهتر هيڅ نشته
چه څوک په کور کښې خپله دنده کا

اولاد چه ښه شي راحت دَ زړه کا
اولاد چه بد شي ښه پلار مور پړه کا
اولاد چه ښه شي بد مور پلار ښه کا
اولاد چه بد شي رنځور دِ زړه کا

ما وې نن شپه به را سره تېره کا
راته به شمعَ دَ مخ برسېره کا
سنگين مي بخت وُ چه درسته شپه ئې
وعده دَ وصل له دل و هېره کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيار به هيچېري بې ځايه کار نکا
هم به بې وخته دَ خولې گفتار نکا
په خوله په لاس به هيڅوک آزار نکا
چه بد کردارَ دئ هغه به يار نکا

سړی آزاد وِي آز ئې بنده کا
بنده لا پرېږده لا ئې گنده کا
هونبره خوارېږِي څو آزاد زړه لَري
په څو څو رنگه ئې بيا شرمنده کا

هوښيار به هيڅکله وَيل باطل نکا
هم هر يو چا ته دراز وَيل نکا
دَ خپل راز ځاي به ئې ننه په زړه کښې وي
دَ رړه بې حکمه به خبره تل نکا

طمع بلا ده اصيل بنده کا
ښه ښه سړي وي دا ئې گنده کا
ما ډېر ليدلي دي چه طمعَ نلري
په بادشاهانو پوري خنده کا

سړي دَ نيکو عمل ارشد کا
دا ئې هاله وِي چه بخت مدد کا
چه بخت ئې ښه شي عمل هم ښه کا
چه بخت ئې بد شي عمل هم بد کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر دِي چه تا ته خپل ځان ملک کا
په ښو خبرُو ځان په فلک کا
نعوذ بالله چه ښه ئې خير کړې
شيطان تر ځان پوري لکه کودک کا

چه عاشقۍ ته هوا هوس کا
خپل ځان دِ وژاړي خپل ځان دِ خس کا
چه عشق مي وليده پرې خندا راشي
چه عاشقۍ ته هوا هر کس کا

سفله پخپله خپل ځان رسوا کا
چه دولتمن شي غيري هوا کا
سفله قاضي مشه شراب روا کا
سفله طبيب مشه رنځ لا دوا کا

چه په ځواني کښې پرهېز دَ کک کا
که آدمزاد وِي کار دَ فلک کا
پرهېز پيرئ لَره په کار دئ
تش دِ په وخت دَ ځوانۍ زړه ډک کا

ژوندي که هر څو ژړا غوغا کا
مړَه کله بيارته راتلنَه بيا کا
سکه لکه دود دَ ژونديو څه دئ
دَئ دِ په صبر کښې کار دَ دنيا کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ اور دَ تېغ سَرَه سړي بازۍ نکا
له مار لړم سَرَه مهم سازۍ نکا
چه نه تدبير لَرِي نه جود نه توره
هغه سړی به سرفرازۍ نکا

زر دِي چه هر چا ته اعجاز معلوم کا
معدوم موجود کا موجود معدوم کا
وينځه مېرمن کا خادم مخدوم کا
زر په سندان کښېږدې د سندان هم موم کا

مغرور په چرخ مشه که دِ سلطان کا
زبون دَ چرخ مشه که دِ چوپان کا
خواږه ترخه ئې بقا هيڅ نلَرِي
نوي نقشونه به هر زمان کا

ځيز چه کم باب شِي عزت پيدا کا
زنګي په هند کښې قيمت پيدا کا
حلوا چه موړ خوري لذت ئې نه وئ
ډوډۍ په وږي لذت پيدا کا

نوري نوري سَرَه موافقت کا
ناري ناري سَرَه مواصلت کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوطي طوطي سَرَه موانست کا
زاغ دَ زاغانو سَرَه الفت کا

که هر څو سعي کوښښ څوک وَکا
نه به ښه بد کا نه به بد ښه کا
وائِي چه زوي مي هوښيار قابل شي
چه خداي ئې نکا خوشحال به څه کا

مرد به دَ تېرُو چارو ارمان نکا
رنځور چه وِمرِي څوک ئې درمان نکا
مردان هغه دِي چه شرم ننګ لري
لاف دِ دَ شرم دا بې شرمان نکا

غني که هر څو دَ زرُو وېش کا
پروا پرې نلري صبر دروېش کا
دا صبر ښه دَي دَ غني تر ورکړو
صبر به نور نور نعمت در پېش کا

نامرد هغه دي چه و چا څه ورکا
منت دَ پاسه وربانِدي زبر کا
په رنځ کښ ومره هغه دارُو مخوره
چه په منت ئې و تا څوک درکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلَو که کښلي له مخه ليرِي کا
راته په مهر خندا خبري کا
ما به توانګر کا دَ لعلو درُو
هم را به توئي تر خولې شکري کا

پايښت ئې لنډ وِي چه ښوک لباس کا
مخ به ئې تور شِي چه کوز او پاس کا
په شان شان خولې دي شان خبري
نادان چه وائي هوښيار قياس کا

هغه باز چه په عصفور غوټې کا
که دَی ښه باز دَئ کار دَ باښې کا
دَ بزرګانو همت بلند بويه
کار دِ په قدر دَ مرتبې کا

# ب

فولادي توره وِي که لويه تبه
تر دا لا بده دَه بد ګويه ژبه
ډېري بلا نه در ښخه واوړي
ژبه که بند کړې دَ پند طالبه

په واک چه نلري په کام کښې ژبه
که ګنګ شِي ښه دَئ په لويه تبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بده ژبه به ځان ځي جهان ځي
ايمان لا هم ځي واروه طالبه

طالع که ډک لَرم له هَره عيبه
يَو کار مي ښه دَئ بېشک وريبه
چه څوک مي پاڅي په غلېمئ
ور باندِي پرېوزِي بلا له عيبه

چه ډير ويل کا په ډېره ژبه
څو ئې چه ژبه هونبره ئې تبه
دَ باغ بلبلو وته نظر کا
په خپله ژبه دَ قفس طالبه

دَ ميو مسته هغه محبوبه
درسته په مشکو په گلابو ډوبه
سر توره راغله خپرې زلفيني
بوسه ئې راکړه تر قندو خوبه

چه زړه فارغ لَري له مکره ريبه
هغه به مومي نصرت له غيبه
دَ بل په عيب نظر هاله لَره
که ځان دِ خلاص وِي له هَره عيبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه چه خلاصه وِي له هَره عيبه
زړه ئې خالي وِي له مکره ريبه
په مصلحت به ئې چرته بيا مومې
مگر پيدا شي چېري له عيبه

څو څو فکرونه څو څو آشوبه
زړه مي په غم کښ سترگي بېخوبه
دا ځل مي وشوه په مخ کښ سوبه
نور توبه توبه له مَيَن توبه

لنډۍ به وا نوړي له لنډۍ توبه
لولۍ به وانوړي له لولۍ توبه
که همه عمر سپی حلوا خور وئ
منعَ به نشِي سپی له سپي توبه

خوږه نمړۍ دَه که خوږه ژبه
چه څوک پرې خپل کړې ځما صاحبه
هنر هم دا دَئ که دا هنر لرې
چار به دِ تل وِي تر سيال غالبه

چه رَو يو نه وِي دَ زړه دَ ژبي
تل به نيولي وي هغه په تبي
چه بد بوئي لَري ډېره تريخي لَرِي
ځکه غوځېږي سر د ترُبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي خالي شول له سړي توبه
دَ چا چه ګورم فتنې آشوبه
په بل کښې شل دي پخپل کښې سل دي
بل وِي که خپل وِي ترې توبه توبه

# ت

تيراه مي وليده راغلم تر سواته
پښتون مي وليده دا لوي لوي ذاته
عقل همت مِي دَ چا و نه ليده
په بيارته راغلم ناست يم ملاماته

چه په وار وار ئې له ما نه بوته
ځما خوبي ئې په چرته بوته
پيريِ وکړې را باندِي چارِي
فولادي توره يم خوړلې پروته

په چرته لاړې دَ لوبو وخته
ته چا تالا کړې دَ ځوانئ رخته
پرې خبر نه وم يَو اُوه غله وه
راته په څو وه شپه ورځ يکلخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېکان له خپله خویه خصلته
خلاص وِي له هَره عیبه علته
عفو بدانو لَره پیدا دَه
نو میدي مکړه ته له رحمته

نه ننگ نه شرم نه حمیت شته
نه مهر مینه نه محبت شته
زویه چه لوي شي زوال دَ پلار غواړي
نن په دا دَور دا قباحت شته

که دِ په تن کښ دَ نس هوا شته
بالغ لا نه یې نه دِ صفا شته
که کار په حکم دَ روح آغاز کړې
فیروزمندِي دِ په دین دنیا شته

که هر څو کاندِي څه کمي زیاتي
میخوري پښې کا دَ څنو ماتي
که ئې خلل په ایمان کښ نه وِي
مؤمن به نشي په دوږخ پاتي

مخ دَ ساقي گوره څو لا بهار شته
غوږ په رباب لَره څو ئې لا تار شته
شیخان دِ ژاړي ته خانده رند اوسه
غم د گَناه مکړه چه استغفار شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مرد یې مه پرېږده مردِي له دسته
مرد دَئ دَ پاسه ښخه ده پسته
مرد چه تر ښځه پوري زبون شِي
مردي ئې نیست شوه ښځه شوه هسته

هنر مي جوړ کا و تخت و تاج ته
طالع مي ناست دي تاخت و تاراج ته
بل ارمان نلَرم ارمان مي دا دئ
چه پیري راغله ځما علاج ته

چه ئې کاسه کړه دَ مجنون ماته
مینه ئې لا شوه په لیلي زیاته
جور دَ کښلیو په معني مهر دي
ښکنځل ئې ښه دِي تر ښه نباته

چه پکښې لوي شي بې مصلحته
خونه خالي شي له برکته
تر بدبخت زویه نیکبخته لوُر ښه ده
فرزند دِ نه وِي بې سعادته

لکه چه شوِي دِي ځما له دسته
شوِي به نه وِي له مي پرسته
شهوت بلا دئ سړی گمراه کا
دَ ده مستي ده تر هر څه مسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ چا په مرگ شي خونه میراته
ځما بې مرگه شوه لاته پاته
ښه چه دا هسې شوه زه هم پرې خوښ یم
چه لا را نشوه دا بلا زیاته

چه بدې چارې ښې شي[1] و چا ته
هغه سازېږې بدې بلا ته
چه کار دَ کړلو وِي په کښ کاهل شي
تر دې بد خوی نشته دوهم و ماته

که دَ گلابو دَ گل خارُونه شته
بیا ئې په گل کښ ډېر ډېر کارُونه شته
اول ئې روی گوره بیا ئې ښه بوی گوره
بیا ئې پسولو کښ څه کوپارونه شته

که ډېرې کښلې په صورت بزرگې شته
لکه مَهرودَه د کومې پرگې شته
هر چا چه ولیده زړه ئې پرې بایلو
خوشحال وېرېږي دَ ده هم سترگې شته

ښکار دَ توپک نشته نه ښکار دَ باز شته
که مې په زړه کښ دَ دواړو راز شته

---

١. ښِې و چا ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب قلم لرم اوس پرې وېرېږم
دا دَ پيرۍِ ناز او نياز شته

چه زه ئې وَروستم نيږدې و گور ته
بيا ئې راوَستم دَ دنيا کور ته
له سخته رنځ ئې تندرستي را کړه
گوره ساتي مي بيا کوم شر شور ته

ستا تر چشمانو خمار دَ مل کښېناست
ستا تر خبرُو بڼِغ دَ بلبل کښېناست
چه دِ رخساره ورته ښکاره کړه
ځکه پهَ سپينو خولو کښ گل کښېناست

څو دِ دولت شته هونبره عزت شته
څو دِ صحت شته هونبره راحت شته
چه پيري راشيِ دواړه په مخ وړي
که دِ دولت شته که دِ صحت شته

هر څوک چه کار کا بې مصلحته
هيڅ به و نه خوري بر له دولته
که بخت ئې هر څو کا رُونه ساز کا
خالي به نه وِي له ندامته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه کار ئې بیا ئي فلک په کښته
چاري به کاندِي بې مصلحته
کجیر که ځیر دئ چه بې تدبیر دَئ
په خزه بند شي له دې شامته

مهر په زړه کښ ځما دَ یار نشته
ځما په زړه کښ صبر قرار نشته
نه ښوک غمخور لرم نه زر نه زور لرم
و چا ته دم وهم ځاي د گفتار نشته

ژبه مي نه دَري بې نصیحته
وایم دَ عمر له حلاوته
اول ځواني دَه بیا تندرستي دَه
بیا ئې خوبي دَه له ښه دولته

چه مستغني وِي له نصیحته
هغه به نه وِي بې قباحته
یا به احمق وِي یا به بد ذات وِي
یا به محروم وِي له ښه دولته

چا ته به زار وایم چه مي زاردار نشته
غم مي به ښوک اخلي چه غمگسار نشته
کیمیا به بیا مومي وفا به نه مومي
هزار یاران لَرم یَو وفادار نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه باز دِ ولاړ شي چېري له دسته
په غره په سمه کړي ورپسي مرسته
هنر هم هسي يَو ياغي باز دَي
طلب ئې نه کړي په همت پسته

تبراه مي وَغوښت رسم مي وکوت
رنځ مي دَ دواړو ځايونو ولوت
يم دئ که غم دَئ په برمل مول کښ
په گرَوَلو مي پوستکي وخوت

کامل چه وگوري و کائنات ته
نظر ئې وشي و هر ذرات ته
په هر ذرات کښ هستي دَ حق ويني
دليل ئې وَروَلِي دَ حق و دات ته

پرهار په دَه باندِي که دَ سوزن نشته
عاشق شهيد دَئ په دا کښ ظن نشته
دَ شهيدانو جنازه بويه
دَ شهيدانو غسل کفن نشته

غم دَئ که غر دَئ را باندِي پرېووت
که سري لمبې دِي زړه مي پرې کښېووت
را باندي تل تل دَ غم تاختونه دي
زبون ئې بيا موندم خورا پسې ووت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ث

درته پښتو وايم صافه سليسه
بهره که واخلې له دې حديثه
ذات ئې خبيث دَئ هندکي هر گز مکړه
چه ترې پيدا نشي يو ځو خبيثه

## ج

که مي په سر شې د ميني تاجه
نور مي به خلاص کړې دَ غم له باجه
بېدرد دَ تا دَ قدر خبر نه دئ
ما ته را درومه دَ عشق تاراجه

ښځه چه ورشِي تر چل و پنجه
خوبي ئې ولاړه مار دَه بې گنجه
که ځان ترې مومې ترې په ستنه اوسه
خلاص ئې له رنج شه خلاص ئې تر گنجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خ

اې چه دِ نول دَئ ځما له مخه
دَ رقيبانو په بده رخه
په عشق کښې مرد اوسه پروا ئې مکړه
زه به دِ نه کړم دَ چا په سخه

خلق په ما کا کينه هم رخه
که خداې مي نکا دَ چا په سخه
بېل شوم له ياره ژوندَي لا پايم
ځو ډېر شرمېږم دَ يار له مخه

# د

زمانه اور ده ته لکه سپانده
که نن و نه سوې په اور کښې گانده
هم به لوگي شې هم به ايرې شې
که ژاړې ژاړه که خاندې خانده

باران چه وشي په پټي باندي
هاله تازه شي خوبيِ کاندي
زړه مي پټي دَي باران دِ مهر
پرې تازه کېږم ځو راته کاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي څه څيز دئ چه څه به کاندي
خالي تش نوم دَئ اختيار پرې باندي
که بادشاهان دِي که لوي خانان دِي
زور ئې هيڅ نه دَئ دَ قضا په وړاندي

تږي چه سخت وِي ساعت پرې باندي
خوږې اوبه ورشي سړې ورباندي
وخت دَ اهاړ وي ته راته ووايه
چه څو خوښي به حاصله کاندي

اوښ مي تيار دَئ کجاوه باندي
ياران مي لاړل واړه دَ وړاندي
دايم روان يم ورپسي درمم
جرس فرياد کا خبر را کاندي

و ما ته څو ستايې شيخه نابوده
دَ جنت حوري نور نور مقصوده
نن به ګلرنګه معشوقه ګورم
ځما توبه ده له نسيه سوده

که هر څو دودي درازي بلېږدي
په مرګ به واړه په مځکه کښېږدي
حاصل دَ عمر خو دا دوه توکه دِي
چه وړاندي وروستو دَ وروستو پرېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرد دَ میدان دَئ ښځه دَ کټ دَه
نه دا خبره دَ غش دَ وټ ده
دَ اوښ بارونه په تا څوک نه لېږدي
مردي که ګورې په څه خومټ ده

هم مي خیالونه هم مي ښیوه زده
هم مي په عشق کښې دراز پرده زده
چه یار مي نشته دا واړه هیڅ دِي
که یار مي وشي یاري مي ښه زده

چه ګل دَ باغ کا خندا بنیاده
بلبلي ژاړي په ډېر فریاده
څوک په خندا کرې څوک په ژړا کړې
دا چاري ستا دِئ دَ صبا باده

واوره دوه پنده ځما فرزنده
طمع حرص لَري خواري څرګنده
دولت دَ صبر دَ قناعت دَئ
همای چه خلاص دَئ له هره بنده

که ئې دَ خضر پیاله خوړلې ده
دانا هستي د ژوندون ژړلې ده
هر چه کمال لَري هغه زوال لري
هستي نیستي ئې سره تړلې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرگان بې وخته بانگونه کاندي
بیا څه بلا دي باندي هړاندي
زه ئې بې وخته له یاره بېل کړم
چاړه ئې سازه شه په ستوني باندي

هوا هوس کړې په قهقه خاندي
بې غمه خوب کړې پالنگ در لاندي
ښه مبارک شه ښادي درباندي
غمونه نلرې د گور دَ وړاندي

په کوه قاف کښې که رهبر دَوړاندي
که درومي نه به وي سختي درباندي
که بې رهبره په سم میدان درومې
څو څو بلا به شي په تا هړاندي

قافلې ولاړې تر ما دوړاندي
زه کوډ بارگیر یم کتَه را باندي
ورپسي درومم سَرَه ښوربېرم
پرېوزم څارشکي بازي را کاندي

چه زغلَونه دَ آسونو کاندي
نظر د کوز لري په مځکه باندي
چه آَس په لوړو ژوروو زغلي
آس ئې پرېوزي تر ځان د لاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چه خبر شي دَ خط له خونده
قلم به نږدي په حرف بې بنده
شماره دَ نورو حرفونو څو کړم
چه یَو الف دَي په درې پیونده

زمانه اور ده اې نا نغتانده
ته وچ لرګي ئې نه لښته تانده
دا اور به تا وته په منډه درشي
که ژاړې ژاړه که خاندې خانده

ته دا وینا کړه له ما نه یاده
بهره آخله دَ بهار له باده
لکه دا باد ئې په واړو ونو کا
هسي به ستا کا درونه ښاده

وږي چه نغن مومي شکر دِ کاندي
غوړي که نه مومي پاسه ورباندي
سترِي دِ شکر کا که آس ئې نه وي
په لار کَه خر ویني تر څان دَ لاندي

چه سختي چاري لَرِي دَ وړاندی
په څو بې غمه په قهقه خاندي
هسي په زړه کښ فکرونه کړې
چه هونبره څوک دئ تر خاورو لاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ئې تر سپینو تر سرو کړه لاندي
دا واړه هیڅ دئ په بدرنګه باندي
که ئې دَ پوزي لونګ هم نه وي
ښه مخ بې پسوله زېبائي کاندي

دنیا هسي وبله بلېږدي
چه څه ترې آخلې وربانډِي رېږدي
خبر لا نه يې په دا خبره
نامرده واروه چه کښېږدې پرېږدي

هغه چه عار کړي دَ خوشحال له پنده
بلا پرې ورو شه اسمان څرګنده
ورته زرګونه بلا خولې واز کا
سړي چه ووزِي دَ نېکخواه له پنده

په جنګ کښ مټ کړه تر بل دَوړاندي
نور به خبري در ځني کاندي
ژوندَي که پاتو شې ځان دِ عزیز کړ
که ومړې ومړې رحمت در باندي

خزان وهلې دله ناښاده
غافل مي مشه له دې ارشاده
وخت دَ بهار شو بیا به ارمان کړې
بهره نن آخله دَ بهار له باده

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاشقَ خانده نن څو چه خاندي
ښه مخ تر تا شو لاندِي ته باندي
طالع كه هر كله هسي مدد كا
تل تل به هسي تر ما شي لاندي

تل كه ښېگړه له آدم زاده
نه ښه كه وكړې څه كمي زياده
درته به خير شي په سل بدئِ
هيڅ به دِ نكا ښېگړه ياده

زركي چه هسي په قهقه خاندي
هم دا خندا دِ كا دَ باز دَوړاندي
هر څوک چه خاندي ښادئ كاندي
غمونه ورشي پر هغو باندي

خلق چه هونبره يارئِ كاندي
ځان كا پخپله تر غمونو لاندي
مرگ ئې له ډېرو غمونو خلاص كا
منت دَ مرگ دَئ په هر چا باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډ

لؤلؤ دِ غاښ دي ياقوت دِ شونډي
د ډير خوني ور پسي ډونډي
چه تا څوک ويني په تا مَيَن نشِي
په زړه دانه دئ يا سختي پونډي

هونبره بلا دي و تا ته پنډي
چه شمار ئې نشته پټي برمنډي
گوره په کومه بلا به سر شې
چه پکښ ته گرزې په منډي منډي

# ر

دَ حسن نام لرې عاشق غلام لرې
باده په جام لرې دَ زړه هر کام لرې
خيال به ته نه کړې خيال به نور څوک کا
چه دَ خوبيِ اسباب تمام لرې

دهن دِ ميم دئ زلفيني دام لرې
ذقن دِ سيم دئ سترگي بادام لرې
خيال به ته نه کړې خيال به نور څوک کا
چه په دا دَورِ دَ حسن نام لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تن يَو غلاف دَئ زړه پکښې توره
دَ تور دَ سپين نده وينا منظوره
مدار په توره دي په غلاف نده
چار ئې په هر چا ده مشهوره

په زلفو کفر په مخ اسلام لرې
دَ سترګو سحر په زړونو عام لرې
خيال به ته نه کړې خيال به نور څوک کا
چه نن څه ځان ګڼې هغه غلام لرې

که ځاي دَ امن خوراک پوشاک لرې
شکر وَکاږه نور څه بلغاک لرې
مېږ په طاعت کړه خلوت ګزين اوسه
خضر دَ وخت يې که نفس هلاک لرې

که خپسر خوار کړې تر تورې خاورې
په هر چا سوړ شې تر سرې واورې
جفا دَ خلقو په مخ په شا وړې
رنګ رنګ ګلونه به له تنه راوړې

ارمان دي درېغه دا يو څو کاره
تل تل به نه وِي تازه بهاره
تل تل به وار دَ ځوانۍ نه وي
تل تل به نه مومې مهر له ياره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوز باز چه وَوني دَ جال کوتره
پروا ئې نه وِي له خپله سره
لګړ که هر څو غوټه تېره لري
نه برابره بيا لَره بره

خبر چه نه وِي دَ عشق له کاره
په هغه کس وِي ياري دشواره
بې يارَه عمر څه عمر نه دَئ
ژر دِ په ګور شي سړی بې ياره

په ما څه کار لرې درومه هوښياره
زه ليوني يم مينه شُد ياره
نه څوک اديب لرم نه څوک طبيب لرم
درد مي له ياره دَئ دارو له ياره

ګل دَ ګلابو شوې چه رنګ و بوي لرې
شيدا بلبله په هر هر سوي لرې
دريغه دا کار دِ په ذات کښې نه وي
وفا دِ نشته دا خوي بد خوي لرې

په ځان خبر شه چه چرته ځاي لرې
چه تخت نشين يې څه هوي و هاي لرې
ځاي دِ په پورته تر ملکوت دئ
چه ناسوتي شوې خوي دَ ګداي لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هونبره بدلي هونبره سندري
تمامي نه شوې دَ عشق خبري
فهم مي وکړ دَ عشق په کار کښې
ليرِي نيژدې دِئ نيژدې دِئ ليري

څوک چه ياديږي په نيژدې ليري
تر هر چا ښه دِي دَ يار خبري
ځني خبري لکه مشکې دِي
ځني خبري دِي مرغلري

که ريگ ماهي خورې که مږه پاره خورې
ځواني چه لاړه دا آواره خورې
ځواني چه لاړه هوښيار هيڅ نه يې
غم دَ ځوانۍ چه دوباره خورې

توري زلفيني په مخ شان شان لرې
اوربل په وچولي پريشان پريشان لرې
دَ نورو کوډو حاجت هيڅ نشته
دَ سترگو سحر جهان جهان لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر گوره ښه يې دَ زرگر هنره
چه سپين جدا کړې له سيم و زره
تر دا دَ پاسه کبوتر باز دَي
دَ ښځي ها[١] کا جدا له نره

تور غرُونه سپين کرې په سپيني واوري
په سبزه شنې کړې دا توري خاوري
رنگ رنگ گلونه چمن ته ورکړې
باده! دا ته يې چه دا څه راوړې

چه را ښکاره شِي څو څو طوره
څو څو فتنې لري څو هورَ زوره
بل فکر مکړه بل گمان مه وړه
فرياد مي واړه دي دَ يار له جوره

که قايم الليل يې که صائم الدهر
غم به لا ډېر کړې دَ خداي دَ قهر
دَ مخلصانو خطر لا ډېر دئ
سړی شکري خوري پکښ وي زهر

باغ وُني وچي لري هم تري
هم ئې بهتر شته هم ئې کهتري

---

١. يعني دَ ښځي هگۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سایه کوزي په میوه ډکي
ته هغه وُني گڼه بهتري

راشه ښیگڼه دَ وُني گوره
خپل ځان په نمر کا بل کا تر سیوره
په سنگ ئې وَوله مېوه در واچَوِي
خصلت له وُني واخله اې وروره

که تل تل نومړي په خوله شکرِي
خوند به ورنکا په دا خبري
مزه به هاله دَ شکرو بیا مومي
چه خوله پر وُوهي چه ئې ونغري

ته یَو طلسم یې بې اعتباره
له خاورو باده له ابه نازه
اول هم هیڅ وې بیا هم هیڅ شې
په ځان خبر شه دَ خداي دَپاره

لکه مي غوښته هغه نگاره
غاړه غړیَ دَه را سَرَه یاره
په سخ مي مکړه دَ رقیبانو
دعا مي دا ده پروردگاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیرام یم پاکَ پروردگاره
تا چه پیدا کړل دا دواړه داره
محتاج هیڅ نه یې دَ څه دپاره
دا هونبره نقش هونبره نگاره

که ئې وفا درلي ښې دِي دلبري
ولي هیڅ نه دِي پدا خبري
دَ تورو زلفو دَ مهر بوي نشته
که په نمود دِي لکه عنبري

که لعل و دُر دِي دَ خوشحال خبري
چه ته ئې نه منې له تا دِي لیري
بخري دَ هر چا جدا جدا دِي
کارگان گندگي خوري طوطیان شکري

له لاري مه غړیږه خوځه په لاري
که پرېوزې پاڅه خوجه په لاري
بې لاري واړه غولان ددان دئ
غولان دَدان نشته خوځه په لاري

تل دَ کمزوري وِي دا یو څو کاره
مکر دروغ کا په څو انگاري
ښځه کمزوره ده ځکه انکار کا
پدا سبب دَه هونبره مکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خوله خبري له کردگاره
په زړه خبري له کښت و کاره
فریاد فریاد دَي په هسي زیست کښ
توبه توبه دَه له هسي کاره

چه ښه مردان دِي دَ دین دَ لاري
پټې به نه وي دَ دیو چاري
اوبه چه نه وي روا په شرع
هغه اوبه به ګڼې مرداري

دَ مور په نس کښ فرښتې اې یاره
د سړي وکښي دا یو څو کاره
زرق او فعلونه، عمر ښه، بدبخت
دا وسوسې دِي دَ څه دپاره

که زر هنره په هر وېښته لرې
بیا به په کار کښ توکل ته لرې
خوشحاله یَو نشته چه زړه پرې ښه کړې
نن ورځ که زویه نمسي شپېته لرې

که چار دَ عقل لرې بسیاره
چارپاي به نه کړې ګویا هوښیاره
ته خاموشي زده کړه له چارپایانو
چه خاموشي لري فائده تیاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پور که دَ مړي دئ تښته له پوره
اور که لوګي دَئ تښته له اوره
دښمن که سهل زحمت که لږ دئ
بې غم ترې مه اوسه اې ځما وروره

دَ مار که نه وِي په تن کښې زهر
سردار که نه لَري خنجر دَ قهر
دا دواړه توکه به ځما په پوهه
نه ياد په کلي وِي نه ياد په ښهر

دَ بابا زويه دَ بابا پلاره
په زلفو ليلَ په مخ نهاره
يوسف که هر څو ښايسته روغ وُ
ګويا سمن وُ ستا له ګلزاره

بې عيبه يار نشته په ملک هوښياره
په عيب مکړه زړه بد له ياره
که ګرزې واړه باغونه وګورې
ګل به بيا نه مومې خالي له خاره

په زړه مي هونبره نه دِي انباري
چه ئې قلم کا په کاغذ نګاري
يا بيانيږي ځما په ژبه
يا ئې قاصد کا درته تکراري

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي چه کښېني تر سَړه سيوري
غارمه پرې تېروي که ته ئې ګورې
رضا ئې نشِي و پاڅېدو ته
که ئې لمبه کړې په لمن پورې

ثنا صفت کا عالم له ميوره
نقش و نګار لَرې په څو طوره
نظر چه وکا و خپلو پښو ته
زړه ئې اخته شي په ډېر ډېر ځوره

خوشحاله څو به غمونه نغرې
غم به دِ کله شي له دله ليرې
سترګي مي وختې دَ آسمان و پېر ته
که چېرې وار راشي هاله خبرې

څوک دَئ چه واوړي له بده کاره
څو ئې وا نه ړوِي پروردګاره
توبه هاله ښه دَه له توبه ګاره
چه ته ئې ټينګ کړې پروردګاره

دَ هوښيارانو خوږې خبري
قند دئ نبات دئ شهد و شکري
نادان په مثل غل خواره خر دئ
دَ خوږو خوند دَئ ور ځني ليرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل بند و بست دَئ دَ هري چاري
پاکي مشکوکي شته اوبه مرداري
پاکي اوبه بويه زيست او روزگار لره
مرداري کله دِي سزاواري

هر څوک چه لاف وهي دَ عشق له کاره
عاشقي چېري دَه لا هسي خواره
په مړو ايرو کښې بڅري چېري وي
عاشقان مړه دِي دَ يار دَپاره

شراب خوښي لري په څښل بسياره
خوښي ئې نه وي بيا بې خماره
هر چه دولت لري نکبت دِ ياد لري
غره دِ نشي په ځانَ يکباره

چه يادَولي شِي گذشته چاري
فائده نشته شته څه خوباري
کنُدي څوک پند واخلي ځاي دَ حذر دئ
غلط نور نه درومي په غلط لاري

منت دَ چا مه وړه دَ يوې توري
شونډي کښې مړده په غوړي سپوري
نور څوک لا پرېږده که زويه ورور وي
اور کړه دَ ديو په خپلوي پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسمان پېرې لري څما پسره
مه ډېر غافل شه مه ډېر بې سره
په غم کښ طمعَ دَ ښادمانئ کړه
په ښادماني کښ له غمه وَيره

کال دَ غفج[١] وُ په خيبر کښ هوري
مغل بندي شوې هم کُنډي بوري
همند شنواري څو آفريدي وُ
واړو وهلې دَ يادو توري

چه بادشاهانو ته واخلي توري
دَ دُوي خبري شِي په ملک مشهوري
که بيا باور کا په بادشاهانو
هغه به ميَندِي په ځان کا بوري

ښځي مي وليدې ډېري بې شماري
پاکي نېکزني بدِي بد کاري
چه نکا نکا چه کا خو وکا
دَ مرد په غيرږ کښ ناپاکي چاري

په لاس چه واخلي مرداري چاري
نوم شي دَ ښځي دَ زنا کاري

---

١. ١٠٨٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نه ئې مرگ وِي نه ئې طلاق وِي
په مرد ئې بند شِي دَ جنت لاري

زويه بدبخت شي پدا دوه کاره
عاصي له خدايه عاصي له پلاره
بدبخت چه کښېني په گلستان کښ
گل به ئې نشي نصيب بې خاره

هغه مفلس يې که څه غنا لري
که څه غنا لري ولي عنا لري
که حق دَ چاري يا دَ اشنا لري
ورځني ولي ځان نا آشنا لري

په چا چه وشِي دَ هماي سيوره
دولت ور درومي له هَره لوره
مهر دَ خاصو دَ هماي سيوري دئ
په چا به وشِي دا سيوره گوره

کاته دَ سترگو دَ خولې خبري
و چرته تلنه نيژدې يا ليري
دا چاري واړه په لاس دَ زره دِئ
بادشاه ئې زړه دئ وجود لښکري

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې قدره نه دِي د راز خبري
دَ راز خبري دِي مرغلري
ځاي ئې دَننه دَ زړه صندوق دئ
ور به ئې نه کړې همدم ته ليري

دا سحرگره دنيا مکاره
زويه وېزار کا له موره پلاره
چه ئې له موره پلاره ويزار کا
هسي دا هم شي ځني وېزاره

پاکان به درومي په پاکي لاري
ناپاک به کاندي ناپاکي چاري
چه سترگي نه لري ورته به څه ښيم
دَ هر هر باغ دي مېوې تياري

چه را ښکاره شوې دَ دنيا چاري
فکر مي لاړ شي په لاري لاري
فکر مي ستړي په بيارته راشي
دَ وړاندي راشي لاري حصاري

خلق چه غواړي لوړي ژوري
له ما نه مه غواړه ته دا خبري
په پټي سترگي به ننداري کړم
چه راته يو دئ نيژدې هم ليري

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ډېر نمونځونه روژه تل تل لرې
هغه به مومي قسمت چه خپل لرې
که دوږخي ئې دوږخ به مومې
که جنتي ئې څه غم دَ دل لرې

سخ دِ په کور دَئ چه دا څو چاري
لرې په کور کښې ښې ښې نګاري
ښه ښه ځایونه ښه ښه بویونه
حمام په عطر و جامې بویداري

چه ښه زوولي وي له موره پلاره
ښه تنسته لري سپینه چوتاره
که باندي خیري یا ټکي پرېوزي
پاکیزګي دَه ورته تیاره

ځار تر هوښیار شم دَ هوښیار خبري
دروغ رښتیا ئې دِي واړه شکري
دَ نادانانو رښتیا څه سود لري
چه ئې خبري دِي له خیره لیري

ارمان دَئ دریغه ځما ګلزاره
عنچه ریژېږي اوس له شاخساره
مځکي "طاهر" مي در لَره درغي
بدرنګ ئې مه کړه دَ خداي دَپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ احمقانو بې ځايه چاري
څه هونبره نه دِي چه ته ئې شماري
ښېګړه دا ده چه رنګ ئې مه ګوره
ورسَرَه مېږده قدم په لاري

نن په نظر راغله يوه وزيره
ښه ترتيبت وه هم تر کشميره
زلفي ئې ښې وې دَ تيبت تر مښکو
په تورو سترګو وه دَ کشمير ميره

څوک چه مرور شي له پيره ميره
خالي به نه وي له غمه ويره
زړونه چه زړونه دئ لکه ماران دئ
زهر و مُهره لري په ځان خبيره

هندکي تور سکاڼ دِئ له موره پلاره
پښتانه واړه سره سپين اې ياره
تاثير که تخم آب و هوا لري
ته واړه وګڼه له کردګاره

نافې دَ مښکو دِئ دَ دانا خبري
څو ئې پرانِزې نګهت ئې نغري
دَ نادانو خبري هوړي دي
دَ مښکو بوي شي په هوړو ليري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین دئ که دل دئ که عقل صبر
له ما ئې یووړل واړه په جبر
اوس راته پاتو دا یو نفس دئ
دا به هم یوسي بچي دَ گبر

شته ستا خبري پنډ پنډ شکري
پنډ پنډ شکري شته ستا خبري
په هر سپي نغري په څو شکري
په څو شکري په هر سپي نغري

ځما توبه دَه له نادان یاره
چه ئې یاري ده میرڅي تیاره
دی به دِ ښه غواړي تا ته به بد شي
غم به پیدا شي دَ ده له پیاره[1]

پیريِ رانیول له ما څو کاره
ولاړم دَ غشي دَ توپک له ښکاره
چه مهر مینه یاري ترې غواړم
را پوري خاندِي ځوانه نگاره

خواږه دَ مهر وي خواږه دَ زهر
وریځ دَ رحم وي وریځ دَ قهر

۱. دا کلمه هندي ده یعني مینه او محبت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځني وريځي واوري اوبه وي
ځني ږلۍِ تندري دَ دهر

وفا به نه مومې له هره یاره
یارۍ مکړه له چا هوښیاره
دَ اوس یارۍ دَ وښو خوني دِي
وا ورته خونه دَ وښو تیاره

واړه فاني دِي دَ دنیا چاري
په ځاي تل نه وي سَرَه قراري
چه زړه ئې وتاړه باندي یکلخته
دَ هغو سړیو دِي بخري خواري

توري زلفیني لکه سنبل لرې
خوبي دَ حسن زیاتي تر گل لرې
چه د سړیو په زړونو گرزې
ته هغه هونبره زیبائي کُل لرې

ښې دي تر مښکو دَ وطن خاوري
تودې اوبه دِي دَ وطن واوري
زړه تا خسړي دَ لوي دریاب کړم
اوس به په کومو موجونو ما وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ گل تر پاڼيو نازک اندام لرې
شيرين تر قندو دَ خولې دشنام لرې
خيال به ته نه کړې نور به ئې څوک کا
چه پخپل حسن دماغ مدام لرې

هوښيار چه واروي دَ پند خبري
ورباندِي لگي لکه شکري
نادان دَ خرونو په شمار حساب دي
دَ پند شکري په خورنو نغري

زړه چه روان شې په لاري لاري
فايده ئې وايه و ما ته باري
څو پسي درومې اندوه به مومې
ټولي به نه کړې پريشاني چاري

چه راته غوټه دَ ورځيو ميان لرې
په زړه دِ څه دئ بيا کوم گمان لرې
ناحق دَ بدو گمان ښه ندي
کافره نه يې ته هم ايمان لرې

په چا نه پسندې گراني دشواري
په تا به نه درځي دشوارِي چاري
په خدايږو واړه جزا سزا لري
تر پښو که لاندِي کړې مېږي په لاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاري له بده بد خویه یاره
شلوې ښه دَه په څو اعتباره
که ښایسته وي جور و جفا ئې وړه
ګلونه کله وِي دَ باغ بې خاره

په روم په شام شي دَ لیلي خبري
په هند په سند شي دَ مجنون سندري
عشق مي په مثل نافه د مښک شو
چه بوي ئې خپور شي په نیژدې په لیري

که چیري ووینې عیب له یاره
ښکاره ئې مکړه دَ خداي دَپاره
عیب پوښي ښه ده که عیب جوئي ښه ده
فکر دَ دواړو وکړه هوښیاره

په حق ولاړ اوسه اې ناصبوره
صبر کړه صبر دَ صبر توره
چه څوک پلاس کا ما امتحان وکړ
فتح دایم دَه ورته حضوره

چه پاک زوولي دِي له موره پلاره
ناپاک ئې مکړه پروردګاره
دین و دنیا لره پاکي پکار ده
ناپاک به خوار وِي په دواړه داره

(c) ketabton.com: The Digital Library



درویشي دا ده که تل حلال خوري
که تل حلال خوري بیا دَ خپل مال خوري
کښېنې وعدې کړې مخ دِ خداي تور کړه
پردي مالونه پدا تېټال خوري

عاشق وېزار دئ له موره پلاره
پروا ئې نه شي له نوره ناره
و ځان ته شا کا تر ایمان تیر شِي
کفر قبول کا دَ یار دَپاره

ښه ئې پسندلي عقل تميز لرې
څو وايې هونبره هنر هر څيز لرې
موسيٰ دَ خضر په پیروي ته
دَ دې خبري خبر که نيز لرې

که زور د فیل لرې زړه دَ ضیغم لري
له تا چه غم لري ځني به غم لري
علاج ئې وکړه له پسه خوب کړه
په خپله خونه کښ چه مار لړم لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړ

ته ولاړې درنګ ته خپل ځاي دِ درنګ کړ
په درنګ دِ ولي دا هونبره درنګ کړ
ستا په فراق کښ لکه نارنج شوم
غم دِ هم چیري ځما دَرنګ کړ

چه عیب نه لرِي که هسي یار غواړي
دا هسي یار به په کوم دَیار غواړي
بې عیبه یار به چیري بیا نه مومې
که ګرزې ګرزې جهان بسیار غواړې

خدایه چه پاک دِي ناپاک ئې مکړه
دَ ناپاکانو صابون توبه کړه
چه په مخ روښي و ګور ته درومي
کرم دِ ډېر دَئ ما هم هغه کړه

چه آئینې ته ښکاره دیدار کړې
آئیه درسته سَرَه ګلزار کړې
چه شونډِي کښېږدې دَ جام په مورګو
اُوبه په جام کښ رُبِ انار کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور که بڅري وِي ځني به وېره کړي
غلیم که څړي وِي ځني به وېره کړي
نور نور رنځونه به و تا ته څه وایم
ښځي که خري وي ځني به وېره کړي

دَ هر سړي سَرَه چه آشنائي کړي
نه چه په طمعَ ترې روښنائي کړي
دَ آشنائيِ سَرَه غمونه دي
ځان به ترې ژغورې که دانائيِ کړي

پلار ئې په بند کړ ورور ئې بند بند کړ
ځان ئې هم شيخ کړ هم دانشمند کړ
اوس په غزا کښې خبل ځان غازي بولي
په څو څو رنګه ئې خپل ځان څرګند کړ

چه هونبره قهر دَ ګوتو مروړ کړي
په دا پوهېږم زړه به را سوړ کړي
چه اوس دِ نوي په لاس نيولي دئ
بې بخته نه يې که دا کبر زور کړي

نادان په خپله دَ ځان غم ډير کړ
نابودي پوهي سَرَه تېر بېر کړ
هغه چه هېر بويه هغه ئې ياد دي
هغه چه ياد بويه هغه ئې هېر کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپله یاره چه بد گوئي کړي
دَ اغیارانو چه دلجوئي کړي
حق شته انصاف شته عذاب ثواب شته
ولي دا هسي ناپېرجوئي کړي

له تا چه وېره کا ځني به وېره کړ
یا به ئې وېره له زړه بدره کړ
که ئې دَ وېري علاج در ونشي
مڼ کړه چه زر ئې مهم تر سره کړ

تعلیم دَ زاغ و زغن که ډېر وکړي
ښکاره به پرې کله دَ باز په څېر وکړي
دَ ترخې اوسپني توره کړه سازه
غزا به کله په هغه شمشېر وکړي

عزت په دا کښ چه هیڅ دروغ نکړي
دَ چا له غوړه خوانَ آروغ نکړي
که زړه دَ یار ساتې دَ یار په راي درومه
خپل زړه چه بد نکړې بل زړه به روغ نکړي

مرد یې که هیچېري وېره ه چا نکړي
طمع له چا نکړې غم دَ دنیا نکړي
که لوي منصب لرې خاص د بادشاه وي
له میره پیره به خوف او رجا نکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربَ و ما ته دولت اقبال راکړ
په لون لون دَ دنيا مال را کړ
حرام که شبه دَ کار دَپاره
چه مي تر ستوني ځيِ هغه حلال راکړ

غافل خوږ عمر په ځان کندهېر کړ
اميد ئې لږ شو حسرت ئې ډېر کړ
نه ئې څه ورکړل نه ئې څه واخيستل
عمر ئې هسِي حبطه تېر کړ

په مار چه وار جوړ کړي که گذار پرې نکړي
خپل زړه خو وَپوښته چه زړه دا څه کړي
که غول توب دئ که ښاغل توب دئ
خود په زړه کښ نداره وکړي

خپل ځان ئې روغ کړ يار ئې بيمار کړ
يو څه ښه يار دَئ خوشحال چه يار کړ
لا يو ناترس دَئ يا ئې ياري نه زده
يا ئې پکار نه دئ تر ځان ئې ځار کړ

زويو مي خوي دَ ختکو نور کړ
ځما په نقش ئې پوري سور اور کړ
وخت دَ گټنِي دَ نام و ننگ وُ
بدُو زامنو را څخه خپور کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څوک دِ وښکنځي غیرت پیدا نکړي
دَ ده و سر ته توره تر ملا نکړي
نه حمیت لري نه شرم ننگ لري
مردِي دِ نشته غیرت پدا نکړي

له دې دنیا نه به آخر سفر وکړي
پاتو به نشي که ډېر هنر وکړي
عمل دَ نېکو دَ وړاندې واستوه
ښه نام دلې پرېږده که هونبره چر وکړي

وخت دَ بهار دَئ خوشحاله څه کړي
ولې گلگشت دَ گلونو نه کړي
سترگې مي تتي شوې گل ته به څه گورم
پیريِ چاري را باندي وکړي

ما چه دا هسي در پسي ځان کړ
دَ دنیا کور مي در پسي وران کړ
د زړه په حال مي واړه پوهېږې
که ډېر هوښیار ئې ځان دِ نادان کړ

یو موټې خاوري وِي هونبره دماغ ورکړي
ننه په زړه کښې دَ عقل څراغ ورکړي
دَ ملک دَ بندو دَ بست خبري
فکر دَ کښت و دَ کر دَ باغ ورکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحاله څو به فکر تدبیر کړې
غم به دِ ورک شي دا کار که ځیر کړې
چه نیَکي بدي درته رسېږي
که حواله ئې ته په تقدیر کړې

ځواني چه ولاړه ور سره ولاړې
ډېري خوبئ که ژاړې ژاړې
بیا به په بیارته ځواني را نه شي
که ئې له پیره له طبیبه غواړې

چه چا ته ورکړې بیا ئې پرې زباد کړې
خپل ورکړه گوره واړه برباد کړې
که توره ما ته کړې په جنگ کښ هیڅ یې
کار دَ مړاني چه چا ته یاد کړې

درخو هوښیاره وه ځان ئې نادان کړ
نوم ئې بد اصل دَ آدم خان کړ
تل ئې د مور او دَ پلار پیغور تاړه
په زړه مَیَنه کار ئې دا شان کړ

دم واهه نشي دا چه خدائي کړې
څوک فرعوني کړې څوک موسائي کړې
چه دواړه توکه دِ یو رنگ پیدا نکړل
کبریا ئې کړې که دانائي کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ډکي خوني وې چه مرګي لوټ کړې
څو خلقې ئې سَرَه کوټ کوټ کړې
مرګ یو تریخ جام دَي درته نیولي
څو به ترې خوله نیسې دا جام به ګوټ کړې

اې چه له ما نه علم مکتب غواړې
دود دَ عجم غواړې دود دَ عرب غواړې
روغ یې که روغ نه یې راته ووایه
له عاشقانو چه ته مذهب غواړې

خپل دِ پردي کړل پردِي به خپل نکړې
خصلت دِ بد شو خصلت به بل نکړې
غم دِ په بخره شو ښادي به تل نکړې
چه ناقابل یې ځان به قابل نکړې

چه کنګه پیغله شوې کبر دِ ډېر کړ
خصلت دِ واړه په بل بل پېر کړ
چه سپینه خوله دِ ورته نومړې وه
هغه دِ ولي له دِله هېر کړ

اې چه یاري کړې په څو څو غاړي
په تله ورکړې په خروار غواړي
یار دِ دَ خپله لاسه په ګور کړ
بیا ئې په هاي هاي په ورت ژاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زه دِ ژاړم چه ته مي نه ژاړې
که زه دِ غواړم چه ته مي نه غواړې
کوښښ به واړه ځما برباد شِي
ما به دَ غم په مزريو وداړې

مخ دي له ورايه راته عيان کړ
اور دِ راپوري په خانمان کړ
نظر دِ هورې په بل بل شان کړ
آشنا مي نه گڼې ځان دِ نادان کړ

څو به دِ تل وِي دا اوړي پاوړي
چه دِ په زړه وي په خوله ئې راوړي
څو ئې ونخوري کله به آوړي
چه بلا غواړي په بلا واوړي

په درسته ورځه چه تلاتوب کړي
دَ دنيا چارِي په څه آشوب کړي
خوشحاله پاڅه دا سړي توب کړې؟
چه چرگ به ويښ وِي ته به لا خوب کړې

چه خيال مکېز کړي هونبره خونرېز کړي
چه خپل عاشق سرَه خيال و مکېز کړي
رانجه چه پوري کړي په برندو سترگو
خنجر دَ جنگ او دَ فتنې تيز کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوار زړه مي واخيست په تا مي باندي کړ
تر ډېرُو ډېرُو اندېښنو مي لاندِي باندي کړ
سترګي د باز دئ زړه مي تمځري دئ
خلاصي ئې نشته اوس ئې دَ وړاندي کړ

خدايه دردمن کړې بې دردان واړه
چه واړه ژاړي د ما په غاړه
خوشحاله ملک دَ بې دردُو ډک شو
دردمن په نورُو ملکونو غواړه

# ز

چا ته چه شاه کېنِي شاه کښ پرېوزي
بلا چه غواړي په بلا کښېوزي
په څو به روغ اوسې دا فکر ښه وکړه
په پړانګ پرهار وکړې بيا ور پسېوزي

دَ چا چه ډک وِي زړګي له رازه
که په وَيل ئې نکا خوله وازه
يا ئې له خولې نه څه بوي روان شي
يا به ئې رنګ وِي دَ مخ غمازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په یجوز لا یجوز پسېوزې
واړه کوهي دي پکښې به پرېوزې
راشه په دین دَ قلندرانو شه
چه بې وسوسه په هر څه کښېوزې

درته به وایم دا دوه رمزه
که پوه پرې نشې لېمه دِ ووزه
څو چه د خپل وي خپل به د بل وي
تر سیال به نه وړې خبره کوزه

تر غرونه پرېوزه تر زړونو پرې موزه
دَ سرو مزریو په ډکه کښې موزه
چه څوک ئې نه پسندي هر چا ته بد وي
په هغو هسې چارُو پسې موزه

په غرونو مه ځه تر غرونو پرې موزه
تر غرونو پرېوزې تر زړونو پرې موزه
زړونه څه واړه برابر نه دي
درومه تر زړونو دَ مړونو پرې موزه

سردار ته بویه دا یَو څو څیزه
چه مَړَني وِي ځما عزیزه
داد و دهش لري دین و دانش لري
نه بې رشتیا وِي نه بې تمیزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ږ

نيستي هستي دَه که ته پوهېږې
لوئي پستي دَه که ته پوهيږې
بده تر هر څه په دا جهان کښې
خود پرستي ده که ته پوهېږې

زرکِي دَ ښکار خورم بره دَ مېږي
دَ سرِو اُوبو يم دَ تَودې غېږي
تنگ لنډ مي مکړه پل دا څو توکه
بې نيازه خدايه که دعا مي نغوېږي

هوښيار ته گول شه که ډېر پوهېږې
څو خاموشي کړې نه به ستوهېږې
منگي چه ډک وِي کله آواز کا
څه ښه دليل دئ که پرې گروهېږې

## س

څو چه توانېږې هونبره نافع اوسه
تل تل دَ نيکو دَ خصلت واضع اوسه
سود ئې تر جود تر کرم دَ پاسه دَئ
دَ خداي دَپاره متواضع اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ته پادشاه بې دَ تخت دَ پاسه
خداي ته گداي شه خبر شناسه
عارف دَ ځان شه دوست دَ سجان شه
غیر فکرُونه له زړه وَباسه

زویه مي ډېر دِي واړه عزیز اوسه
په هَره چار کښې صاحب تمیز اوسه
خو یَو بهرام دَئ په خوي ناڅیز دئ
لکه ناڅیز دَئ هسي ناڅیز اوسه

په زړه دَ دواړو خلقو نیکخواه اوسه
هدایت کړُوني دَ هر گمراه اوسه
طمع له چا مکړه سخا په هر چا کړه
بې تخت و تاجه لکه بادشاه اوسه

خوي دَ خوشحال راوړه په زړه خوشحال اوسه
په زړه حلال اوسه په خوله حلال اوسه
مَیَن په شرم دښمن دَ مال اوسه
دَ نور چا مشه دَ ذوالجلال اوسه

که هر څو ډېره ده دنیا تر قیاسه
ځاي دَ دنیا کړه تر زړه دَ پاسه
زه به فتويٰ درکړم چه باک ئې نشته
دنیا سودمنه وِي وَ تا ته ناسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عدل و داد کښې په هر چا سم اوسه
وقار هم دا دَي په توره کښې کم اوسه
که ته په کبر دَ ځان لوئيِ غواړې
گيدي دَ وژلو يې يَو مار لَړم اوسه

طباح چه وَوزي تر يَو ځو لاسه
ورځني وخورِي دَ پاسه پاسه
پاتو خوراک ئې خوراک دَ سپيو دَئ
په دا خبر شه سخن شناسه

په شرم ننگ کښې دَ دنيا وَلاړ اوس
دَ دين پکار کښې له دنيا ولاړ اوس
په خپلو باغ شه رو رودبار شه
و بيگانه وُو ته سخت لکه گاړ اوسه

آسمان که نه کا خِسَت دَ پاسه
لکونه راشي دَ خوشحال تر لاسه
چه تار پتار ئې په خلق نه کا
ته دا خبره له زړه وباسه

دولت چه مومي دَ چا له لاسه
نکبت هم مومي له هغه ناسه
دي دِ په مثل پروردگار شه
بد کړې که نه يې ترې بې هراسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ش

اندېښنې مکړه ډېري درویشه
دنیا به نه مومې تر قسمت بېشه
شکر غني لَره صبر درویش لره
که کا هم دا دِ کا هر چه شِي پېښه

چه ئې لرزه وه په ملک له جیشه
زړه ئې ښادکام وُ له هره عیشه
گوره په گور کښ هغه شاهان دِي
چه بڼغ ئې نشِي دَ مرگ له طیشه

ما دَ دانا کړه دا وینا خوښه
ړانده دِ نه ځِي بې عصا کشه
طمع مرغونه په دام بندي کا
سړی خواریږي له خپله اشه

# ض

دَ ښو خبره دَه په هر چا فرض
درته به وکړم پوره دوه عرض
دَ بدخواه ومنِه د ښځو مه منه
له مرگ مه تښته تښته له قرضَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ق

و خداي ته خوار دي بهتر د خلق
له ځانه پرې کړه باور دَ خلق
که خپل دَ خداي يې په حقيقت کښې
مؤمن دَ خداي شه کافر دَ خلق

# ک

له زاغه زده کړه دا دوه درې توکه
يَو چه رزق نېږدي کانده ته دوکه
بل چه دُخول کا مخفي له خلقو
بل چه په تراه وِي له واړه لوکه

بارک مَيَن دئ په دا دوه توکه
په سپينه وازده په سپينه روکه
بولاق دَ وينځي په خوي خصلت دئ
ور لَره بويه لويه متروکه

که پند مي نغوږې مکړه دوه توکه
خواست دَ خسرې له خپله روکه
دروغ خبره په خوله را مه وړه
په کار و بار کښې له واړه لوکه

ځونبره د خوا ده و ما ته ډکه
چه تَشَوې ئې په ما فلکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دِ پېري کړه په ما تعينه
هم دِ مېرڅي کړه دَ مغل را لکه

په نيلي سپور يې کرکره لکه
دعوا دَ کبر په زړه کښ کلکه
که فهم وکړې چمجي دَ غُلو يې
هونبره لوئي کړې دَ غُلو ډکه

تل ئې خبري له ښه خوراکه
ذکر مذکور ئې له ښه پوښاکه
خپل کسب هيڅ نه واړه له ظلمه
هي توبه توبه له هسِې ژواکه

# گ

جن په حجاب کښ دَ مور له ځنگه
مگر ځان ژغوري دَ مرد له چنگه
که په صحرا گرزي که کوڅه گرده شِي
شنده به ور کا په خپله تنگه

هر گوره ښه ئې دَ باغ سل برگه
سر دِ راوکيښ دَ شير له تخرگه
ستا په ديدار مي سترگي خوږيږي
زړه مي را وَوت دَ غم له درگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زړه دِ خلاص وِي دَ شک له رنګه
اندوه به نکړې دَ غليم له جنګه
بړستن دَ خوب دَه که صف دَ جنګ دئ
دا دواړه توکه نه دي دوه رنګه

که سَرَه ټولي کړې دَ کلي چرګي
نه واړه چرګي نه دَ باز سترګي
نه دوه سو کښلي جونه بې باکي
نه يوه کښلې دَ پاکي پېرګي

مغل بې قدره پښتون بې ننګه
توبه له توري توبه له جنګه
تسبيح په لاس کښ په نظام پور کښ
ناست په مسجد کښ جمدر تر څنګه

غليم مي زر دِي په دا دوه رنګه
لکه چه راشي ځي مي له چنګه
بل په آسانه را لَره نه راځي
بې سپيني توري بې ډېره جنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ل

دَ ځان مي وليدَل اخوان مي وليدل
ياران مي وليدَل دوستان مي وليدل
چه ښه مي ځير کړل واړه سړي ندي
سګان مي وليدَل ددان مي وليدل

چه ئې مخمور وې سترګي بې مُله
سنبل ئې هيڅ وُ تر ښه کاکله
وګوره ولاړل هغه مخونه
چه ښايسته وُ دَ باغ تر ګله

راشه که ګورې اهل نا اهل
يَو ابوبکر وُ بل ابوجهل
په ابوبکر محمدﷺ نمر وُ
په ابوجهل تر سَهَا سهل

دا سبز ګلونه ګوره خوشحاله
ګوره چه څه شِي تر بله کاله
لکه چه ګل دَي هسي ستا عمر دي
راشه خبر شه له دې مثاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ډېر اغزي لرِي په څنګ کښ ګله
اغزي دِ نه ويني شيدا بلبله
چه پر مَيَن وې عيب ئې نه ويني
هر څه ئې آخلې بې تامله

ياران مي ولاړل تر خاورو لاندي شول
موږه ئې پرېښوو تر موږ دَ وړاندي شول
په ګور ئې ورشم سپاندِي پرې ووينم
مګر زموږه دَپاره سپاندي شول

چه دَ ليدل وُ هغه مي وليدَل
چه دَ خوړلو وُو هغه مي وخوړل
آخر که ګورې دا واړه هيڅ دي
لکه مي ووَيل هسي مي ومَنل

دا يم زه تير شوم تر اويا کاله
ته را خبر يې يا ذوالجلاله
دا غم مي نه دئ له اعداء ليدلي
لکه ئې وينم له خپله آله

که لوي ملا شي په لوستل لوستل
آدم که نشي لوستن[1] دي لوستل

---

١. لوستل: يعني ويل، قرائت (لوُستل) يعني خپورول او تيتول او خرابول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځني لُوستل کا ځني لوستن کا
په شان شان کېږِي سبق آخيستل

وخت دَ پېرۍِ راغَي خوشحاله
لا دِ په زړه دِي دا يَو ښو خياله
خيال دَ ننګونو خيال دَ جنګونو
خيال دَ دلبرو له خط و خاله

دَ مرد دَ علم دَ هنر له حاله
زر خبر دار شي له قيل و قاله
دَ نفس له حاله ئې هاله خبر شي
چه ورسَرَه وي په يو ښو کاله

خبر هيڅ نه يم له خپله حاله
حال مي به څه کړې يا زوالجلاله
تکيه مي ستا ده ستا دَ کرم دَه
دايم در تلوني شوم ډک له وباله

که ښايسته يې په مخ تر ګله
بوي د جفا ځي ستا تر کاکله
ګل که زېبا دَئ چه بې وفا دَئ
ځکه فرياد کا ځنِي بلبله

(c) ketabton.com: The Digital Library



گل ته گويا شوه دَ باغ بلبله
چه ناز ډېر مکړه دَ چمن گله
گل وې په بخره دَ کښليو ناز دئ
خبري مکړه بې تامله

گل په شونډو په مخ من کلي
سترگي دَ باز دِي باڼه منگلي
که يو لک کښلي وبله ټولي شي
يو لک من ته يې نوري من گُلي

غريب يم بولم دَ غربت بدله
رنځور شو دواړه دَ بابا دله
نابود بولاق دي که بر وړي دئ
راغلي مه وَي تر بَرمَوَله

زه هيڅ خبر نه يم له خپله حاله
هغه جنين يم بې قيل و قاله
وږي شم وژاړم موړ شم خندا کړم
هونبره پوهېږم په څو اشکاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# م

دا یم که زړه له دلبرُو ونیسم
پسي ړندیږم زړه به په څه نیسم
څو مي ژوندون دَئ پدا دنیا کښې
زړه به له کښلیه مخه وَ نه نیسم

ما وې چه تا به دَ ځان په رنګ کړم
لکه ملنګ وې زه دِ ملنګ کړم
سبږ دِ دوهین شوم تر بله کاله
دَ ځانَ به لویه مصلې لنګ کړم

نه مرد دَ کفر نه مرد دَ دین یم
نه دَ ګمان یم نه دَ یقین یم
په دواړه توکه مذبذ بین یم
هم په زړه تور یم هم په زړه سپین یم

قرآن دَ وړاندي په لاس کښې جام لرم
په لون لون حلال حرام لرم
عمل مي تریخ دَئ که خوږ کلام لرم
نه درست کافر یم نه درست اسلام لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لينده چه نه وِي په غوړ يوسمه
غشي چه کوږ وي پر خانه کمه
نه به دَ نخښي گذار پرې وکړې
نه به په غشي کړې غرځه بې دمه

دا ته يې ياره که دا زه خواب وينم
تا ته يې ياره که په شپه آفتاب وينم
چه ستا دَ زلفو نگهت مي وليده
مه تور عنبر وينم مه مشکناب وينم

چه جدا شوي ياران تر زړه کړم
لېمه په ډېرو ژړلو سره کړم
کښېنم بيا صبر دَ خداي په کړه کړم
چه صبر نه کړم وايه نور څه کړم

دا ډېر فکرونه چه صبح و شام لرم
چه فکر وکړم واړه ئې خام لرم
خلق په منځ کښ دَ اختيار خبري کا
فهم مي وکړ دَ اختيار نام لرم

دَ څرخ له څرخه و څرخ ته ساز شوم
نيازمن دَ هر هر ناکس دَ ناز شوم
لکه په لاس دَ بې شناختو کښېوزِي
هسي بې قدره پر ماتي باز شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه کښې ستا دَ کوڅې غبار لَرم
په سر کښې ستا دَ پيالې خمار لرم
پرېشان دَ زلفو بېمار دَ سترګو يم
زه دا دوه توکه له تا يادګار لرم

په غم دِ سوي لوغړن زه يم
سبا بېګا دِ په اوښيو اُوبه يم
دَ عشق سپاره دِ په ما هړانده کړه
په رنګ ځبېښلي سوي په زړه يم

مست يم په سر کښې مستي دَ مي لرم
چه په نشا ئې کي کي کي لرم
رقص مي په تار دَ هغه رباب دئ
چه په نغمه ئې هَي هَي هَي لرم

پيري په ما راغله زه ئې خراب کړم
په پېچ و تاب ئې دَ هر اسباب کړم
هر هر اسباب ئې له ما نه يووړ
فائده مي کومه چه پېچ و تاب کړم

يار مي کافر دئ زه مسلمان يم
دَ ده له بده خويه په ځان يم
زړه ئې ځما له کوګله وکيښ
ځني په وېره دَ خپل ايمان لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځار شم بلهار شم دَ يار تر نامه
دَ يار تر خطه تر ښه پيغامه
باد چه را والوزِي دَ يار له لوريه
ور سَرَه راوړي خوښي تمامه

سخ خو د ما دي چه هسي يار لرم
چه ئې له لاسه دا زړه خوار زار لرم
که راته کښېنې په تا ډېر کار لرم
در به ئې پرانزم دَ گليو بار لرم

تا چه پيدا کړه هونبره اقوامه
حکمت دِ څه دَئ يا ذوالاکرامه
تا چه پيدَا کړه حکمت ئې تا زده
موږه هيڅ نېږده په دا تمامه

چه ځان ته گورم لا هسي زوږ نه يم
چه ځنو ځنو چارو ته جوړ نه يم
چه غاښ مي پرېوتل فساد را وشو
که هر څو غوښي خورم به غوښي موړ نه يم

نه زر په کور کښ نه کښت و کار لرم
وابست له ځان سره تر سل بسيار لرم
رازق دَ خلق يې په دا اقرار لرم
څه غم چه تا غُندي پروردگار لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپله بخته و چا ته زار کړم
زر مي اغيار شي چه زه ئې يار کړم
نور مي توبه ده که اکوړي راشي
نه به ئې يار کړم نه به ئې پلار کړم

زه که مي خور يم يا شاهد باز يم
فسق و فجور کړم گنده په نماز يم
اندوه مي نشته خبر په راز يم
په ولا تَقنَطوُا و کرم ته ساز يم

زه تا پيدا کړم به دا قائل يم
که بيا مي وژنې دلگير په دل يم
وايې چه بيا به دِ بل ژوندُون وِي
هر چه ته وايې زه په منل يم

دَ کوب و چوب دِي دا څو اقوامه
اول عورته واروه اې خامه
آسونه خرونه مرَيونه اوړکي
بل رعيت دَئ په دا تمامه

خالق څما يې په دا پوهېږم
حکم دِ حق دَئ منم گروهېږم
چه دِ ظلوم او جهول پيدا کړم
په بد مي نيسې دا اندوهېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيري په ما راغله زه ئې تاراج کړم
زه ئې محتاجو وته محتاج کړم
رنځ دَ پيرئ دئ بتر بتر شي
فائده ئې کومه چه ئې علاج کړم

منصور چه مست وُ له هغه جامه
جرعه ئې راغله څما تر کامه
منصور په دار شو زه به لا نور څه شم
که راز مي ورشي تر خاص و عامه

که ويني ژاړم گرېوان چاک کړم
په غولي گرزم غوغا بلغاک کړم
په دا به تللي ياران را نشِي
سکه بايده دا دي چه ځان بې باک کړم

خواره حيرانه بني آدمه
په هيڅ غمجنه په هيڅ بې غمه
خاندې وژاړې وژاړې خاندې
دا چار دِ تل دَه له عمره سمه

تر غينَ تير شوم دا هسي زه وينم
احوال يَو دوه ويني زه يَو اُوه وينم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترف که درشم غفد[1] سړ کال دي
اوه به شل وینم دا کار زه ښه وینم

که هر څو مست یې اې دُر د آشامه
مستي دِ هیڅ ده څما تر جامه
ته لا َخبر یې له ننگ و نامه
څما مستي دَه علي الدوامه

اولاد مي ډېر دي منت دَ خداي لرم
دَ واړو مهر په زړه کښې ځاي لرم
یَو څو بد بخت دي زوال ئې ژر وشه
دَ دوي له بده خویه هاي هاي لرم

مرگ را نیژدې راغي پیرۍ کر کړم
غاښونه لاړل غم دَ بصر کړم
وخت دَ آرام وُ دَ زړه دَ کام وُ
قسمت په غاړي په غرونو سر کړم

تل به شړلي لېږلي تا یم
بیا په دا کار کښې کړلي تا یم
چه ستا په نه دیدن دَ ځکندن شوم
که مي ته نه وژنې وژلي تا یم

---

۱. ۱۰۸٤.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ځان ته وګورم ځان ګنهګار لرم
دَ نفس له لاسه فریاد چغار لرم
حال مي به څه وُ که استغفار نه وي
شکر چه ژبه دَ استغفار لرم

دَ مرد چه نه وِي وینا محکمه
په ده به نشي درغله سمه
چه یو ئې زړه وِي یَوه خبره
خلاص وِي له همه خلاص وي له غمه

خبر دَ دهر په مکر دروه شوم
دا څه چه ښاد شم یا په اندوه شوم
نه ئې ښادي شته نه ئې اندوه شته
دواړه فساد دِي چه ښه پرې پوه شوم

مرګ را نیژدې راغي زه لا غافل یم
په شور و شر کښې دَ دنیا تل یم
په تور وېښته مي سل ګناهونه
په سپینه ږیره لا ډېر خجل یم

که ته جفا کړې زه به وفا کړم
که ته ښېرې کړې زه به دعا کړم
څو دا جهان دئ هونبره دِ ته وې
که ته مي نه وې نیاز به په چا کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زویه که هسِي وِي لکه چه زه لرم
که هر څو ډېر دِي يو زويه نه لرم
يَو يحيي خان نشو يَو اکوړي نشو
څنجو منجو دي پټ به ئې څه لرم

دَ ښکار پکار کښې که هر څو ښه يم
چه باز مي ځان دي هغه يو زه يم
په باز که هر څو قاز و کلنگ نيسم
بِړيره مي سپينه شوه مير ښکار لا نه يم

دا آزميښت گوره په ما چه زوړ شوم
له نورو چارؤ په زړه کښې سوړ شوم
را پاتو مينه دَ ښو دلبرو دَه
چه زوړ شوم لا ئې په عشق کښې جوړ شوم

خلق هوښيار دي زه لېوني يم
نه اوسني يم لا لرغوني[1] يم
هغه چه لافي دَ هوښيارئ کا
تشي درمي دي پکښې گنَي يم

هونبره خطا لرم څو چه عاقل يم
هونبره هوا لرم څو چه فاضل يم

---

١. يعني سابق، دمخني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسپې په لاس کښې زړه په وسواس کښې
ولاړ په باطلو کارونو تل یم

اوس زه په خپلې چارِې خورسند یم
مال ملک مې نشته زاهد څرګند یم
خو دا عالم مې ور پسې نه پرېږدي
لا ځني نه شلیږم په قسمت بند یم

توبه مې وکړه له میو پیر شوم
پسرلې چه راغې په زړه دلګیر شوم
دَ ګل په مخ مې باده را واخیسته
بیا دَ ځوانِۍ و کار ته خیر شوم

مرګ دَ نا اهل سبا بیګاه غواړم
دعا مې دا ده الله غواړم
ځما توبه دَه دَ بهرام له خیره
دَ ده له شره امان پناه غواړم

لکه ملنګ وې زه دِ ملنګ کړم
لکه بې ننګ وې زه دِ بې ننګ کړم
څوک یې خبر دِ ذاته نه یم
په څه خپلوي دِ دَ ځَان دَ څنګ کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سردارۍِ چه پوهېدلي يم
سرداري غم دَه ترې ترهېدلي يم
ور ځني وتښتم په غاړې غرونو
لا ئې تر اوسه په غم نيولي يم

چه خپل عمل ياد کړم خاوري په سر لرم
ډک له گناهَ تمام دفتر لرم
وخت دَ حساب راغي بله تکيه نشته
تکيه دَ خداي لرم دَ پيغمبر لرم

که نور په نورو چارو جلي ستا يم
زه به دَ تورو په کار علي ستا يم
ورود دَ رسول دي ورباندي ښائي
که ئې له فرقه بيا تر تلي ستايم

دَ چا چه نه وِي دَ سترگو شرم
درته به نه وِي په پندونو نرم
ځني امان غواړه که دِ بسر وِي
پلار والي پرېکړه دَ بې آزرم

که دِ له خويه چا ته فرياد کړم
يا هيڅ دم نه وهم صبر بنياد کړم
په دواړه توکه ځما پروا نکړې
يَو څه ناترس يې څه به دِ ياد کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غم کښې شوخه بني آدمه
درباندِي راشي ځو څو ماتمه
شيرين ياران دِ په مرگ جدا شِي
سخت يې چه نه چوې له ډېره غمه

زه په خپل ملک کښې خو دا دوه دم لرم
ښايسته پردي نصرت قدم لرم
يوه مي توره دويم مي ډال دئ
پدا څو توکه عرب عجم لرم

په خوب کښې هر کله بوي دَ دنيا وينم
جرگې جنگونه هوس هوا وينم
مگر يکلخته دَ دنيا سړی يم
چه نه يَو شيخ وينم نه يَو مُلا وينم

خبر هيڅ نه وم چه ورَځ وه کومه
چه زووم سعد وه که نحسَ شومه
غمه په چرته غلط غلط درومې
غرض په ما لرې دلې را درومه

شهره په واړه عالم مدام ښه يم
پرېبږده په خوله کښې دَ خاص و عام ښه يم
شيخه ته شيخ يې زه رند هيڅ مه وايه
ته دِ نيکنام اوسې زه خو بد نام ښه يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرگ را نيژدې شو زه دا ارمان لرم
که زوړ ليده شم اختيار دَ ځوان لرم
ارمان مي جونه دِي دَ نام جنگونه دي
مقصود مي ښکار دَئ غم دَ ايمان لرم

زوړ کړم غمونو دَ اشنا زوړ کړم
له کل هوسه ئې دَ دنيا سوړ کړم
څوڅو تاونه را باندي تير شوه
کومي مې وچ کړ هجران رنځور کړم

پريشان په ځان کښې په ډېر حيرت يم
څه وم دا څه شوم په څه حالت يم
چه تل مي ځاي شول غرونه رغونه
زه دا په چا پسي مجنون صفت يم

چه سر دِ خوړ شي امان امان کړم
وايم چه رنځ دِ واړه په ځان کړم
څو دا جهان وي هونبره دِ ته وي
که نه اور به پوري په درست جهان کړم

دَ ښکار په کار کښې زړه دَ ځوانۍ لرم
غم دَ پيرۍ دَ ناتوانۍ لرم
سترگي هغه ندي هغه قوت هغه ندي
چه باز په لاس کړم خو حيراني لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایې جنت لرم حور او قصور لرم
بل دار تر دانه په نعمت پور لرم
چه وایې هسي دي واړه منلي
ما ته دا پرېږده چه دا حضور لرم

که دا گناه دي چه په تا چور چور یم
سکه سر تر پایه له گناه پور یم
دَ تورُو زلفو په مار دِ وخوړم
گونه مي زیړه په زړه رنځور یم

په غم غمجن وم په خوب کړمن وم
خلاص له غمونو ستا په دیدن وم
په خوب په هسي رنگه اوده شوم
چه خلق وینې وي زه په خفتن وم

خواره حیرانه بني آدمه
چه دِ خمیر دي خاوري له غمه
یَو دم که وخاندې پدا دنیا کښې
بیا دِ ژړا وِي په څو څو دمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ن

کله د خاصو نصیحتونه
کله دَ عامو ملامتونه
لا دَ اوله په عشق کښې دا دي
بیا پسي نور نور فضیحتونه

نادان په سر لري ښېره زرینه
هوښیار دوه گزه پټکي لرینه
تر هر څه گوره دا بد ترینه
نادان چه پائي هوښیار چه مرینه

دَ مرد چه نه وِي لَمَن خیرنه
پاک وِي په ژبه پاک وِي په ژمنه
که زر بلاوِي اندوه دِ نکا
فرښتې به واړَوي بلا لَه دنه

ځواني مي ولاړه په غفلتونه
په غسرتونه په شدتونه
لولۍ چه زاله شِي تسپې په لاس واخلي
هسي مي اوس دي دا طاعتونه

و چا ته وایم دا ښه پندونه
چه دَ منلو مات شول بندونه
پلار د خپل راي شو زوي دَ خپل راي شو
جدا جدا دِي سرَه سندونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه غم ئې نه وِي له ناحقه خونه
اور به ئې ولگي په درسته خونه
نيست و نابود به شِي په دا دنيا کښې
هورې به پاځي تور تور مخونه

پند دي سودمند دَي واوره تورزنه
اسانه نه ده دَ سر ښندنه
مصلحت مه پرېږده دَ خپله لاسه
هم به خپل راز لرې دَ زړه دننه

کار چه خفه شي په افکارُنه
واړه ابتر شِي هغه کارونه
ځني کارونه نن لکه گل دي
کانده هغه شِي لکه خارونه

تا ته چه شمار کا دَ چا عيبونه
چا ته نه شمار کا دَ تا عيبونه
دَ سخن چينو مخونه تور شه
په مخ ثتا کا تر شا عيبونه

اې چه خبري کړې خوږې شيريني
ولي دِ ووتې په عمل کښې سپيني
گفتار سور گل دَئ د انار دَ وني
کردار انار دَئ که ته ئې ويني

(c) ketabton.com: The Digital Library



هونبره ثواب دي څو مفسدان وژني
څو مفسدان وژني ګنه ددان وژني
و بال ئې واړه څما په غاړه
فتوا دَ عدل ده څو چه بدان وژني

که کاڼه نه وَي دَ چا غوږُونه
موږه به ووېِ دَ سود پندونه
که ړندې نه وَي دَ خلقو سترګي
موږه به وښَيل ورته ملکونه

کښلي ځوانان دِي که کښلي جونه
پرې مي سلام دي موږه به ځونه
سخ دَ هغو دئ چه لمن پاک وي
قضا ئې نه وئ روژې نمنځونه

آخيست چه نه شِي په غاړې غرُونه
وري د عشق دئ موږه ئې وړونه
مست مست بارونه به مست مست اوښان وړي
غرض پرې څه لري غوايه يا خرونه

تا چه پيدا کړل هونبره ملکونه
ربه په تا شِي دا قدرتونه
که تا پرې نه کړَي دا بارانونه
واړه به هيڅ وُ دا سمي غرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربه چه مات کړې دا صورتونه
بيا به ئې ساز کړې په حکمتونه
د نور چا نه دي دا صنعتونه
ربه په تا ښائي دا قدرتونه

دروغ که آړ وي بلا له تانه
دروغ خوي مکړه اې ځما ځانه
راستي پرې مبړده له خپله لاسه
خداي به په تا کا ګرانه آسانه

دَ شيخ شاب سَرَه تل طرباني
دلبري ښې دِي بې ادباني
هغه به ولي غم دَ پيرئ کا
چه تل تر ځنګ لري شکر لباني

نه سره سم دي واړه مړونه
نه سَرَه سم دِي دَ هر چا زړونه
زړه هم هغه ګڼه چه لکه غر شِي
که باندِي را شِي هزار غمونه

چه تجلي وه هغه مخونه
سپيرې ايرې شول دَ ګور په خونه
دَ صورت ونه تابوده ونه ده
هم ئې ښاخونه ځي هم ئې وېخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه اوس څپلوي شته نه پیوندونه
ګڼه سَرَه نه دِئ دَ چا سندونه
خوشحاله بس کړه خاموشي ښه ده
و چا ته وایې دَ سود پندونه

دین چه خالي شِي له ښه یقینه
کفر بهتر دَئ تر هغه دینه
چا دا خبره څه ښه وَیلې دَه
ما ته لینده دَه ناقصه مینه

که دِ هر څو وکړې دَ دنیا عیشونه
کوتړونه مات کړې پخپل جیشونه
عمر دِ ډېر شِي له جَم دَ عمر
په تا به وشي دَ مرګ طیشونه

نه اور بشینه دَ خپلي خونه
نه چه غنمینه دَ بلي خونه
ځنو بې ځایه خوني تالا کړې
په ځاي مردانو خوږولي خونه

د مرد پیغور ده جامه وریښمینه
نه دِ مهینه وِي نه لا رنګینه
دا کِسوتونه دَ ښځو بویه
ښیوه دَ مرد دَه په جامه سپینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفس په آرام دئ زړه په خوندونه
دا دواړه زده کړه واروه پندُونه
نفس په لنده په وچه آرام وکا
زړه په خوندونو مات کا بندونه

قرآن چه لوست شِي په هغه خونه
ځني به ديو کا ښېمه بيرونه
څو چه ښادئِ دَ دواړو کونو دي
پرې به دَ ده شي خونه مشحونه

دنيا مي وليدله دَ دنيا کارونه
ښادي ئې غم دئ گل ئې خارونه
څو درته پريوزي په انبارونه
په زړه دِ پريوزي هونبره بارونه

زه تا پيدا کړم له ما ؤطينه
بخره دِ را کړه دا دين متينه
دين مي منلي دَ پاک رسولﷺ دَي
ځما توبه ده له غيره دينه

څه ښه بادشاه وې شاه جهانه
هم غور رسه هم قدر دانه
چه ته ئې بند کړې زويه دِ نَدَي
يوه بلا دئ پيدا له تانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښیار هغه دئ چه سخت جنگونه
تر خیرَ راولي په فرهنگونه
نادان هغه دئ چه پکار دَ صلح
گډ کا دَ شر دَ فساد رنگونه

په فتنو ډکه توره اسمانه
لا به دِ کله شِي دا خونه ورانه
چه بل یو نوي جهان پیدا شِي
گنُدِي څوک بیا مومي خلاصي له تانه

ما ډېر تېځلي دِي بد خوي آسونه
چه غلا دَ زړه لري بد وسواسونه
ټکه هیچري په متروکه نه ځي
که په وَهَلو سَرَه کا لاسونه

هم مي دولت شته هم مي ملکونه
هم مو ځوانان دِي هم لوي لوي غرونه
دا واړه هیڅ دي په کوم حساب دي
چه په کښ نشته ښه ښه مړونه

چه عاشقي کا پریږدي ننگونه
قبول کا توري توبري جنگونه
خپل زړه خالي کا دَ یار وَ میني ته
له زړه نه واخلي نور نور رنگونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هر څو تېر يې تر صحبتونه
علم ادب لرې فصاحتونه
لا به پخپله ژبه ډېر فهم کړې
دَ ژبې ډېر دِي قباحتونه

بلبلې څه غواړې له گلستانه
گل به بيا نه مومې بې له خزانه
لکه خوښئِ دَ گل دَ وصل وِي
غم به ئې هونبره وي بيا له هجرانه

تر سر تر پايه کښلي مخونه
دا يو يوسف وُ دَ پلار په خونه
هر مخ چه ووينې زړه دِ پرې خوښ شِي
مخ هم هغه گڼه کړه پرې سخونه

وُنه تل نه وِي سرَه يکسانه
لښته وِي ونه نشي سټه شي جانه
خوشحاله مکړه ماڼه له چانه
ته هم آسمان کړې په څو څو شانه

هغه مې سترگې وې چه په ملکونه
غرڅه به ما ليدل په ليرې غرونه
پيرې چه راغله چه را نيژدې راشِي
هاله ښه ځير کړم آشنا مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که عقل ورک شِي له دې جهانه
هيڅ پاتو نشي اې ځما جانه
هيڅوک به نه وائي چه زه نادان يم
هر يَو به ښه ګڼِي ځان له لقمانه

دولت خيمه دَه زويه ميخونه
ښه زويه زېږِي دَ پلار په خونه
غم دَ مور پلار دَ دولت ناتار وي
تور شه دَ بدُو زويو مخونه

خوشحال چا ته وايې پندونه
خلق خوشحال دي پخپل سندونه
که زړه دِ وار کا ژبه قراره کړه
مات دِي دَ پند دَ باړي بندونه

نظر مي وکړ په کتابونه
ډېر ئې ښَيل دِي ډېر ئې بابونه
نوري به نشي ازلي چارِي
که ثوابونه نه دِي که عذابونه

هغه مي سترګي دِي چه په ښکارونه
غرڅه به ما ليدَل په کوهسارُونه
اوس چه باز واچَوم غوټه ئې نه وينم
آه د پيرئ دِي دا آثارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرهم په زړه ږده په پرهارونه
دانا به ګل کړي نادان خارونه
په هر هره سوړه لاس مه منډه
پکښې به خوب کا خوني مارونه

چه در سره کښېني يَو څو شيطانه
ياران به ليري کړې له خپله ځانه
سود به دِ نه وِي بيا به ارمان کړې
ارمان به يوسې تر ګورستانه

چه خبردار شوم له دې جهانه
څه مسخرې کا په هر چا ځانه
هوښيار لا هونبره په ځان خوښ نه وي
لکه نادان کا خوښي له ځانه

خوشحاله مه کړه ماڼه له چانه
فکر په زړه کښې وکړه اې جانه
په تا چه کېږي دا هونبره چارِي
بلا دِ واړه دَه له خپله ځانه

هغه چه نه لري پنام و تنه
و مخ ته مه کړه دَ هغه کتنه
که سکه زوي دي يَو سګ ئې وګڼه
په ښه په بد ئې مه کړه پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه چه پاکه وي او پاکدامنه
دَ دې په نور وِي خونه روښنه
پل دَ ناپاکي لکه اوربل وِي
په خونه بل شِي دَ دې له تنه

درته به وَوایم دَ ښکار رازونه
چه سَرَه ونښلي دَ ښکار بازونه
تر منځ به خلاصه شِي دَ ښکار هیلۍ
آسمان ته درومي په پروازونه

دا منصبونه دا انعامونه
واړه زندي دِي واړه دامونه
پښتون مغل به سَرَه دوستان نشي
خوشحال ئې مه وینه دا اکرامونه

دا اکرامونه دا انعامونه
دَ چا په یاد دِي هسي کامونه
په بوي دَ میو مست شم صوفي یم
ساقي را سر کړل ډک جامونه

عثمانؓ دِ ووژمي خوني آسمانه
عليؓ دِ هم کړ په تیغ بې ځانه
حسنؓ حسینؓ دِ دواړه شهید کړل
اوس به ته واړَوې توره له چانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ننگ خواهانو تربیتونه
دَ بد خواهانو سیاستونه
چه دا ئې نه وِي ملوک ئې مه بوله
که هر څو ښه وِي په خصلتونه

که کښلي ټولي شِي سرَه لکونه
را باندِي پریوزِي دا فلکونه
خپل یار به هیچېري پکښښ غلط نکړم
که دا مي سترګي وي دا کولکونه

که ډېر ښکارونه وه که ډېر بارونه
واړه مي ولیدل نور نور رازونه
چه خبر دار شوم په انجام دَ چارِي
یا ږغ دَ توري دئ یا نمازونه

لاري دشواري غاښي غارونه
اوښان پرې بيايي په قطارونه
که څېره روې دَ غره په سر به ځې
دَ غره به سر به ځِي لښلي بارونه

چه دَ شیخیِ نمط لرینه
شیخي دِ کاندِي په بږيره سپينه
ځواني به ولي حبطه ځينه
ښه مخ دِ ګورِي شراب دِ څښينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باغ کښې ګوره لاله ګلونه
یاقوت پیالې دِي غواړي مُلُونه
ساقي را پاځه تر دا دَ پاسه
بې میو نشته تحملونه

پنډه پنډه شکري هسي شیریني
په هر سپي نغري په مخ نسریني
مین ستا هسي په غم کښې کسي
تلي خبري ستا شکرینه

ډوډۍ غنمینه وِي که اوربشینه
په وخت دَ لوږي خوږه لګینه
موږ دَ نباتو حلوا ته نه ګورِي
هوښیار به پوه شِي پدا رازونه

که باوري شي د ښکار بازونه
بیا ئې نظر وِي پروازونه
ښځې هم هسي دَ ښکار بازونه دِي
هوښیار به پوه شِي پدا رازونه

چه بد ئې ژواک وِي بد ئې رنګونه
نه مصلحت لَري نه آهنګونه
نه ډېر دولت لري نه ډېر عزت لري
له هغو څه غواړې شرم ننګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ته وفا غواړې له ما نه جانه
وفا به نه مومې له دې جهانه
وفا به بیا مومې په بل جهان کښې
چه عوضونه نه وَوزِي له میانه

په تا که راشي ډېر محنتونه
یا راحتونه فراغتونه
ته ئې په نور چا حواله مکړه
چه ازلي دِي دا قسمتونه

دَ ملوکانو دَ قرب بامونه
لوړ دِي پرې نه خېژه پڼېر گامونه
که ناگهانه ورځني وَرغړې
روغ به بیا نه مومې خپل اندامونه

خداي دِ اضغاث کا دا وران خوبونه
چه اوس ئې وینم په آشوبونه
دَ روم لښکري په هندوستان راغلې
نسکور دَ شاه دَ خیمې چوبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# و

تر سر تر پایه ککړ په غلو
په لاس نیولې دسته د ګلو
کښینه مستانو ته صفت دَ میو کړه
نوم اروېدلي چېري دَ ملو

دا کار سړیو زده نزده ددانو
نظر چه کاندي په فرقدانو
عشا چه ودري نه سر دَ قطب
جوزا نور تېر شي اې بخردانو

جهان په کام دئ دَ وفا کېښنو
قصد ئې له چا دَئ له بد اندېښنو
عمل دَ ښو کاڼي بلا تر پښو کاڼي
اې بد عملو په بلا پېښنو

شکر په دا چه له نېستَ هست شوو
عقل ئې را کړ خداي پرست شوو
رتبه به کانده په عمل مونده شي
عمل کړي ولي په همت پست شوو

سوګند مي ستا نه په سترګو تورو
په زړه دَ تا یم په خوله دَ نورو
پرېبرده له هر چا سَرَه یو مخ وړم
له ما به څه وړي په کیسو سپورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاندم په زهد دَ فاسقانو
خاندم په بذل دَ احمقانو
چه نه ئې دين شو نه ئې دنيا شوه
چاري بې نه وي دَ لايقانو

يا بد تر ښو کړه دَ پرديو خپلو
يا غم ته واخله توښه تر تلو
دَ دواړو توکو سود و زيان خپل گورم
حاجت هيڅ نشته نور دَ وَيلو

ياریَ ښې وي دَ ښو بخردو
چه په کښ نشته وهم دَ بدو
دَ ناکسانو ياري دَ ددو دِي
سودمني نه دي ياي دَ ددو

راپاتو يو نشو دولس مي ترونه وُ
ولاړل فنا شول چه اولسونه وُ
څه بادشاهان ولاړل څه څه خانان ولاړل
چه په دربار ئې وَلاړ زرگونه وُ

کښلې دلبره دَ څورلس کالو
خوله ئې خوشرنگه حقه دَ لالو
راغله ژر ولاړه څما زړگيَ ئې
يووړ په دواړو سترگو ملالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوري چه ووري په سپیرو خاورو
خاوري سپین زر شي په سپینو واورو
په منځ دَ دلو په منځ تېري کښ
سَمه غر سپین شو په سپینو واورو

ښه وصیت دَئ دَ بخردانو
یار دَ ددانو شه نه دَ بدانو
بدان دِ ځان وړي هم دِ ایمان وړي
ایمان خو خلاص کړه خپل له دَدانو

کلي مي ولیدل دَ ناکسانو
واړه په خوي کښ دَ کرگسانو
گوتي په هیچا پسي دَ وړوندِي
خپل گذران بویه همنفسانو

پیغمبران وُ شاهان خانان وُ
ډیر خوبش له ځانه ښه ښه ځوانان وُ
له دې جهانه هسي روان شوه
وایې چه کله په دا جهان وُ

که چېري وار راغي بیا به خبري کړو
خلق به ویر کا موږ به سندري کړو
دا ډېر زنگونه چه پراته په زړه دي
طمع امید لرُو گندِي ئې لیري کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیرۍ پریستم له تا لا ښونو
هاي کښليو سترګو کښليو غاښونو
هغه خوږل نشته هغه ليدل نشته
ولاړم له نورُو ښو معاشونو

موږه ميږي يو په مځکه ګرزو
دَ نس له غمه وبله غورزو
ښه وو په مځکه بلا را سازه شي
چه پر پيدا کړو اسمان ته ووزو

نښتر که لوي دئ له نورو ونو
چينار که پلن دي په پاڼيو پلنو
لکه کمال لري هسي زوال لري
نظر پرې کاڼي دَ کمال څښتنو

څښتن دَ مزکي يې دَ اسمانونو
دَ عرش و فرش او دَ جهانونو
هاتي که ما شي کړې ماشي هاتي کړې
توانيږې رب يې دَ ديو توانونو

سواري دَ جونو دَه که د آسونو
لا مي ترې رسي توان دَ لاسونو
ښکار دَ توپک نشته که ښکار دَ باز شته
دا هم پيرۍ کړې په وسواسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه چا ته پېښ شي غم دَ خوړلو
یا غم دَ ښځلو دَ آغستلو
نور نور غمونه واړه تر شا شي
که دَ سند رو وِي که دَ بدلو

موږه به وَمرو هسي پوهېږو
یاران مو ولاړل لا نه ګروهېږو
خاندو خوښي کړو هوا هوس کړو
نه مو ژړا شته نه اندوهیږو

چه په مړوند ئې باهو دَ خیال وُ
ګوتې دَ زرو غمي ئې لال وُ
و ګور ته ولاړل هغه لاسونه
چه په حنا به لاله مثال وُ

دَ خپلي خوني نغن دَ خمچو[۱]
نه چه غنمینه دَ بل په ګچو
نه اور دَ خپل نغري دَ لندو پچو
نه اور دَ بل نغري دَ دړو وُچو

که شور غوغا کا سره تر تلو
پازه په نه ځي سره دَ خپلو

۱. یعني دَ باجرو ډوډۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدي دَ خپلو دَ بل تر ښو ښه ده
که څوک پوهېږي په دا ویلو

ښه ښه یاران وُ ښه آشنایان وُ
چه په دولت کښې را سَرَه ځان وُ
دولت چه لاړ شو راته ئې شا کړه
جدا له ما نه په یوه نان وُ

دَ خپلي ګېډې په خدمت خم یو
په نورو نورو فکرونو کم یو
سبا شي وخوړو بېګاه شي وخوړو
آدم صورت یو دواب شکم یو

که موږه وایو واړه هیڅ نه یو
یو موتي خاوري یو چونګ[1] اوبه یو
که دا مجاز دي تحقیق به بل وي
سکه زړه به ښه کړو هر ګوره ښه یو

ژبه عادت کړه په ښو ویلو
چه دِ عادت شي هغه تر تلو
که ئې عادت کړې په بد ګوئیِ
مخ به دِ تور کا تر پردیو خپلو

---

۱. چونګ یعني د یوه لاس اندازه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دا د ساهي څښتن همه یو
که فهم وکړې لکه رَمه یو
مرگ له شرمښ را باندي زغلي
دَرب و فضل ته په سمه یو

پند مي په یاد شو دَ حکیمانو
یاري به نه مومې له غلیمانو
ښه ئې په بند کښ دَ کریمانو
نه په بوستان کښ دَ لئیمانو

فلک په قصد دَئ دَ بې دردانو
ولي وکاږي دَ دل سردانو
دَ مور په نس کښ مرد لا علقه وي
تل پرې پیرې وِي دَ ښو مردانو

نخښي خو درې دِي دَ عاشقانو
خوب کا په مثل دَ غریقانو
ویل کا په مثل د ویرژلیو
خوراک په مثل دَ رنځورانو

شکر چه زړونه په غم کښ ښاد لرو
دَ غم څه غم دئ چه پیر استاد لرو
وایې چه ځان ساته له غمه غم راغي
موږ څو غمونه دا هسي یاد لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵۱۹

په نظام پور کښې په سو سو سو
قمري نازېږي وهي چه کو کو کو
تل به دَ خوړي په بڼ کښې نه وُ
وائي دا هسي چه څو څو څو

## ۵

بېړه دِ سپينه شوه ځواني دِ ولاړه
و گوَر ته لاړل همزولي واړه
اوس دِ دَ غمه سَرَه ژوندون دي
ژاړه خوشحاله خټکه ژاړه

چه خوشي زړه مي له تا آشنا شه
له واړه خلق نه بې پروا شه
نه ئې څوک ياد دِئ نه ئې څوک هېر دئ
په بوي د ما وُ په خوي د تا شه

دَ ملکوکانو له رازه خبر مشه
که پرې خبر شې دَ ځان خطر مشه
راز ئې دَ زړه په صندوق کښې وساته
په ښکاروَل ئې چا ته لربر مشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمن چه وائيِ درته دا مکړه
که ته هوښيار يې واړه هغه کړه
شيطان دِ نه پريږدِي دَ خداي طاعت ته
څو ډېر بهبود دَئ پکښې دا زده کړه

وَ چا ته مکړه دَ راز خبره
څو چه توانېږې رازونه نغره
دَ راز خبره دَه يا تېره توره
يا دُر گوهره دَه يا مرغلره

خوي ئې د ښو شو بي بي زاهده شوه
تل په تسبيح په اودس ساجده شوه
دَ لاس په وللو مېرک د تهليل شو
دَ مخ په وللو پيشو عابده شوه

خوشحاله مخ کړه و ښو کسانو ته
شا کړه نا اهلو بوالهو سانو ته
شکري توي کړه و شنو طوطيانو ته
مرداره واچَوه و کرگسانو ته

هم مي خيالونه هم مي ښېوه زده
هم مي په عشق کښې دَ راز پرده زده
چه يار مي نشته دا واړه هيڅ دي
که يار مي وشي ياري مي ښه زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ننگ نه شرم نه حمیت شته
نه مهر مینه نه محبت شته
زویه چه لوي شي زوال دَ پلار غواړي
نن په دا دور دا قباحت شته

چه ورته گرزي په اوډه ډوډه
باغکه ورشيِ آخر تر کوډه
لوي په مکان دَ هوډي ځان بيايي
خوشحاله ما وړه له خپله هوډه

هر چه وفا لَريِ اهل هغه گڼه
چه بې وفا وِيِ سهل هغه گڼه
چه ته ئې اړوې وَښو ته نه اوړي
ځما په پوهه جهل هغه گڼه

که تازي ژبه هر گوره ښه دَه
فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده
چا ئې پلو دَ جمال وا نه خیست
پښتو لا هسي بکره پرَته دَه

چه زړه مي وتبې په طنازي ښه
په څو څو رنگه په عشقبازي ښه
چه ته مي غوره کړې په هونبره کښليو کښ
رحمت ځما په نظر بازي ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که خبر دار ئې بې شکره نان مخوره
دَ تېري چاري په زړه ارمان مخوره
پیوند دَ عمر په وېښتو تړلي دي
غم دَ خپل ځان خوره غم دَ جهان مخوره

شپه دَ برات وه يَو خوب مي ولیده
کال ئې غصه[1] دي هر گور مي ښه لیده
دوه توري ماتي شوې يَوه مي روغه شوه
دویم صصام مي په رغېده لیده

دَ خلقو ځکه دَ پېري وېره دَه
پیري تر مرگه په ژوندُون تېره ده
درد چه په ځان راشي هاله پرې پوه شي
په درد مي خپله سينه خیره ده

دولت چه ستا وِي موجود ئې وگڼه
چه دَ نور چا وي نابود ئې وگڼه
حسد په مال مکړه حرص دَ مال مکړه
هغه چه دا کا مردود ئې وگڼه

په تا که راشي حادثه لویه
تینبته تسلیم و صبر ته بویه

---

۱. ۱۰۹۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به ئې دفعَ په صبر وکړې
نه په لښکرو په زر او زویه

که ئې دَ خضر پیاله خوړلېده
دانا هستي دَ ژوندون ژړلې ده
هر چه کمال لَرِي هغه زوال لري
هستي نیستي سَرَه تړلې ده

په باغ په راغ کښې گلونه واړه
یَو گل به نه وِي بیا تر اهاړه
هستي دا هسې نېستي دا هسې
ژاړه حیرانه بلبله ژاړه

ما چه میدان دَ دروغو ولیده
بل یَو میدان مې تر دا لوي نه لیده
خو ملک ئې واړه کندې کودرې دئ
مار و لړم مې په کښې پراته لیده

دَ مرد دَ عمر خوبي تر چِل ده
تر شپېته پورې لا دا وربل ده
تر دا دَ پاسه وخت دَ پېرې شي
که ئې دَ عمر بقا تر مل ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پند ځما منې نمک حرام مشه
تر ډېرو پاتو جوتړه طعام مشه
جوتړه تعام مي خوراک دَ سپيو دئ
غصه په زړه کښ پدا کلام مشه

که تا په پايې غم دَ جهان خوره
دَ جهان غم مخوره غم دَ خپل ځان خوره
دا نقد په لاس کښ حبطه مکړه
د ضائع شوي عمر ارمان خوره

چه لعل اسا دِئ په دواړه لب دِ وه
چه سمن سا دئ په سپين غبغب دِ وه
وخت دَ سبا شو په بورجل ژر راځه
ځما په هونبره يارب دِ وه

نادان پخپله پر ړوزي وَاور ته
بلا پخپله راوړي خپل کور ته
مه نصيحت وايه و ناپوهانو ته
مه آئينه نيسه چېري و کور ته

دَ خپل غليم سَرَه په توره جنگ کړه
نه چه ښکنځلي دَ ښځو رنگ کړه
پرهار په زړونو دَ ژبي مه ږده
دَ نامردئ له کاره ننگ کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تن د په مثل دَ روح قباده
لکه آغوستې چه قبا تا ده
دا واړه توکه فنا پذير دِي
فنا ئې نشته دَ روح بقا ده

گمراه مي مکړه تل مي په لار لره
دعا به دا کړم ما پرهېزگار لره
دَ نيک مرادانو سَرَه مي شمار لره
خدايه لايق مي دَ خپل ديدار لره

صبر دَ زړه راوړه رشتيا دا دواړه
همت پکار کښې له خدايه غواړه
که کام د فتح و ظفر بيا نه مومې
تاوان دِ واړه څما په غاړه

نامرادِي ښه دَه دَ چا تر پوره
خاني ميري کړه نه چه تر گوره
څه ښه متل دي پښتنو کړي
چه غل شاړه شي نه چه تر کوره

چه بل خبر کړې دَ زړه له رايه
هوښيار په څه يې و ما ته وايه
هر چه هوښيار وِي هنر ئې دا دَي
خبره نه کا چا ته بې ځايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي را پاځه دَ بوټ[١] هوا ده
دا رضایۍ لا تر جوزا ده
ځو لا یَو ګَل شته په باغ و راغ کښ
ایاغ را نوشته ځما رضا دَه

اې چه سړي یې په یَوه ساهَ
که دِ دا ساهَ نه وِي ناګاهَ
هسي به پروت وې لکه مرداره
په ځان خبر شه دَ ځان ګمراهَ

تازه خبري تازه بهار ګڼه
چه پرې مَین دي هغه هزار ګڼه
رنګ رنګ خبري دِي رنګ رنګ ګلونه
ګل دَ ګلابو ځما اشعار ګڼه

خوبي دَ عمر تر چل و پنج دَه
که غاښ که عشق وي تر شصته ګنج ده
که غاښ دِ نه وِي سترګي دِ تتي شِي
نور مره که نه مرې پیري دِ رنج ده

١. دا کلمه په یوه نسخه کښ پوټ راغلې ده. د جواري هغه پیسي چي د لوبي د شروع کیدو نه اول میدان کښ اچولې شي او چي څوک بازي وګټي هغه ئې واخلي (درباب).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د َصاحبانو حکم په ځاي لره
نظر دَ دویو په حکم راي لره
که ئې له حکمه خلاف عدول کړې
زېرمه دَ گور کړه یا ځان گداي لره

ځنگل ته اور راوړه حکم ته زور راوړه
لښکر څو ډېر لرې لا هونبره نور راوړه
داد و دهش کړه غریب نوا شه
چه مفسدان دِي پرې شر و شور راوړه

کار دَ بېچون او دَ بېچگون گوره
د مزکي مرگ گوره بیا ئې ژوندون گوره
په سر دَ پاسه دا شین سیحون گوره
په کښ دَ ستوریو دَ ماهیون گوره

نېکان عزیز دِ د څپله رویه
بدان خوار زار دِي له بده خویه
نېکان به بیا کاَ گڼون له بدو
که تېښته ښه دَه دَ دې له بویه

دا فاني چاري فاني دِي واړه
یوه باقي دَه باقي وغواړه
مولا په یاد لَره زړه پدا ښاد لره
پدا ښادي کښ همېشه ژاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه په تن کښې څه عجائبه ده
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مي خیر کړ ښه پرې خبر شوم
جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده

تر سر تر پایه لیلي ښاغلې ده
سینه ئې ځکه دَ مجنون داغلې ده
مینه څه هسي آسانه نه دَه
چه دا بې ځایه په چا راغلې ده

له تا چه بیم کا ورځني بیم کړه
مه ئې محرم کړه مه ئې ندیم کړه
په زور که هر څو دَ ده دَ پاسه یې
حذر ترې بویه کار دَ حکیم کړه

څو چه توانېږې خو خاموشي کوَه
عیب جوئي مکړه پرده پوښي کوَه
په زړه زاهد اوسه تنها عابد اوسه
فتویٰ مي واخله باده نوشي کوَه

په سفاهت دَ سفیه آزار مشه
و مکافات ته دَ ده تیار مشه
سپي وَ مزرَیو وته غپېږي
کم تر موزي ته پخپل وقار مشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مهوشانو مینه مشکله ده
غم ئې دَ یاري ښادي ئې خپله ده
څو ورته نیاز کړې درباندي ناز کا
دَ جدائي بلا ئې بله دَه

پند دَئ که اروې ځما پسره
په کښې فائده وینم زه سرا سره
څو دِ شراب شته په قرابه کښې
څښه ئې څښوه ئې کار کړه تر سره

د چا ناحقه له پیري ویره ده
پیري ایمان دَه ځواني کافره ده
شکر وکاږه څو لا ځواني لرې
که درته ناسته نوې دلبره دَه

که سروري غواړې آواره کړوني شه
پاره دوزي کوه نه پاره کړوني شه
چه بد لتا وَکا په څرخ ئې وسپاره
ته ئې و کار ته ننداره کړوني شه

ساقي را پاڅه په ویړي راشه
د تا دَ سترګو بلا په ما شه
یَو څو لبریزِي پیمانې راکړه
دا وړي مړ یم ته مي عیسٰي شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ته رنځور يې طبيب طلب کړه
ورته زارۍِ ژړا شغب کړه
که روغ ئې واه واه خوښي طرب کړه
چه تل تندرست اوسې هسي سبب کړه

څو دِ به مخ دِي تسلسلونه
ساز و ناساز دِي واړه ګلونه
دَ عاشقانو تر مرګ بتر دي
دَ مهوشانو تغافلونه

تر وړي په مکر مزري په زور زده
غازي په توره دَ شپه نه لور زده
ملا خبري په سپين په تور زده
دَ ګنګو ژبه دَ ګنګو مور زده

چه ستا په دين نه دئ معدوم ئې ګڼه
چه څه ترې زده کړې مخدوم ئې ګڼه
حوص شومي لري څوک چه حرص کا
حضرت وَيَلي دِي محروم ئې وګڼه

چرګان نارې وهي سحر سبا شه
يار په ارمان کښ له ما جدا شه
غم ئې هيڅېږي په عشق کښ نشته
دَ عشق په کار کښ رقيب بلا شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواني دِ راکړه له کامرانۍ سَرَه
پيري دِ را کړه له پرېشانۍ سره
بيا مي به څه کړې په دا خبر نه يم
چه مي ژوندَي ساتې له حيرانۍ سره

مين مي راغي دَ ملنګ په څير سره
خبر پرې نشوم را باندي تېر شه
چه سَرَه نه شوُ و غاړه غړۍ
افسوس افسوس دا دي ارمان ډېر شه

که مهتري غواړې دَ هر چا وړوني شه
آواره کړوني شه آواره کړوني شه
دَ زړه په کور کښې ځاي دَ رحمان وکړه
دَ زړه له کوره شيطان شړوني شه

زر غورزوُني شه ځوانان ساتوني شه
ځوانان ساتوني شه زر غورزوُني شه
له هر چا وړوني شه سرداري کړوني شه
سرداري کړوني شه دَ هر چا وړوني شه

پرده پوښي کوهَ لکه پړوني شه
آواره کړوي شه دَ هر چا وړوني شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حلم خوي واخله له بارداري وني
چه څوک دِ وَولي مېوه ورکړوني شه

وېښتو تلوار وکړ برېره مي سپينه شوه
را ځني توره دَ کښليو مينه شوه
په غم دَ بريري وم غاښونه ولاړل
اوس مي په سترګو پيري تعينه شوه

خوشحاله زوړ شوې نوره ځواني مکړه
بې زر او زوره حکمراني مکړه
چه در سَرَه دِي دام او ددان دِي
له دام او دده زندګاني مکړه

حق دَ خپلوىِ دَ خپل په زړه کړه
که هر څو بد کا ور سَرَه ښه کړه
په هر سلوک چه پردِي خپلېږِي
سلوک هم هسي ور سَرَه وکړه

چا ته به راز وايم چه مي راز دار نشته
غم مي به څوک اخلي چه غمګسار نشته
کيميا به بيا مومې وفا به نه مومې
هزار ياران لرم يو وفا دار نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا تر لبانو خوند دَ شکر ورک شه
ستا تر دندانو نرخِ دَ گوهر ورک شه
ستا تر چشمانو دَ ملو خمر ورک شه
ستا تر مژکانو تېره خنجر ورک شه

که ډېر ماړه وِي دَ ښکار بازونه
په زړه دَ زرکو لري رازونه
ناز ئې دَ وړو دَي ورباندي ښائيِ
که ښايسته کا هونبره نازونه

په خو غافل ئې غفلت نتليه
له کاره ټوله امل يستليه
هيڅ دِ له مرگه انديښنه نشي
که جنازه وزي له هره کليه

چه ليري باسي تا له دا داره
نفس دي شيطان دئ دنيا ده ياره
دوستي دَ خلقو دَه څلورمه
دَ ځان دَ بلا دِي واړه هوښياره

څوک چه قانع دئ مخدوم ئې وگڼه
څوک چه حريص دئ محروم ئې وگڼه
که ور ورکه زويه که خوېښ که دوست دئ
چه ستا په راي ندَئ معدوم ئې وگڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر په زانو کښېږده خوشحاله راشه
قدرت ئې گوره په تماشا شه
لعل پيدا کا له سخته کاڼي
خليل پيدا کا له بت تراشه

نه پخپل راي راغلم و دې عالم ته
نه به رضا درومم بيا وَ عدم ته
په څه شان راغلم په څه شان درومم
قطره چه بيله شي درومي بيا يم ته

له بدي اوسپني کړه توره سازه
په غوڅوَل شِي بيا بد آوازه
که ئې په مښک په عنبر کښې ځاي ورکړې
بد بوي به بيا ځِي له بده پيازه

د ليلي سترگه يوه گل داره وه
مجنون ته پاکه له عيب و عاره وه
چه پرې مين وِي عيب ئې نه ويني
مينه له ځايه مگر مکاره وه

خوشحاله مه ئې په زوي والي وياړه
هم ځني مهر وفا مه غواړه
هر چه زوولي دي دَ توتيا له نسه
دَ پدر کُشو په بوي دي واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریسي واوښتم مکړه پوښتنَه
هسي به نه وِي دَ چا لوښتنه
بار خو دِ گل دي و ما ئې راکړه
مذمونه نه دَه دَ گل غوښتنه

وخت دَ تلاش دَئ په ما پیري راغله
په زړه کښې خوشه بیا فقیري راغله
زویه مي ډېر دِي چه ناقابل دِي
ځکه په خوني را دلگیري راغله

چه ته ئې وویني په سترگو واړه
بقا ئې نشته باندي مه ویاړه
هغه چه تا ویني هغه باقي دِئ
فاني به څه کړې باقي وغواړه

څو نعمتونه تر سر تر پایه
چه تا موندلي دِي له یوه خدایه
په هَره ساه ئې شکر وَکاږه
که غافل نه یې ثنا ئې وایه

که وِي هوښیار دِ وِي نادان دِ یار مشه
ته به ئې گل گَڼې درباندي خار مشه
وخت دَ فساد دئ سړی لونډ ښه دئ
که ښځه وکا دَ زویه پلار مشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوک چه جن کا په سپينه ږيره
هر سپين ويښته ئې دئ تېره تر تيره
د هغې جني دي تر زړه وتلي
درته مي ووې واروه په ځيره

که ته آدم ئې کار دَ آدم کړه
کبږې به څو کړې کارونه سم کړه
دَ دنيا خلق سپي دِي ددان دِي
صحبت له سپيو له دَدانو کم کړه

وخت دَ پيرئ راغي ځواني ولاړه
په کام ناکام مي شوه پيري په غاړه
دا هم پوهېږم چه قدر نه لرې
که خاندې خانده که ژاړې ژاړه

خداي په خدائي ښائِي چه هونبره مينه
دَ دوو په منځ کښې هسي کښېږدينه
په هسي شان ئې وبله مين کا
چه ځبله ځان و جهان ښندينه

ربه دردمند کړه بېدردان واړه
چه واړي ژاړي ځما په غاړه
خوشحاله ملک له بېدردو ډک شو
دردمند په نورو ملکونو غواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدايه دا کار مي تر انجام راوله
تللي مَين مي تر مقام راوله
نيولي باز مي له دامه ووت
بيا ئې په بيارته تر دامه راوله

نوم مي دَ بدو په خلق خپور شه
که صاف صوفي يم وائي مَي خور شه
هيداد دَ ما شي دَ هغه نه شِي
چه له مستِۍ هړاند پي خور شه

خزان بد باد دَئ حذر ترې بويه
پاڼي دَ هري وني کا تويه
فائده آخله دَ بهار له باده
تا به دَوني په رنګ کا زويه

که ته لوئي غواړې ځما پسره
لوئي به نه مومې بې دردِ سره
صرفه دَ زر مکړه وېره دَ سر مکړه
مګر په دا کړې لوئي تر سره

ما وې ځما غُندي ميخور بل نشته
چه ئې بې ميو شرشور بل نشته
هسي مستان مي په نظر کښېوتل
چه ئې بې ميو بيور بل نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خپل بدخواه سَرَه په تېغ بازي کوه
نه چه ښکنځلي يا غمازي کوَه
ژبه خوندي لَره دَ بد گوئۍ
په حق راضي اوسه سر فرازي کوهَ

درته به وايم کار دَ خليل گوره
په څو ئې وساته داور دليل گوره
سبطي ئې پوري يوست قبطي ئې ډوب کړ
دا عقل پوهه دَ رود نيل گوره

ځما دايَم خدايه موجوده
وجود دَ هر چا دئ دِ تا له جوده
معبود د بل نه لرم معبودِ مي ته يې
معبود مي بل مکړه ځما معبوده

ځما دائمه قايمه خدايه
پخپل صفت کښې قدرت نمايه
تا مسلمان کړم تازه کامران کړم
عزيز دِ راوستم عزيز مي بيايه

که راته غوږ کړې ښه دلسوزي ده
که مرگ قبول کړې فتحَ روزي ده
مټ کړه زخمونه خوره ظفر که مومې
که نه ستا تېښته هم فيروزي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څه فراق دئ چه را برسېر شه
ارمان افسوس دئ دا یو څو پېر شه
بیا نه ئې دور دَ ځواني را نشي
وار دَ دلبري د زلفو تېر شه

که ډېر هوښیار یې خپسر نادان کړه
له ښو له بدو سلوک یکسان کړه
هر څوک پوره دي دَ خپلي چاري
خوشحاله جانه غم دَ خپل ځان کړه

که هر څو لږه ده په ډېر ئې ونیسه
دنیا به تېره شي په تېر ئې ونیسه
چه نوم دِ شوم کا کار دِ مذموم کا
واروه په زهر په ګنډهېر ئې ونیسه

خوشحاله مکړه دَ دنیا څله
زه درته وایِم په څو څو ځله
نه به زیاتېږي نه به کمېږي
هر چا موندلي وېش له ازله

دَ کرېږونه ترخه هم خږه ده
میوه ئې ولي پسته خوږه ده
اثر د اصل هر څیز پیدا کا
په خوله خوږه دَه په زړه کږه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چه پيدا يم و هغه کار ته
چار مي ښکاره ده و کردگار ته
يا ننگ يا توره يا دل آرامۍ
يا زړه تل تللي و هر هر ښکار ته

چار ئې په هر چا باندي ښکاره ده
د گل يا بوي دئ يا ننداره ده
چه نه ئې بوي وي نه ئې ښه رنگ وي
گل به ئې نه بولم دَ چارپاي چاره ده

دَ غره په کاڼيو کښې که چا کيميا مونده
درته به وايم باور کړه ما مونده
په نونس توکه ښايسته روغه
لکه مي غوښته هغه مي بيا مونده

توغي حج وکړه په روم په شام شه
کور ته چه راغَي په احترام شه
شيطان گمراه کړ کوځي ئې ونيوه
په هونبره چاري رسوا بد نام شه

بل دِ يو ځان غُندي راته پيدا کړه
هاله له ما څه و ما ته شا کړه
گڼه دا کومه ياري خپلوي ده
ما غم ته پرېږده ته ځان جدا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه چه ځوانه ده هونبره صحت ده
ځو چه زړه دَه هونبره زحمت ده
اولاد چه بد راوړي مېرمن و مه وینې
اولاد چه ښه راوړي وینځه نعمت ده

ساقي و ما ته ډکي پیالې راکړه
شراب په خم کښې دَ دنبالې راکړه
بل به ځما غوندي میخور پیدا نشي
کوزې په ځاي کښې دَ سنهیالې راکړه

دلبري سازي دي سحر سازئ ته
له خود رایئ و بې نیازئ ته
که زور که زر لرې توان دَ شور شر لرې
هاله هوس کړه شاهد بازئ ته

که بادشاهي ده که وزیري دَه
که خواجگي دَه که امیري دَه
زوال دَ دواړو وَ تا ته ووایم
ځرخ دَ فلک دئ مرگ دئ پیري دَه

په طور طور پیدا یُو موړه
مښک یُو عنبر یُو بصل یُو هوړه
شهد شکري زهر زقوم یُو
روئین یُو نیل یُو نسپال یُو شوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بادشاه سني دَئ خلق حيران شه
دَ رافضانو دَور آوان شه
که څوک په ملک کښې يو شاه زلمي دئ
توره تر ملا کا وخت دَ افغان شه

که سرداري غواړې خپل زړه دِ شير راوړه
صرفه په ځان مکړه حمله په ډېر راوړه
ضرب المثل دَئ دَ هوښيارانو
ملک ته شمشېر راوړه ښځې ته کېر راوړه

صحبت چه نه وِي له ښه احباب سَرَه
عمر تيرېږِي له ډېر عذاب سَرَه
هوښيار به هيڅېري بې غلطۍ نه وي
خطا تړلې ده اهل صواب سَرَه

مرګ د ميدان را په بستر مي مه وژنه
مؤمن مي وژنه کافر مي مه وژنه
چه په ميراث مي حساب کتاب شِي
هسي غوولي تونګر مي مه وژنه

دَ عارفانو له زړه مردوده
ولاړې دَ دين او دنيا له سوده
که هر څو ګرزې تر شرقه غربه
سعي دِ ووينم واړه نابوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بادشاهانو نمنځل واړه
تر هر چا هسکه کا خپله غاړه
که اصل نه لري اصل پيدا کا
که عقل نه لري عقل ترې غواړه

دَ مرد وقار گوره دَ مرد تمکين گوره
مهر له دوسته له اعدا کين گوره
بيا ئې له پسه دين و آئين گوره
هغه چه دا لرِي بخت ئې قرين گوره

څو چه توانېږې له هيچا بد مکړه
څوک چه ښه کېږي باندي حسد مکړه
که ئې اوبه وړي که ئې لمبې سوځي
زړه سوي په مار په لړم په دد مکړه

که نور څه نه وي دا هونبره زده کړه
چه زړه دِ يو دئ ياري يوه کړه
څو چه يارئِ هونبره غمونه
ډېري يارئِ له هيچا مکړه

که خپل خداي پېژني راته ووايه
درته به وايم اې رهنمايه
خداي مي هغه دَي چه نېست و هست ئې کړم
ځما توبه دَه له بله خدايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر هيڅ نه وم چه دا افعال شته
دَ پلار له زویو سَرَه دا حال شته
لکه عابد وکړه یا بد فرجام وکړه
دا حال په هر چا دَئ که په خوشحال شته

قدر دَ ګلو دَ مل مستانو زده
نه تېره دلونه تنګدستانو زده
هغه چه نه خوري په مي څه کار لري
راز مي دَ میو مي پرستانو زده

که غوږ که سترګي که خوله که پوزه
هر یو خپل کار لري تر بل ئې کوزه
کار چه دَ سمع دَئ بصر ئې کله کا
دَ خولې پکار نه ده پوزه فیروزه

چار دَ مرګوټې معاینه ده
ښه تر ژوندونه هر آئینه ده
پښې تېشه ماته کا ائینه سازه کا
چه تر تېشه نه ښه آئینه ده

دَ یار وفا ګوره راستي دا دواړه
هغه چه دا لري ورباندي ویاړه
که ښایسته وِي ادب هنر لري
یار دِ هم دا دئ بل یار مه غواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرته غره ولاړې په باد مغروره
حباب ته گوره بلا دِ دوره
نیستي هستي ئې فنا کېدَل دِي
واړه ستا چار ده درته خصوره

ورور چه د ځان شو ژوند ئې واژړه
که هر څو ښه دي په ښه ئې مه ویاړه
کمین چه مست شِي ځني پناه غواړه
خوشحاله ځان په سگانو مه داړه

باغبان چه کښېږدِي په باغ کښې ونه
تپاک پرې څو کا تل په ساتَنه
که بر ئې ښه شي زړه ئې پرې ښه شي
که بد شي نکا باندي وتنه

خسیس دِ پرېږدِي په دوه پشیزه
هلک دِ پرېږدي په دوه مویزه
که ته دانا ئې زړه به پرې نه تړې
یاري دَ دواړو گڼه ناڅیزه

زه ډېر مین یم په ښه خبره
نه ښه خبره نه مرغلره
چه ښه خبره له چا نه واروم
وایم چه ځار کړم ترې مُهران څو زره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خپل پدر سَرَه دَ خپل پسر سَرَه
دَ پير استاد سَرَه د يوه هر سَرَه
خپلوي که مينه که محبت کا
په سود نظر لري نه دَ ضرر سره

دنيا پاله[١] ده يا سپينه توره ده
نيکي بدي ئې درته حضور ده
چه دِ رضا ده هغه په لاس واخله
په هَرَه چار کښ راستي منظوره ده

زويه چه ووت دَ پلار له رايه
توبه دِ وکا کم بخت ته وايه
توبه کَه نکا سزا به مومي
په وواړه کَونه له يوه خدايه

ته معشوقه بې پروا دِ کومه ده
زار د عاشق دي چه چارې شومه ده
بې تا کباب دي په اور وريتېږي
چار دِ د هجر دَ اور معلومه ده

خوشحاله ته مه گوره کوگل ئې گوره
ډک دَي دَ بلو لمبو دَ اوره

---

١. پاله يو راز ټوپک وُ، دَ قلبې تېش ته هم وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که شین مزري ئې که مست هاتي يې
خپل ځان له بلو لمبو نه ژغوره

خوراک پوشاک دَ سړي دا دواړه
خوښي ئې ګوښي خپل ځان ته غواړه
ښه ښه ځایونه ښه ښه باغونه
په دا چه وشي شريک دي واړه

قاضي مجنون يم عمر دِ ډير شه
و عشق ته ګوره تر عقل تېر شه
خوله دَ ليلي ده دَ عشق په شرعَه
په موزي ګيو زهر ګنهٔهير شه

مه سلطنت غواړه مه ډير دولت غواړه
ښځي ته وايه عصمت عفت غواړه
توفيق له خدايه دَ عبادت غواړه
خدمت دَ شوي کړه دَ ځان صحت غواړه

عطا دَ خداي دي دا يو څو څيزه
تر دا به نشته نور څه عزيزه
يو ښه جمال دئ يو ښه خصال دئ
چار دَ قوت ده ور سَرَه نيزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که جود په ما وکړې بهتر دئ تا لره
که جود په ما نکړې بهتر دئ ما لره
دَ جود په کړه به منت په ما بار کړې
منت چه نه وي ښه دي دانا لره

وَ ما ته ښه ده هوښیاره کُنډه
تر پېغلي جني کم عقله تړنډه
هغه به زیست و روزگار په عقل کا
دا به روزگار کا پخپله هنډه

خانان ئې واړه تلاوت خوان کړه
د هند هندوان ئې دانشمندان کړه
وخت دَ اورنګ دَئ عمل هیڅ نشته
خو کتابونه ئې په عالم ګران کړه

چه بخیل کېږې هسي ساتل مکړه
چه مسرفېږې دا هسي تل مکړه
خپل خوان په هر چا خوره منت پچا مکړه
دَ بل و خوان ته خالي کتل مکړه

دَ چا و خوان ته خالي کتل مکړه
که تل دِ خوان خورې منت په بل مکړه
چه پرې باور ځي هسي ویل مکړه
چه مال دَ بل شي هسي ساتل مکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته ښکاره شو وګړي واړه
دوه به نه ووينې په يوه غاړه
وفا به نه مومې له آدمزاده
له تا چه وَزېږِي باندي مه وياړه

غضب ملوک لَره دروغ ملا لره
بخل غني لَره فحش نسا لَره
دا څلور توکه هر ګوره بد دي
فکر چه راغي په زړه کښ ما لَره

په درست وجود کښ ښه دي دوه څيزه
يَو زړه بيا ژبه ځما عزيزه
زړه ښه همت لَره ښه خوي خصلت لره
ژبه فصيحه رښتينۍ نيزه

اوس بې وفا شول دا ياران واړه
دَ پلار په راي نه ځي فرزندان واړه
که نيک که بد دي پدا دستور دِي
سَرَه خپلوي نکا اقربان واړه

درته به وايم خپل حال په ځيره
دَ آزاده وُ په حال خبيره
په توره بړېره مي که څه پکار وه
په تبر مي ونيوه په سپينه بړېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت دَ بهار راغي خزان اوس کم شه
مطرب په زېرمه دَ زېر و بم شه
شراب له خمه راغله ښيښو لَره
کوزې کاسې راوړه خوشحاله ډک خم شه

دنيا ناڅيزه دَه بې دنيا ژوه
دنيا که څيز وي دَ نادان به نه وه
اهل به نه مومې نا اهل ډېر دِي
له خلقو ګرزه جدا به يوه

ځما له دله دَ بدو خواست بيايه
و ښو کارونو ته ئې په زغاست بيايه
ظلوم جهول يم په کږو لارو ځم
الله ته مې په راه راست بيايه

لافي دَ عقل و علم هوش هونبره
دَ کام دَپاره جوش و خروش هونبره
دَ سود په لوري هر چا ته ګوش هونبره
دَ زيان دَپاره دَ خاطر جوش هونبره

چه بادشاهيان دي خانان دي وروره
نور څه ئې مه ګڼه بې بَلَه اوره
که سور مزري يې که تور هاتي يې
خپل ځان له بَلَه اوره نه ژغوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زويه كه ووزي دَ پلار له رايه
زويه دَ چا دَئ كم بخت ته وايه
تر قتل كه لاندي شي اندوه ئې مكړه
په فيل كه پاس كښېني هم ئې مه ستايه

رنځ ئې په غاړي په غرونه كښېږده
گوهر گوهر دي خدا ئې راپرېږده
سعادتمند شه دَ پلار په خونه
ميندي دا هسي زويه تل بلېږده

چار دَ ځوانۍِ دَ فسق فجوره
له لاسه ولاړه لكه ښه توره
اوس مي دا زهد چه دَ پيري دئ
كشكه ئې چار وَي هورې منظوره

فرښته كه كښېني چېري له دېوه
څه به ترې زده نه كا بې مكر و ريوه
چه سَرَه گډ شي خوند به ئې نور نشي
كه مړغونې كښېږدې له سېوه

كه راست گوئي لري پاكه عفيفه ده
كه زر خريده دَه په ذات شريفه ده
كه لور دَ پير ده كه دا ئې نه وِي
بده كثيفه ده گنده خفيفه دَه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه مستغني شې له شاه و میره
که درته بد وائي که ښه په ځیره
که هیڅ پروا دِ وربانديي نه وِي
مرد یې رحمت دِ په وللې ږیره

نېکان عزیز دِئ له خپله رویه
ښه کړه له بدو سَرَه خوشخویه
په باغ کښې هرَه وَنه اوبه مومي
تروه ترخه وِي خوږه خوشبویه

دَ رود په غاړه کښېنه نظر کړه
غافل که نه یې په دا باور کړه
لکه رواني اُوبه چه درومي
رخصت خپل عمر ته هم هسي ورکړه

که کار په ږیره دَئ یا په غاښونه
له ما نه پاتو شوې گلرنِگي جونه
که کار په نور څه دَئ خواجه خضر یم
لا به دَ جونو گورم مخونه

مستي دَ میو مکیال مکیال دَه
بیا دَ ځوانيِ جوال جوال دَه
که دا مستيِ دواړه سَرَه کړې
ور ځني ډېره دَ مال دَ مال دَه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجب سودا دَه دَ کابین غوټه
چه ښه وِي ښه شي وبله بوټه[۱]
فرزند چه ښه راوړي سود ئې بېشماره
که نه دَ دُرو سودا شوه تروټه[۲]

څوک چه توانګو شي په قناعت سَرَه
افلاس ئې نشته په روایت سَرَه
حرص ډېر شوم دَئ حریص محروم دَئ
نظر که وکړې په حدیث آیت سَرَه

دا چار تر نمره لا مشهوره ده
نور څه ئې مه ګوره دَ مرد چه توره ده
دَ مرد تر توري دا ښځه ښه ده
که ستر پوښه پاکه مستوره ده

ساقي تحویل دي وکړه وته[۳]
پاڅه راواخله هغه ته ته
چه ما به تا سَرَه پیاپي وڅښه
هغه زه زه یم هغه ته ته

---

۱. بوټه یعني ناراضي او خفقان.

۲. یعني فضوله او نقصاني.

۳. دې کلمې ته محشي لیکلي دي یعني برج دلو ته دَ لمر تحویل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپله یاره غواړه څو څیزه
تش دِ ئې نه وِي زړه له تمیزه
ټینګ دِ په شرعَ ټینګ دِ په دین وي
دنیا دِ نه وِي ورته عزیزه

په درست جهان کښې مې آشنا بیا نمونده
څوک به ئې څه غواړي چه ما بیا نمونده
عمر مې تېر شو په آشنائي کښې
له چا مې بوي دَ وفا بیا نمونده

مردي دا مه وایه چه په ذکر ده
یا په دنیا ده یا په مال زر ده
که شرم ننګ لرې دَ سر پروا نکړې
مردي هم دا ده که دِ په څر ده

ځواني که ګورې لکه سره زر ده
تر سر تر پایه واړه هنر ده
که هر څو ښه یې عیبونه نلرې
پیري دواړو عیبونو سر ده

شرم یوسف دَي ارزان ئې مه پلوره
غټه پکار ده وړو ته مه ګوره
نرئَ ونه په نرِي باد ښوري
که لویه ونه یې په لږ باد مه ښوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل خپل فعلونه دَ سړي رهبر ګڼه
پخپله پوهه کښې قابل يو هر ګڼه
چه خير غواړې خير نه بيا مومې
چه شرطلب وِي بخره ئې شر ګڼه

ځواني که هر څو يَو نوبهار دَه
چه درومي تله کا بيا څه پکار دَه
په اور کښې وسېځه دَ ګلابو ګل شې
چه بوي دِ پاتو شي دا چار په چار ده

ګوره دا فکر عبث ځموږه
هسي په باد ځي نفس ځموږه
عمر په لهو په لعب تېرېږي
موږ دَ هوس يُو هوس ځموږه

صوفي دا هونبره له ما نه زده کړه
نور چه پوهېږې واړه هغه کړه
مستانو مستي پيالې نوشلي دِي
هر څه چه وائِي غرض پرې مه کړه

جن هونبره ښه ده چه مهر داره ده
دَ پلار په کور کښې ناسته قراره ده
چه دَ جن والي دفتر ئې خپور شه
که صاحبي کا بيا خدمتګاره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا مرداره دَه گنده بد بویه
چه پرې ټلېږي له هَره سویه
واړه سګان دِي ګرګان دَدان دي
باندي غوغا کا دَ نفس له خویه

لقمه طیبه صلوٰة دا دواړه
که ستا په ځاي وي ښادي کړه ویاړه
که دِ په دا کښِ خلل شِي
غم دِ په کور دَي کم بخته ژاړه

سړَي که تور دئ که سپین پدا مشه
دَ مرد په کار کښِ عقل خطا مشه
تن یو غلاف دَئ زړه پکښِ توره
مدار په توره دَئ غلاف نما شه

چه عاشقانو دَ حق دیدار لیده
موسٰي په ونه منصور پدار لیده
جلوه ئې وکړه په بایزید کښِ
دَ تېرې توري په مخ عطار لیده

که سرداري غواړې بلا دِ دوره
عقل همت راوړه بیا جود بیا توره
لکه آسمان وَته خَتَنه ګرانه ده
سرداري لا دَه ګرانه منظوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ته خبر شې له دې رموزه
سپیه چه لنگه شي له گرگه یوزه
نتاج یې واړه نابود پیدا شي
وحشي صفت وِي مرتبه کوزه

یَو بخت بل عقل دا دواړه څیزه
دَ مور له بطنه څما عزیزه
که دَ څښتن دئ که دَ مریي دِئ
که ئې میرمن لَري که ئې کنیزه

خوبي دَ عمر تر څلوېښت کاله ده
چه په ځوانئ کښې مالا ماله ده
حراس که درست لرې شکر وکاږه
څو دِ ودانه دَ عمر څاله ده

یا واړه ویني فاسدي لیري کړه
یا دَ زړه لیري د فصد[1] خبري کړه
یا د کور سرې دربلي پرېږده
یا واړه لیري له کوره سِري کړه

له ښو سړیو یگانگي ښه دَه
له بده خلقه بیگانگي ښه دَه

---

۱. فسق خبري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هوښیاري کښ چه خلاصي نه مومې
ځان دېوانه کړه دېوانگي ښه دَه

دَ عقل بخره عنایتي دَه
لاله میثاقه هدایتي ده
قابل به هیچیري کم عقلَ نه وِي
ځما خبره دا آیتي دَه

عشق دَ ځوانِۍ وکښلې توره
ځار ئې تر فسق هم تر فجوره
چه مي نیولي دَ پیرۍ په دور دي
اوس کم دا زهد دئ له ضروره

نه دِ څه مهر دَ زړه پما شته
نه دِ دَ ژبي دروغ رښتیا شته
هېښ یم که مست یم که لېوني یم
چه لا مي طمعَ دَ یارۍ پتا شته

خپله خبره دَه مرغلره
بې فکره مه وایه خپله خبره
پند مي په یاد لَره که مي نېکخواه گڼې
څو چه توانېږې خبره نغره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا ترس دَ خداي دئ يا هوښياري ده
دين و دنيا لَره چه کامگاري ده
هغه چه دا لري پرې مي سلام دئ
په دواړه کونه ئې رستگاري ده

مهر نېکانو سَرَه جاويد لَره
تل زړه له ديو سَرَه سفيد لره
بدان که هر څو لايق دَ بدو دَي
نه چه يلکخت ئې محروم نوميد لره

پوري په خونه دَ ايمل خان شه
په سول دَ خوني د خان خانان شه
دا اور که و نه مړ دايم ناري وهم
په وار وار پوري په درست افغان شه

غرق په نعمت کښې يم سر تر پايه
زه دا نعمت لرم له خپله خدايه
شکر سپاس به ئې په څو په ځاي کړم
چه پيدا شوي يم ضعيف له ځايه

څو تجربه نه کړې خپل زويه وروڼه
هونبره دَ ديو پکار مه موڼه
زويه هغه دئ چه ځان څرگند کا
گڼه بهتر دئ له زويه لوڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه سل په زړه لري يوه په ژبه
هغه دِ پرېوزي په لويه تبَه
چه زړه او ژبه سرَه يکرنګ لري
هغه به خلاص شي له معاينَه

که دا خو دا ده بېدي بېديا ده
چه دا ځما دَه کله ځما ده
که دا فنا ده بله بقا ده
عجب غوغا ده عجب سودا ده

اې چه دَ نول ده ځما له مخه
دَ رقيبانو په بده رخه
په عشق کښ مرد اوسه پروا ئې مکړه
زه به دِ نه کړم وَ چا په سخه

زړه مي دروغ کړ دلبري واه واه
که ژر ئې را کړې په غېږ کښ آه آه
وخت د ګلونو شو تازه بهار دئ
ښه مخ تل تل ګوره باده هم ګاه ګاه

زاغ او زغنو خالي غلغل زده
دَ ګلو قدر شيدا بلبل زده
هغه چه نه لري مستي دَ ميو
هغو مي کله په ګل و مل زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستان دِ ژوه بدخواه دِ ومره
زه برله تا وخورم ته برله عمره
چه هونبره مهر ته په اغيارو کړې
يار به دِ پائي له هسي عمره

دنيا که دا دَه چه ښکاره شوه
ښه چه دَ وخته لا اواره شوه
خواږه خپل زوي ؤ خواږه خپل ورونه
ځما له ديو نه سينه پاره شوه

هغه چه شوي دئ دَ ده له لوريه
هغه به کېږِي له بخته ستوريه
که دِ دوستان دئ که دښمنان دئ
وتلي نه دئ دَ ازل له توريه

احمق په کلي کښ پيدا خداي مکړه
که دِ په کور کښ پيدا شي زده کړه
لا ئې په ليري ملکونو وشړه
يا ئې له تورو خاورو سَرَه کړه

که هر څو پوه يې خوشحاله راشه
خضر پيدا کړه پسې موسٰي شه
سخ د هغه دئ چه ښه پيشوا لري
غم به دِ نه وي خبر پدا شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه که هر څو په مخ زیبا ده
په هر هنر کښې پسندلې دا ده
ظاهر ئې مه ګوره باطن ئې ګوره
هاله ئې ستایه که دا پارسا ده

ځواني ئې ولاړه ځني مایوس شه
باز دي عالم ته خوشحال تپوس شه
شاه د شطرنج دئ نیژدې و مات ته
ورته اوس پاتو یَو فیل منحوس شه

ګمان دَ نیکو تل په دوستانو کړه
ګمان دَ بدو په دښمنانو کړه
دَ جاهلانو سرَه قرین مشه
صحبت یکلخته له عاقلانو کړه

دروغ په ځان باندي خون خنزیر کړه
که دارو کېږي روایت ځیر کړه
طبیب چه وائِي هسي تدبیر کړه
دارو دَ وینو سرَه خمیر کړه

یاري ئې نه ده دا سرابي ده
که وداني ده هم خرابي ده
چه زړه پرې ښه کا هوقیار به نه وي
هستي نیستي ئې په شتابي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل تر خپل دست لَره دَ چا تر دست مشه
شرم پرست اوسه شهوت پرست مشه
چه کار دَ دین دَ دنیا خراب پریږدې
هسې بېخوده دَ میو مست مشه

چه زړه ژوندې لرې دَ عشق په مینه
هغه که وَمرِې گنه نه مرینه
فرهاد که مړ دَئ مجنون که مړ دَئ
نوم به ئې هر کله په جهان وینه

که چا ته وکړې دَ زړه خبره
تاکید پرې وکړه چه وئې نغره
که دِ خپل زوې دَئ گمان پرې مکړه
چه به ئې نکا چا ته ظاهره

که دین دنیا غواړې پرده پوشې کړه
فتنې له خولې پاڅې خو خاموشې کړه
که نه خاموش یې نه پرده پوش یې
بېخوده پرېوزه باده نوشې کړه

چه دِ په زړه دې هغه په خوله لره
چه دِ په خوله وِې هغه په زړه لره
دا دواړه توکه لکه مَریئ
په یوه تار ئې پېلې ته لره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله لمبه دِ دَ وصل ژمنه دَه
بله مي عين دَ زره دننه ده
که دا دَ خولې دي که نور دادُونه
چه کښلیو نه زده کومه نمځنه ده

څو مي له تا نه درنه سینه دَه
هونبره مي دې سَرَه ډېره کینه دَه
چه ورته وګورې فتنې په لاس واخلي
چه ته ئې مسته کړې ستا آئینه دَه

که دِ په غولي وَلاړه ونه دَه
هونبره پرې ویاړه څو لویه پلَنه ده
یا به مېوه لرِي یا به سایه لري
جوړه په ونه باندِي ستاینه ده

دَ پاسه نشوه دا چه دَ لاندِي ده
بل ګل به نه کېده چه دا دَ سپاندِي ده
مه ترې حیا غواړه مه ترې وفا غواړه
هغه لنډۍ ده لکه دَ وړاندِي ده

جفا چه وونې له چا وفا وکړه
که څوک ښکنځل وکا ورته دعا وکړه
که آدمزاد یې خوي دَ آدم راوړه
غمجن چه وَوینې باندِي ژړا وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانمرد که نه يې له ما نه نن زده کړه
بخښل دَ جرم خوړول دَ نغن زده کړه
چه راغله راغله چه ولاړه ولاړه
خوي دَ شادمنو نه دَ غمجن زده کړه

چه عاشقي کړې پېغور قبول کړه
دَ واړو خلقو شر شور قبول کړه
که څوک دِ اچوي و سرو لمبو ته
دَ يار دَپاره سور اور قبول کړه

غم و غليم ته له دله دور کړه
خانده هوس کړه ښادي سرور کړه
که مخ دِ زيړ وِي په دلګيري کښې
ته ئې په دواړو څپېړو سور کړه

ډېرو ليدلي دَ ليلي رخت وه
شويه پرې سوپ وُ ناديده وخت وه
زه يار مشفق لرم ده يار بد خوي درله
زه بختور يم مجنون بد بخت وه

دا سحرګره دنيا مکاره
زويه وېزار کا له موره پلاره
چه ئې وېزار کا له موره پلاره
هسي دا هم شي ځني وېزاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



که سبروَنه په قد درازه ده
نه چه تر تا نه هم سرفرازه ده
ځما حذر شي د تا له سترګو
که دَ کوتري وېره له بازه ده

څه شي مي بيا مونده معني له جاهه
که جاه باله شي بد وي تر چاهه
په جاه به هيڅوک غلطي نه کا
بې له احمقه بې له ګمراهه

که په ديدن ده ديدن هم ډېر وشه
که په خوردن دَه خوردن هم ډېر وشه
خوشحاله بس کړه وخت دَ عمل دئ
لوستن هم ډېر وشه ګفتن هم ډېر وشه

سحر مي خوب ليده اندوه مي زياته شوه
مَي مي چه وځښل پياله مي ماته شوه
سمند مي پاسه په بام جولان کړ
له بامه پرېووت شا ئې غبراته شوه

يو نيم ګړَي ده دنيا نيمګړې ده
نو عاقلانو په هيڅ نومړې ده
چه ئې ياوَ جوړه يا ئې چا ورکړه
دنيا خو هغو له ځانه وړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاړه غافله په بار بار ژاړه
دَ ځان بلا شوې پخپله واړه
که دا جهان دَئ که بل جهان دَئ
در څخه ولاړل په غفلت دواړه

ته قهقه خاندې غم تم په بل شه
غم تم په بل شه بل چه تل تل شه
قاتله ځله په کابو بويه
پرې باندې پاڅه غرڅه غافل شه

دَ چا ناحقه له مرگه ويره ده
دا چار که گورې هر گوره غوره ده
زرگر وَښي مات کا اوړئَ سازه کا
لا تر وَښي نه اوړئَ بهتره ده

که هر څو ښه دَه چه تېريدونې ده
دنيا په پچه نه پېرېدونې ده
که ښه کړې ښه کړه که بد کړې بد کړه
کرده دَ هيڅا نه هېريدونې ده

جفا دَ خلقو هر گوره ډېره شوه
وفا دَ هر چا له دِله وهېره شوه
وخت دَ قيامت شو که نور آفت دئ
يَوه بلا دَه چه را برسېره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر دِ ور نشي دَ نادان تر کوره
په زر دولت دئ عزت دئ گوره
په بد ئې خرڅ کا قدر ئې نه لري
کاسه ئې زر شي په ډاگ نسکوره

سخا تر هر چا پخپلو لا ښه ده
په ښه وَیلو ژبه گویا ښه دَه
دَ ښو دلبرو سرَه خندا ښه ده
خوشحال ختټک ته دنیا پدا ښه دَه

په قد چه نوم لري سرو پڅولکه[1]
په مخ چه نوم لري تمام اوږمکه[2]
خوله دِ حقه دَه دَ سرو یاقوتو
په سپینو دُرو گوهرو ډکه

دا چار خرگنده په هر دیار دَه
بدي ښېگړه دَیار دَیار ده
د زړه دِیار مي خالي له غیر دئ
په کښ دلبره دیار دیار ده

---

۱. دا کمله عینا ولیکله شوه.

۲. یعني سپوږمۍ، ماهتاب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه[1] بوډۍ ده دَ کالو ډېره
تر سلو زرو مړونو تېره
دَ ډېرو مړونو ماغزه ئې وخوړل
لا به ئې ښخبي پرې نه ده سېره

تر باز که لاندي کړې دَ کارگه هويه
باز به را نه وړي کارگه ترې بويه
که دَ مزري سَرَه ياري آغاز کا
کوم خوي به واخلي دَ مزري مويه

که زوي دَ پلار يې دَ پلار هنر واخله
نه چه ئې مال و ملک وَ يا زر واخله
بهرام که زوي دَ خوشحال خټک وُ
هنر ئې نه وُ ځني خبر واخله

دَ لور عفت غواړه دَ زويه توره
هغه چه دا لري بلا ئې دوره
چه دا ئې نه وي مرگ ئې مېلمه شه
مور دِ دَوخته شِي په دواړو بوره

تل سي ساله وَي دَ خداي دَپاره
گل و لاله وي دَ خداي دَپاره

١. دنيا بوډۍ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښو ښو جونو جمال تل تل ليدي
په لاس پياله وي د خداي دَپاره

ښځه خوشخويه غواړه خوش رويه
کنه بد رويه ښه ده خوشخويه
مينه ئې ډېره تر رنگ به بوي شي
څوک چه خبر دئ دَ گل له بويه

له قامه ولاړ شوم ليري په کروهه
خالي ارمان دَي وروستنۍ پوهه
په تېرو چارو پسي ارمان کړم
اوس مي څه سود دَئ له دې اندوهه

ساقي بيا مهر کړه دَ ميو مهر شه
دَ منځ دَ تلي[۱] مقام دَ مهر شه
په کښ به ډېر ډېر خوښۍ وي
بيا را بر سېره دَ فلک مهر شه

دَ نو دولتو دنيا که ډېره ده
دَ جود وينا ئې له دله هېره ده
څوک دِ ئې گرم او ملامت نکا
يوه بلا ئې تر تندي تېره ده

---

۱. يعني دَ ميزان د برج منځ ته لمر راغي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ رقیبانو په ډېره رخه
دایم جدا شوم دَ یار له مخه
شوم یم چه پایم په دا ډېر غم کښ
یو جدائي شوه دوهمه سخه

در پېښه مشه دَ بخت کږوه
خوني مزري کا په تا بروه
دَ باز شړلې زرکه مي ولیده
دَ باد خورکو باندي خوږه وه

زه ئې خبر یم له زیانه سوده
حسد مذموم دَئ عبطه محموده
حسد دَ چا دِئ دَ نامردانو
غبطه را پاڅي دَ مرد له جوده

چه علم وکړې عزیزه زویه
فهم په علم په عمل بویه
کمکیه ونه بار داره ښه ده
نه پلَنه ونه بې باره لویه

که یار دِ سپین دَئ و تا ته تور مشه
که دَ صفت دئ هم دَ پېغور مشه
نیک بد به واړه په دا پوهېږي
که ته هغه یې خود دِ اوس نور مشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شيخ رحمکار مي تازه توبه وکړه
هغې نګاري راته ښېوه وکړه
زړه مي هر ګوره په انديښنو شو
توبه مي بده ده که توبه مي ښه وکړه

زه دِ کباب کړم خداي دِ کباب کړه
غليم خو نه يم څه خو حساب کړه
نه دِ وفا شته نه دِ جفا شته
ناکسَ درومه خداي دِ خراب کړه

که سروري غواړې دَ هر چا وړوني شه
پرده پوښي کوَه لکه پړوني شه
که بد ګفتار دئ که بد کردار دئ
چه عذر خواهي شي آواره کړوني شه

وفا ترې مه غواړه دا دوه درې څيزه
چه بې وفا دي ځما عزيزه
يَو آس بل ښځه که هر څو ښه وي
دريمه توره ور سَرَه نيزه

درېغه ښه زويه درېغه ښه وروڼه
چار ئې تر لعلو تر درُ و چوڼه
چه دواړه توکه لايق قابل لري
هغه ته وايه که موڼې مونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر په زانو کښېږده دا چارحاشا ښه ده
تر باغه راغه دا تماشا ښه ده
څو کام ترې مومې په غم کښ درومې
دنیا که دا ده دنیا ته شا ښه ده

تخم ضائع کا بد اصله مځکه
ښه پئ خسا کا بده غړکه
هغه چه کرکا یا پئ شاربي
هغه دِ نکا دا پوهه ورکه

دَ دنیا میني یارئ واړه
بقا هیڅ نه لرِي باندي مه ویاړه
چه به ئې ژاړې په جدایئ
جدا چه نه دِي واړه وژاړه

چه په قران کښ دي منلي واړه
مشکاة مصباح ته نیولې غاړه
نفس دِ په دا کښ که فضولي کا
شیطان خوار کړې بدبخته ژاړه

چه هر زمان مي په زره میشته ده
هغه مهرویه دَ زړه دمه ده
خداي خو دِ صبر له دِې را نه کا
دَ صبر خبرَه که هر څو ښه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به دا مځکي وي نه آسمانونه
واړه به واوړي دا ديوالونه
باقي به بل يو جهان پيدا شي
مولا لرِ نَلرِي خپل جهانونه

دا خاوري نه دِي چه موږ پرې ځونه
دَ خيال زلمي دِي گل گوني جونه
گوره له کومو خاورو به گډ شو
په هر زمان دِي دَ مرگ پېچونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ی

اې چه دولت لرې بد دِ خصلت دئ
دولت به بایلې ښه نَصیحت دئ
باز چه له بده باز داره ولاړ شي
و به ئې نه نیسي دا تجربت دئ

آس دَ خانانو دَئ دَ ښو کسانو دئ
نه دَ نادارُو دَ مفلسانو دئ
ماړه ښاربه ښه دئ وږي گنده دئ
ډنگر د چاري د کرگسانو دئ

آزار د خولې دئ آزار د لاس دئ
له دواړو خلاص دئ هغه چه ناس دئ
سړي به نه وِي هغه به دد وي
چه په دا دواړه توکه الماس دئ

اور وَړانده ته په تاو مفهوم شي
و سترگه ورته ښرگند معلوم شي
هغه چه پرېوزي وَ اور ته رنگ واخلي
هر څوک خبر دَئ چه اور ئې نوم شي

ابله هغه دي په ورځ ښراغ کښېږدِي
یا چه بې درده په صورت داغ کښېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا چه دَ شگو عمارتونه کا
یا چه په بده مزکه کي باغ کښېږدي

اهل کیمیا دئ کیمیا به څوک مومي
اهل وفا دئ وفا به څوک مومي
نوم دَ عنقا شته پدا جهان کښ
اهل عنقا دئ عنقا به څوک مومي

اصیل چه نه لري ادب هم هیڅ دئ
جمیل چه نه لري نسب هم هیڅ دئ
چه دانشمند دئ حکمت هنر لري
که دَ بادشاه لري منصب هم هیڅ دئ

اندوه هیڅ مکړه خوشحاله سخ دئ
خوارِي دِ ولاړه دولت ته مخ دئ
هغه چه تا وته خوړوني سپي وه
په لیري لیري ملکونو چخ دئ

امید که ګورې بهتر تر بیم دئ
عطا پرې مه نیسه که دِ غلیم دئ
چه له اعدا سَرَه په مدارا وي
دا کار دَ چا دئ کار د حکیم دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې چه بې مثل په کړه اووړه یې
گل رنگه روغه دَ خداي په کړه یې
دا هسي ولي دَ زړه په وړه یې
په هیچا نه یې خو پخپل زره یې

آتش قبول کا گني چه قند شي
په هر دیار ئې صفت دَ خوند شي
ادب دَ زویه دَ ورور بایده دي
جوهر دَ توري په صیقل څرگند شي

اسمان چه هونبره لوئي رفعت لري
مزکه چه هونبره ستر وي وسعت لري
دا به خداي واړه سَرَه فنا کا
چه لوي عظیم دي عظیم ساعت لري

آفت که گورې په بې ننگي کښې دئ
نکبت دَ دهر په ولتنگي کښې دئ
ما له دوُ رنگو فایده و نه لیده
که سود دَي سود خو په یکرنگي کښې دئ

احمق در وښیَم که احمق گورې
احمق ړانده دي په سترگو توري
تور وته سپین وائي سپین وته تور وائي
په غوړونو آوري خبري نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې چه په رَو کښ گزار ته ساز يې
سترگي دِ لکي غوږ په آواز يې
غاري غرڅه دئ دربانديي درغي
په تخرگ ئې وله که تير انداز يې

اې دَ چشمانو په غمزه الماسي
دا څه هنر دئ له عاشق ستاسي
تر سر تر پايه راته ووايه
ترې دِ يستلَي يم لا مي وباسې

اى نفس فضول از فضولي باز آى
چون مردم جو فروش گندم منماى
هيچي و از هيچ چه خيزد هيهات
بيهوده مگوى و هر زمان ژاژ مخاى

اوس له ديو ښځو کله مردم زېږي
ور ځني واړه مار و لړم زېږي
دخول که نکړې ور سَرَه ځاي لري
چه ځني واړه په عقلَ کم زېږي

اې چه حکيم و عليم دِ نوم دَئ
ورکړې آخلې کار دِ معلوم دَئ
شيرين ژوندون دِ وربانديي تريخ کړ
خوشحال چه نه وژنې حکمت دِ کوم دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمق که هر څو دنيا دولت لري
دولت به باي کا چه حماقت لري
که ډېر نادار وِي شکر دِ کانِدي
که خوي ئې ښه وِي علم حکمت لري

اصيل به شرم حيا وفا لري
اصيل ئې وګڼه هغه چه دا لري
که شاهزاده وِي چه دا ئې نه وي
اصيل ئې مه ګڼه يوه بلا لري

ايمان دَ سرو زرو تر غرونو ښه دئ
منافقانو وته هيڅ نه دئ
لال دُر چه پېژني هغو ئې قدر زده
چه شناخت ئې نه لري سوړ ئې ترې زده دئ

اې چه پرئ و ما ته ستايې
که يار مي ووينې بيا به ووايې
هر چا چه وليده باندي بلبل شو
مخ دي که ګل دئ د دلربا ئې

ادب چه نه وِي په سپين په تور کښې
عزت به نه وي په هغه کور کښې
دولت به درومي له هغه خلقَ
چه سَرَه تل وي په شر و شور کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوه آسمانه اوه ئې ستوري
دولس برجونه دِي چه پکښې ښوري
غمجن دِ طمعَ دَ ښادئ کاندي
دَ شپې ځښتن دِ سحر ته گوري

اسپي آسونه وته ساتلي شي
ټټوئ خرونه سَرَه شړلي شي
ټټوان يا خرونه باندي خَتَنه كا
ځني نابودي گلې حاصلي شي

آزار دَ اهل و ما ته جهل دئ
خپل ځان كه ځار كړم تر اهل سهل دئ
دوږخ در وَښَيم په دا دنيا كښې
دوږخ صحبت دَ سفله نا اهل دئ

اې چه رحمان او رحيم دِ نوم دئ
عظيم بادشاه يې كار دَ معلوم دئ
نادان په تاج كړې دانا محتاج كړې
ما پرې خبر كړه حكمت دَ كوم دئ

آسمان روغ زړونه ندي پريښي
دَه دِي په هر چا چاپونه يښي
څو ئې دا ستوري په سترگو وينې
واړه داغونه دِي كښُي كښُي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنیاد دَ چاري په مصلحت دئ
بیا دَ مردانو په ښه همت دئ
چه سَرَه یو شِي دا دواړه توکه
واړه دولت دَي عزت حرمت دئ

بدخواه دِ کوم دَي چه دِ په بدو یاړي
نیکخواه دِ کوم دَي چه دِ بهبود غواړي
که هر څو خوي دَ فرښتو حاصل کړي
له چا به ته ژاړې څوک به له تا ژاړي

باغ په خوبۍ لکه مخمل دئ
را سَرَه ګوره یو څه مخمل دئ
ساقي را پاخه مینا را واخله
پرخه وریږي ګل دئ حمل دئ

باور که وکړې په جز او کل کښي
مردان به تل وِي په توکل کښي
دا ډېري غاړي نغمه صوتونه
نشته په باز کښ دِي په بلبل کښي

بله به نه وِي په حق شناس کښي
تل به په حمد وي تل په سپاس کښي
چه ئې جار باسي هورې جار وزي
زړونه تسخیر دِي دَ خداي په لاس کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



باغ وي سرود وي نقل و شراب وي
ښې ښې دلبري ښه ښه احباب وي
مجلس دَ خاصو کتاب په منځ کښ
نقل دَ تورو وخت دَ شباب وي

بارخو ئې نه دئ گل د گلاب دئ
زلفي ئې طعن دَ مشکناب دئ
راشه که دواړه شونډې ئې گورې
چه پرې مستېږي هغه شراب دئ

بته تل لا بني اوبه تل مومي
بد بوي ئې ولي له تنه درومي
بد بوي ئې ځکه درومي له تنه
هره بلا ځِي دَ دې تر کومي

بلا بلا وايې بلا هم ته يې
خپل ښه هم ياد کړه که بلا نه يې
توره دَ ژبي توره دَ اوسپني
څه غوڅوَل کا خبر لا نه يې

بخت و دولت دَ سرِي له ځايه وي
نه له هنره نه له همايه وي
هنر هاله راشي هماي هاله راشي
چه باندي حکم په چا له خدايه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



باز په دیدن دَ طاؤس وویاړي
سر پښې ئې هر څه سَرَه ونغاړي
پخپل خپل ښکار پسي هر څوک تلاښ کا
مزري که زوړ شي غوا بزې غواړي

باغ دَ گلونو کنج و کتاب وَي
رود و سرود و نقل و شراب وَي
ښې ښې محبوبي ښه ښه احباب وَي
خوبي دَ عمر وخت دَ شباب وَي

بادشاهان ښه دي چه په ځوانانو زر ښندي
ځوانان پرې ښه کا چه ورته سر ښندي
زر سر دا دواړه توگه ډېر گران دي
یو یو ئې وښندي نه ئې یَو هر ښندي

بیهاڼ دَ اسپو کله یکسان دِي
ځني ټټوان دِي ځني اسان دِي
ځني دَ بار دِي دَ زیست روزگار دي
ځني دَ توري دَ برگستوان دِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې غمه خوب کا چه روغ په تن وِي
خوب به په څو کا چه څوک غمجن وِي
موړ دَ شکرو حلوا ته نه ګوري
وږي دِ سپوري روټې کازمن[۱] وِي

بازونه ولاړه بهادران دي
چه بد شي نيسي بد باز داران دي
چه په آسونو کښې خم چم پيدا شي
آسونه ساز کا چه شهسواران دي

بلبل دَ ګل دئ ګل دَ بلبل دئ
بلبل هورې غواړه هورې چه ګل دئ
مينه په پټه دَ هيچا نه شي
خپل بوي دَ مښکو په ځان چغل دئ

بد خواه دِ خوار اوسه ته ورته غټ اوسې
خپل نيت دِ زغره ته په کښې پټ اوسې
څو چه ښادۍ دي څو چه غمونه دي
و دواړو توکو ته په مخ په څټ اوسې

۱. کازمن ته محشي مشتاق ترجمه کښلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بد مخ ناحقه په زر پساله شي
ښه مخ چه بيا مومي پسول دِ هاله شي
که هر څو رنگ لري سر سپينيَ پاڼي دي
شندَي به چېري نرگس باله شي

بدي به لاس واخلي چه گنهگار شي
چه گنهگار شي هغه دَ ډار شي
چه څوک له خپله شامته خوار شي
خپل پردي واړه ځني وېزار شي

بزرگي په تا ښائي که ته ستار يې
ستار که نه يې کله بزرگوار يې
چه پرې حاجت دَ محتاج پوره نه شي
که مال دِ ډېر دئ کله مالدار يې

بار دَ اوښانو په خرونو ليښ نشي
جام دَ مستانو په صوفيانو څيښ نشي
دَ ويښ له حاله اوده خبر نه دئ
څو چه له خپله خوبه نه ويښ نشي

بدي له خپلو چه آواره نشي
خپلوي دَ خپلو په چا ښکاره نشي
که ښه دي ښه خو هغه سړی دئ
چه يې پخپلو کښ گرېوان پاره نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخت دَ مغلو پښتانه نه پرېږدي
چه اتفاق وکا په توره زړه کښېږدي
ګڼه که څه هونبره پښتانه نه دي
چه ئې په ياد کا دَ مغلو زړه رېږدي

باڼه که هر څو دَ سترګو زېب لري
چه ور کاږه شي بلا آسېب لري
زويه که ښه دئ نور دئ دَ سترګو
زويه که بد شي ماران دَ جېب لري

بيا مي له بخته مدد څرګند دئ
خوب کړم خوښي کړم زړه مي خورسند دئ
چه خوب مي نه وُ دَ ده له غمه
تر سر مي لاندي هغه مړوند دئ

بوي دِ له نطقه دَ کبر وآز څي
لکه دَ خولي نه چه بوي دَ پياز څي
په نمانځه وُ درې فکرونه نور کړې
عمر دِ هسي ګنده ناساز څي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عابد[۱] بې بندَ دَئ هم بې پيوند دئ
مور پلار ئې نشته پيدا له شخوند دئ
سړي ليده شي که خوي ئې گورې
لکه چه د دوِي هسي بې سند دئ

پکار هيڅ نه دئ خالي مستئِ
څو لا په زړه لرې دَ غم هستئِ
هستي تمامه په مستي کښې وبازه
له ما نه زده کړه مي پرسئِ

په ننگ خبر نه دِي بې ننگه کلي دئ
وفا ئې نشته له عقله پلي دئ
که نمونځ اودس کا په پنځه وخته
هم بې صلوة هم مخ ناولي دئ

په غم دَ نورو و غم ته ساز مشې
سپک و عالم ته پخپل آواز مشې
سړی په طمعَ دَ بل بنده شي
دعا به دا کړم آخته په آز مشې

۰۱ بهرام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رنګ رنګينه يې په مخ نسرينه يې
به لب شيرينه يې په تن سيمينه يې
درسته ګلزار يې تر سر تر پايه
عيب دِ دا دَي په زړه سنګينه يې

په ځان مي لږ ډېر ځايونه مښلي دي
چونړ چونړ مي کښلي کښلي کټلي دي
ستا تر ښايسته چه نا ښاغلي دي
دَ خلخ کښلي کشميري کښلي دي

پلار دَ خپل زويه په کار ډېر وياړي
په هره چار ئې بهتري غواړي
په خوي ئې بد شِي نصيحت نه مني
دَ ده له خويه په اوښيو ژاړي

په کاغذ وکښ خوانا ئې ولولي
چه کښلي نه وِي هغه څوک څه لولي
هسي مردان شته په دا دنيا کښ
تختې دَ وچولي تختې دَ زړه لولي

پند دَي سودمند دي که څوک ئې ونغوېږي
وخت دَ فساد دَي له تا چه وزېږي
زوي ئې مه بوله حذر ترې بويه
چه دِ له حکمه له رايه وغړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تار دَ غټې ذباب بند کېږي
نه په دالومه عقاب بند کېږي
پند و عاشق ته بند د خسړيو دئ
په دا به کله سيلاب بند کېږي

پونډه په اور کښ گونه گونه شي
کاڼي په اور کښ گچ يا چونه شي
عادت به هيچېري دَ ناکس نور نشي
که اور ئې پوري په درونه شي

په خپل مقصود پسي په څو مجنون يې
په خپل مطلب پسي يو څه مفتون يې
په څو خوشحال شې چه په کام کامياب شې
دَ کام په نموندَل هر دم مخزون يې

په رنگ ميتائې لکه اوبه دي
په خوند په بوي کښ دَ اُوبو ندي
لکه چه مخ ويني څوک په اوبو کښ
هسي په دې کښ دَ مخ ليده دي

په خصلتونو کښ عدل انصاف ښه دئ
له ښو له بدو سَرَه زړه صاف ښه دئ
چه څوک دِ غاښ مات کا ته ئې هم غاښ مات کړه
که عذر خواه شي غاښ ئې معاف ښه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پوهه ډک دي هر يو زوولي
و ځان ته نه وائِي هيڅوک غووَلي
هغه چه خر پيائي يا چه حکمت وائي
هر يَو فلک دي سَرَه رسولي

په تن هلړونه رگ وريشه يې
په دا که گورې يَو دوه پشه يې
خوي دَ ددانو دَ حيوانو پرېږده
که ته سړَی يې په اندېشه يې

پند دَ سړي دئ سړی دَ پند دئ
پرې به پوهېږِي چه دانشمند دئ
سړی په پند نيسي څاروي په بند نيسي
و هر سړي ته دا کار څرگند دئ

پښتون په اصل سړه بني دي
يا غرغشتي دي يا بټني دي
لودي غلجي دي دَ پټي له لوره
په سړه بن پوري بيا کرلاني دي

په دا خبر شه چه سړی څه دي
سړی د غشي کبړه درمه دي
چه بې استاذ وي لا غشي ندي
چه ښه ئې ساز کا سړی هاله دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رنګ په حسن په څو نادره يې
ښېوه غمزې لرې څو جلوه ګره يې
له خپله ياره څو زورَ وره يې
خو چه پخولا شې بيا مَرَوره يې

په عطر ډوبه هغه خوش رويَ
راغله ناګاهَ له يوه سويَ
تمامه شپه ئې را سَرَه تېره کړه
سپېږمې مي ډکي دِي دَ دې له بويه

په ډېره پوهه که بو علي دئ
چه جود ئې نشته احمق جلي دئ
که کلمه لولي عقل ئې مه ګوره
چه څوک ئې نغن خوري هغه ولي دئ

په قد دَ سبر تر وني بوک يې
په رنګ په اصل په خوي ملوک يې
کمي دِ نشته په شش و پنج کښ
په چارِ په هر څه دَ زړګي څوک يې

په دا به پوه شي هغه چه کس وي
ډېري رمې لَره يو شرمښ بس وي
چه يو بخري دَ اور پيدا شي
په مخ ئې وړي انبار دَ خس وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا دنیا کښې خوږې مینې
بدرنګ[۱] ترخې شي که ته ئې وینې
نور څه ئې مه ګڼه واړه مقصود دي
تر خوله وَباسِي ترخې شیرینې

په استخفاف دَ بادشاه دولت بایلي
په استخفاف دَ ملا جنت بایلي
په استخفاف دَ څهار یارانو
هم مودت بایلي هم مروت بایلي

په سپین وېښته مې په زړه سرور راشي
ږیره چه سپینه شي په مخ کښې نور راشي
غم دَ زوړوالي په زړه هاله راشي
چه په غاښونو په لېمو فتور راشي

پخپله پوهه که ذوفنون وي
ویل چه نه مني پکښې جنون وي
دولت ته ورَسي ټینګ ئې و نه نیسي
قابل ئې مه ګڼه چه په رای زبون وي

په کار دَ علم عالمان مونږي[۲]
شیخان په کار دَ شیخي ځان چونږي

---

۱. په درنګ.

۲. یعني لوئي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا واړه هیڅ دِي زما په پوهه
ګوره څوک ورشي په مخ مخ روښي

په عاشقانو څو څو خبري شي
ورته لښکري شي توري شي زغري شي
چه عاشقان دي چه صادقان دي
عشق به ئې کله له دله لیري شي

په باغ چه ګڼ شي چه ترې وتوني وي
که لون لون مېوې خوړوني وي
که هر څو وخوري ګلونه بوي کړي
خو عاقبت به ورځني تلوني وي

په ښایسته وُو چه مبتلا وي
بې فکره کله خلا ملا وي
بې میني مشې مَیَن هم مه شې
دا دواړه توکه الا بلا وي

پاکي چه راشي په هغه کور کښي
بلا ئې وَسېځي نوره په اور کښي
یوسف چه پاک وُ ځکه بادشاه شو
څه شو که بند وُ ناحق په تور کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شپه آرام شي په ورځ هر کام شي
په ما دا کله په صبح و شام شي
په شپه په ورځ دِي دَ عشق غمونه
آه و ژړا مي سَرَه مدام شي

په مخ که هر څو صاحب جمال وي
ننه په زړه کښ افعي افعال وي
که زر تسبيح لولي باور پرې مکړه
ښځې مي واړه دَ مکر جال وي

پلار مور که هر څو نيکو فرجام وي
په بد فرزند پوري خجل بدنام وي
فرزند که ښه وِي خداي ئې کامران لَره
دَ بد فرزند دِ زهر په کام وي

پړين[۱] که ښه وي پکار و بار کښې
نه ډېر فکرونه نه زرغه پکار کښې
زرغه نامرد کا له کاره پاتو شي
مرد تړول اختيار وِي په زيست روزګار کښې

۱. دا رباعي حل غواړي لمړۍ کلمه په يوه نسخه کښ ترين په بله کښ پرينې ده، په يوه قلمي نسخه کښ تر زرغه لاندي محشي ليکلي دي يعني نامردي او کاهلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رنګ په خوي کښې سَرَه پرخې وي
په مرتبو کښې سَرَه تېرې وي
يو سيند بل پورې لکه لښتَې وي
يَو غر تر بل پورې لکه غونډۍ وي

پيوند دَ زړونو عجب پيوند دئ
په کتره غوښه وبله بند دئ
خو چه وفا وي هونبره ټينګېږي
جفا ئې پرې کا کار ئې ښرګند دئ

په باغ په راغ کښې کرل هر څه شي
په خپل خپل اصل بيا واړه وشي
که لويَول ئې په شودو پې وي
مولې مولې وه نور څه به نه شي

په باغ کښې ډېرې ونې ولاړې وي
چه ښې ئې څير کړې په څو څو غاړې وي
پلنِې نَرۍِ ګورې ناګورې
ځنې په پورته ښايسته ولاړې وي

په دا جهان کښې چه څو غمونه دي
څو څو خوارۍِ څو څو ستمونه دي
واړه په بخره دَ عاشقانو شول
بخرې له ځايه په قلمونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاداش دَ هري چاري تيار وي
چي نيک کردار وي که بد کردار وي
چه ترس د زړه لري دا کار به ښه لري
څو بې پروا وي هونبره ئې زار وي

په زړه کښې څړيکه دَ ښکاري ولاړه شي
هي هي نارې وَهي بوړه ئې غاړه شي
چه سَرَه ونښلي دَ ښکار بازونه
زرکه دَ دواړو له منګولو ولاړه شي

پرې مي سلام دَئ جرګې چه پنډې شي
زړه مي هورې دَئ هروې چه هنډې شي
خوشحاله زوړ شوې قرار ناست اوسه
پښتون چه زوړ شي دَ نغري دَ څنډې شي

پند د نيکخواه دئ خداي دِ ئې ښه لري
ورمون[1] دَ نيکو نيکان په زړه لري
هوښيار لازم دَئ چه خطا ئې ولې
نادان معذور دَئ چه عقل نه لري

پيوند دَ ميني هم ټينګ هم سست دئ
جفا ئې پرې کا په وفا درست دئ

---

۱. محشي ورته تدبير او مصلحت او پند ليکلي دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرُو دَ ما نه په جفا پرې کړ
اوس خو دَ لړُو څخه آمست[۱] دئ

په سړيتوب کښ واړه يکسان دي
که مؤمنان دِي که کافران دي
ايمان دَ چا دَئ دَ مومنانو دئ
ايمان ئې نشته چه کافران دي

په چا چه عدل يا ستم کيږِي
هر ځاي چه بېش و يا څه کم کيږي
بې ځايه هيڅ نه دي واړه په ځاي دي
يَو ازميښت دَئ که عالم کيږي

په هَرَه چار چه همت بسته شي
تېره خارونه هم ګلدسته شي
که بې همتو ئې په لاس واخيسته
دَ هغو بخره خواره خسته شي

پښتانه واړه لکه مارونه دي
مغل دم کړِي پخپل کارُونه دي
چه په مارونو کښ لوي مار پيدا شي
پسي ئې غواړي که په غارُونه دي

---

۱. محشي ورته ګډوُن او پيوند کښلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسرلي چه راشي يا پښګال شي
دَ خټک زوني شيخان خوشحال شي
شکرانې آخلي دَ باران وعدې لِي
په دروغجنو وعدو نهال شي

پدا جهان کښ که خرابۍ دي
يا ناحقۍ بې حجابۍ دي
يَوه به نه وِي دَ هوښيار له لاسه
دَ نادانانو دَ شتابۍ دي

پرې مي سلام دَئ هغه چه مَي خوري
خدا ئې دارو کړه که پدود ئې دي خوري
اول خلوت بويه بيا ښه صحبت شه
مَي دِ په صوت دَ چنګ و نَي خوري

په څو دَ ځان په ښېوه بيدار يې
وېښته دِ کوز شي هم پرې آزار يې
فکر دَ ګور دَ خوارۍ نه کړې
بند بند به پروت وې ناپروا دار يې

پرېږده پرې سترګي دَ وږيو وَوزي
باندي پراته اوسي وږي سر کوزي
لوئي غړۍ د ډک طباخ وي
دوي دي خوړلي دَ طباخ څخوزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څو واي واي لرې چه لږ بېمار شې
پروا دِ نه وِي چه چاق تيار شې
هيڅ يې نابود يې چه ښه مي وليدې
غفلت خوار کړې که خبردار شې

په هَرَه ژبه سخن سنجان دئ
دَ ځان په فخر پاک د سبحان دئ
په خوله ئې ذکر په زړه نور فکر
فساد دې دور دانا شيخان دئ

په شمار مي زويه تر شپېته زيات دي
نيمگي په مړه وِي نيمگي حيات دي
چه را څرگند شول په کاروبار کښ
تر دې ژوندون يو بهتر اموات دي

په رنگ په شکل ښايسته ميور يې
په زړه سنگينه ناترسه گور يې
ياران ډېر خوښ کړې بيا ئې ډېر خوار کړې
دارو دَ زړونو دَ زړونو ځور يې

پنځه دِ گوتي دِي که يَوه نه وي
دَ نورو گوتو چار به دِ څه وي
دَ لاس خوبي ده په پنځه گوتي
چه سَرَه جوړي وي کار به دِ ښه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رنګ په حسن تازه بلوڅه يې
په تن کښ سپينه تر تازي پوڅه يې
تر سر تر پايه کمي دِ نشته
په ښو خبرو څه خبر لوڅه يې

په خپلو اوښيو کښ سړی شنا ښه دئ
له هره هر سړي سَرَه اشنا ښه دئ
که ګل له نورو دئ اغزي له ياره دئ
منت تر هر څه دَ خپل آشنا ښه دئ

په ما دا عدل که دا ستم دئ
چه غم په ما باندي په هر هر دم دئ
واړه مي خپل دي پردی څوک نه دئ
چه ئې له ما سَرَه دا هونبره غم دئ

په سوات وربړي په سمه شين دئ
تر غره په کوز شي لا نماز پښين دئ
بټ دَ تالي دَ عبدل لښکري
خوشحاله له زړه دِ له واړو شين دئ

په رنګ که هوره ده پرې ګرفتار مشې
چه خوي ئې بد وِي دَ ښځې يار مشې
خوشحال ته ګوره چه يو څه بار لري
له بده خويه ئې ته خبردار مشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سرطان کښې به مزري په وړي
مرد به خپل ځان ژغوري ځما که نغوړي
لنده ورغومي صحبت هم زيان لري
پدا منزل دِ په بهار کوړي

په عاشقانو آرام حرام دئ
عاشق ئې مه بوله چه په آرام دئ
په عشق کښې شرم په ننگ کار نلَري
دا دواړو توکو يو خالي جام دئ

په دا خبره هر څوک خبر دئ
تر آروېدلو ليدل بهتر دئ
تا غنُدي کله هوسۍ دَ مښکو دئ
مښک دِ دَ زلفو که برابر دئ

په تن سيمين يې په رنگ رنگين يې
په لب شيرين يې په مو مشکين يې
زه دِ مجنون يم که ته ليلي يې
زه دِ فرهاد يم که ته شيرين يې

په هر چا کوټه غمونه خپل دئ
څوک دِئ چه نن مي په غم دَ بل دئ
دَور دَ چا دَئ دَ عالمگير دئ
لاس به په غوړ لري چه څوک عاقل دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه[۱] بارونه دِي بردن ئې غم دئ
ورمېږ دَ خلقو تر لاندي خم دئ
پنځه په نورو دي په تا دوه کم دي
خوشحاله شکر کړه چه بار دِ کم دئ

په دواړو زلفو که عنبر بېزه يې
په دواړو شونډو که شکر رېزه يې
دا څه لا نوري خوبئ دِ ډېري دِي
بابا دِ ومره بلا سر تېزه يې

په لار چه درومم په مخ دلبر راشي
يا ښه څه بيا مومم يا ښه خبر راشي
هسي دَ کښليو په ديدن خوښ شم
لکه په خوارو باندي اختر راشي

پاسه يا کوزي دا کار سازئ
په څو څو رنګه دلنوازئ
آسمان ته ګوره مزکي ته ګوره
دا چاري ندي لوبي بازئ

---

۱. مطلب حني پنځه دَ مسلمانئ بناوي دي چه له هغو څخه حج او زکوة پر غني فرض دي. خان ځکه چه په سخا کښ هيڅ وخت دَ نصاب مالک نه وُ نو دا دوه فرضه له ده ساقط وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیښتن دَ خوني چه بې تدبیر وِي
وینځي مریونه ئې وتېښت ته ځیر وِي
یا ئې ډېر مست کا هوا ئې نوره شِي
یا ئې ډېر خوار کا لکه اسیر وِي

تازي چه نه نیسي کوتره چه نیسي
خلق په ښه نظر کوتره ته کسي
تورزن پخپله خپل ځان په قدر کا
چه توري غشي په ځان را نیسي

توري دِ زلفي دي تور دِ اوربل دئ
مخ مي دِ ولیده لکه اوربل دئ
هم تور لوګي دي هم سرې لمبې دي
دَ غوښو زړه مي بکښې قبل دئ

تل خاموشي کړِي چه تل بېغم وي
طمع له چا مکړه چه بِه ترجم وي
خوښ په هنر اوسه خوښي په مال مکړه
هسي کارُونه کړه چه بې ندم وي

تر باز نه نور نور مرغونه کټ دي
هنر چه نه لري ځکه ځوهټ[1] دي

---

۱. دې کلمې ته محشي نابکار کښلي دي په ځلورمه مسرۍ کښې کویټ حل غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کار څرګند کا پدا دوه ځایه
مردان دَ کویټي ښځي دَ کټ دي

تر لعلو دُرو عقل تمیز ښه دي
د بل تر مُهر خپل یو نشیز ښه دي
چه خبردار دي دَ صحبت په علم
تر بې ادبي خبري تېز ښه دي

توبه هاله ښه دَه په ګناه چه لاس رسي
چه لاس په هر چرته په کوز په پاس رسي
چه لاس و نه رسي توبه څه سود لري
خالي خبري پخوله دَ پاس رسي

ته چه بادشاه دَ سمن رویو یې
غوره دلخواهه دَ سنبل مویو یې
تر سر تر پایه ګل یې سنبل یې
بد چه په نغوته دَ څو بدخویو یې

ټټو به هیچېري دَ آس په یون نشي
په توره هیڅوک لکه پښتون نشي
اصل په هر څه کښ خپل ځان څرګند کا
خوند دَ مټرو به ګندم ګون نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل تل تل مي ور پسي غم دئ
مينه ئې ډېره راحت ئې کم دئ
چه نه ئې وينم په سترگو تورو
دا جهان واړه په ما تور تم دئ

تري که بد دئ خو بيا همجد دئ
هر چه همجد دئ هغه امجد دئ
بولاق که هر څو ختک يادېږي
دَ سباکىِ دَ لوريه بد دئ

ته اوم سبو يې تر څرخ وتلي
دَ اور تر تاوه نه يې ختلي
که چيري ووزې دَ اور له تاوه
نوم به دَ اوم وي له تا نه تللي

تر سر تر پايه چه سړى ساز دئ
فهم که وکړې درست سَرَه راز دئ
سړي هغه گڼه چه خپل ځان پېژني
چه بېخبر دئ يَو تش طراز دئ

تازي چه زوړ شي په قدر خر شي
مزري چه زوړ شي تر شغال بتر شي
زوړ دِ دماغ دَ ځوانىِ نه کا
پدا وَيل دِ هر څوک خبر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ظل کښېنې دَ هغې وني
چه ئې نه سته نه پاڼې وني
نه يَوَه ونه باغي په غولي
نه ډېري وني پلوسي غني

تا چه پيدا کړه دا اوه شتوري
چه ستا په حکم وَبله ښوري
په ښورېده کښ ئې ډېر ډېر کارونه شته
ړانده ئې نه ويني بينا ئې گوري

تونگر هغه دَئ چه قناعت لري
نه چه بارُنه يا بضاعت لري
چه خوي خصلت ئې دَ سړي نه وي
يَو دد ئې وگڼه که شجاعت لري

تل تل چه غورزي دا سعد ستوري
دَ هنرمندو په طلب ښوري
که چېري ورشي په بې هنرُو
ځني دَ تلَلو دروازه گوري

ثابت په ما کړه گناه مهروئي
لاله عذاري عنبرين موئي
له هغه پسه توره را واخله
ويني ځما دَ گردن کړه توئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنت دَ چا دَئ دَ صادقانو دَئ
دوږخ دَ چا دَئ دَ کاذبانو دئ
قرآن چه لولي کذاب عذاب مومي
ثواب بې حده که دَ قران خوانو دئ

جنت دَ چا دئ دَ حق شناس دئ
دوږخ دَ چا دئ دَ ناسپاس دئ
کانده به نوري فتنې پیدا شي
کار کړه که کار کړې چه نن دِ لاس دئ

جنگ دَ هاتي دَ مزري آسان دئ
دَ خپلي ژبي آفت لا گران دئ
چه خپله ژبه ئې پخپل فرمان کړه
هم ئې رستم گڼه هم لا لقمان دئ

جنت په څه کښ دئ په خوشخوئي کښي
دوږخ په څه کښ دئ په بد گوئي کښي
چه نیت ئې لوي دئ هغه خداي لوي کا
کمي ئې نه وي پدا لوئي کښي

جهان کمر دي دَ څڅلئې
فعل دِ بږغ دي بږغکړوني ته یې
لکه چه بږغ کړې هغه به واروې
راشه خبر شه که خبر نه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان که واړه سَرَه سور اور شي
گمان و مکړه چه عارغ نور شي
که سمندر غُندي ئه اور کښ کار نکا
عارف ئې مه گڼه مخ دِ ئې تور شي

جهان که واړه سَرَه اُوبه شي
دا دوه ببړېِ به ډوبي نشي
یَوه ببړیَ چه څوک رښتني وي
بله چه وړي په چا ماړه شي

جهان درست ډک شو دَ نا حقیِ
لکه پیمدلي اوړې په میِ
چه ځاي پرې نه نیسي ښوري ښوئېږي
دَ سر دانه ئې خوشحاله ته یې

جونه چه نه وِي واده لا حور وِي
اولاد چه راوړي آدم دستور وي
چه سر ئې سپین شي مخ ئې بې نور شي
یَوَه پیریه درته حضور شي

جدا چه نشي ترې اوسپن خړي
ترې پاتو نکا دَ پوندېي زړي
په څو به سازه شي ترې تېره توره
فکر دِ ښه وکا استاذ زوي مړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان دَ چا دَي چه څوک تورزن وي
داد و دهش کا په نوم مَيَن وي
ناستي دِ دَي دَ علم تر سيوره کا
چه څوک دَ علم د ورع څښتن وي

ځواني ډک جام دَه په پېرۍ اوړي
بقا ئې نشته په وار وار واوړي
پيري يوائځي په هيچا نه رائځي
څو څو عيبونه ور سَرَه راوړي

ځان و جهان لره پکار سلوک دئ
ملوک چه ښه لَري سخ دَ مملوک دئ
ملوک دِ ښه وائي پوچ پوچ دِ نه وايي
دَ ملَکانو کلام ملوک دئ

ځاي او مسکن دِ دَ کارگه گلشن نشي
کمذات سړَی دِ دَ جاه څښتن نشي
حسن هغه دئ چه اصل ذات لري
دَ سپاندِي گل به گل دَ سمن نشي

ځني خبري په تکلف کېږِي
ځني خبري په تائسف کېږي
ځني خبري په بله ژبه
لکه يعقوب ته قال دَ يوسف کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځني په علم په دنيا مستي لري
ځني په زهد په تقويٰ مستي لري
ځني په توره په غزا مستي لري
خوشحال په کوم توکي دا مستي لري

ځني په وينځي وي لکه مېرمني وي
ځني مېرمني دَ وينځو کني وي
عقل هنر بويه په آدمزاد کښې
مېوه چه ښه لَرِي قدر دَ وني وي

ځني په عقل په هنر دولت مومي
څوک ئې په جهل په حماقت مومي
يو په دارو دَ طبيب رغېږي
بل بې طبيبه شفا صحت مومي

ځني[1] خپل جيش لښکر حشم کسي
ځني خپل لعل گهر نعم کسي
ځني خپل علم هنر قلم کسي
ځني ختېکه هغه صنم کسي

چه سړی خوږ نشي سړی چه داغ کښېږدي
هر څوک پوهېږي ځان ته بلا بلېږدي

---

١. په دې رباعي کښې دَ درو ټکو کلمو صنعت سته، ټوله کلمې درې ټکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له چا چه جنگ کړې روغه په زړه لره
هوښيار په جنګ کښ دَ روغي ځاي پرېږدي

چه نه دَ دين دئ نه دَ دنيا دئ
هغه که ګرزي پکار دَ چا دئ
پرېږده چه وَمري جهان ترې خلاص شي
پدا جهان کښ يِوه بلا دئ

چه نن دِ ياري کانده اغيار دي
کانده اغيار دي چه نن دِ يار دي
خداي دَي چه دا زړونه سَرَه جار باسي
دا زړونه کله په اختيار دي

چه نه طالع لَري نه مصلحت لري
دولت به بايلي که ډېر دولت لري
چه شکر نلري کله نعمت لري
چه صبر نلري کله حکمت لري

چه قدر نلري دَ بادشاه دَ ميني
توئِي بې نکا په خدمت کښ ويني
هغه نوکر دِ ښادي و نه کا
هر څه به بَايلي که ته ئې ويني

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه څوک ئې سَمَه ګڼي کږَه شي
چه ئې کږه ګڼي سَمَه هغه شي
دخل دَ چا دَئ دَ خداي په کړه کښې
په حال خبر شه چه څه دِ زده شي

چه غم ئې نه وِي دَ نيکنامۍ
واړه ئې مخ وي په خود کامۍ
نه به ئې دين وِي مه ترې وفا غواړه
هر څه ئې هيڅ وِي پدا خامۍ

چه ئې په کور کښې لايق فرزند وشي
کرم له خدايه په سړی څرګند وشي
قابل چه نه وِي په هغه کور کښې
دولت ئې هيڅ دئ که چند در چند وشي

چه زړه له تا نه دَ چا ښه کيږي
ښه کړه دعا ګڼه دعا قبليږي
آزاد هيچا دَ آخستو نه دي
ښېرې دَ خوږو زړونو لګيږي

چه دم ئې نه زده دَ اُوښَکۍ[۱]
دَ اژدها نيسي لويه لکۍ

۱. اوښکۍ يو راز ملخ دي لکه اوښ چه اؤشاره ئې هم بولي، په پاړسي ګهواره جنبان ورته وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادان دي پرېږده ورباندي مه مږه
دَ نصيحت دَ صابون چکۍ

چه را ښکاره شوه يوه مږۍ
زړه مي پرې بايلو هغه گړې
دَ زړه ښندنه آسانه نه ده
بې ځايه څوک ښندي يَوه دمړې[1]

چه نه ادب لري نه عقل راي لري
دوپاي ليده شي خود دَ چارپاي لري
چه بې ادب وِي آدم ئې مه گڼه
څه شو که شکل آدم نماي لري

چه درست گلزار دَي دَ اتفاق دي
چه درست خار خار دَي گنده نفاق دي
خار دِ په بخره دَ خارکشانو شي
هوښيار دَ گلو دَ گلزار مشتاق دي

چه پاڅم دروමم په لار دلبر راشي
يا ښه څه بيا مومم يا ښه خبر راشي
هونبره د کښليو په ديدن خوښ يم
لکه په خوارو باندِي اختر راشي

---

١. يعني يو پشيز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه رنگ و بوي لري گل گل هاله شي
پرې د بلبلو غلغل هاله شي
چه نه ئې رنگ وِي نه ئې ښه بوي وي
ورځني پاتو بلبل هاله شي

چه تا څوک ووينې مهر به څه ويني
مهر به څه ويني چه تا څوک وَويني
عاشق څه نه ويني چه تا و نه ويني
چه تاوَنه ويني عاشق څه نه ويني

چه ذات ئې بد وِي اصل ناپاک لري
گنده به فعل گنده به ژواک لَرِي
زاغ و زغن گوره بلبل طوطي گوره
خپل خپل پرواز کا خپل خپل خوراک لري

چه جنگيالۍ لري ښځه په کور کښې
دَ هغه کس وي ژوندون په اور کښې
ښځه حليمه ښه دَه خوشخويه
بده به تل وِي په شرو شور کښې

چه ژر ئې ونيسي ژر ئې بيا پرېږدي
خو يَو نامرد به وي زړه به ئې رېږدي
يا دِ ئې زلفي په لاس کښې نه نيسي
يا دِ ئې ونيسي سر دِ پرې کښېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ته چه ښاه کيني په ښاه کښې پريوزي
بلا چه غواړي په بلا کښېوزِي
په څو به روغ اوسي دا فکر ښه وکړه
په پړانگ پرهار وکړي بيا ور پسېوزي

چه څوک ئې کاندي کله يارئ دي
يا خود کامئ دي يا عيارئ دي
چه ښې مي خير کړې دا بهتري
يا وېزارئ دي يا اغيارئ دي

چه نادان دي چه فاسقان دي
يَو دم کار وکا بيا ژر پښېمان دي
چه ئې پکار کښې پښېماني نشته
يا عاقلان دِي يا صالحان دي

چه هر سيرت په وجود غالب دئ
په هغه رنگ ئې حشر واجب دئ
حريص به خوک وي حاسد به گرگ وي
په رنگ دَ دواړو خبر طالب دئ

چه کاهلان دي چه احمقان دي
دولت به بايلي که بادشاهان دي
دولت دَ دين دَ دنيا دَ چا دي
چه هوښياران دي پکار چسپان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه تنگه خوله لَري اوږده باڼه لري
توري ئې وروځي ملال کاته لري
نور څه ئې مه ګڼه ځما په پوهه
تر سر تر پایه به صورت ښه لري

چه کښېني آوري فریاد ښېرې لري
دَ زره دَ آه توري تېرې لري
پیر به په هر چا په وار وار راشي
اندوه دِ نکا آسمان پیرې لري

چنګیٔ جیحون نه ده غنُډیٔ به غر نشي
شمعَ قمر نه ده سها به نمر نشي
که اوښکیَ په رنګ دَ مار ده
بیا اوښکیٔ ده دا به اژدر نشي

چه جنګیالي دي دولت هغه مومي
چه ننګیالي دي عزت هغه مومي
دا دواړه توکه سَرَه تَړَلي دي
څوک چه محنت کا راحت هغه مومي

چه نه طالع لري نه مصلحت لري
دولت که غواړي څه بد خصلت لري
دولت هغه دي چه در پسې درومي
چه ور پسي زغلې بلا آفت لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې دروغ ندي چېري ويلي
چا ته ئې نه وِي په بد کتلي
هغه به هيچېري خواري بيا نه مومي
عزت دولت به ور پسي زغَلي

چه ئې رشتيا نه وِي بل ئې اخلاص نه وي
هغه به هيچېري له غمه خلاص نه وي
دولت دَ دين دئ چه دَ دنيا دئ
بيا به ئې نه مومي چه خاص الخاص نه وي

چه خوي ئې نه وِي جمال زيبا لري
لکه ښه لوښي خالي غوغا لري
ښه مخ په مثل لوښي دَ زړو دئ
ښه خوي په لوښي کښ خوږه حلوا لري

چه نه ئې ننگ وِي نه ئې فرهنگ وي
نه ئې ښه اصل نه ئې ښه رنگ وي
ژر دِ په تورو خوارو کښ پټ شي
ژوندون ئې مه وه چه ځاي پرې تنگ وي

چه نه ئې دين وِي نه ئې دولت وي
نه ئې په علم ښه خوي خصلت وي
سړی ئې مه بوله يو گاو خر دئ
دَ گاو و خر به څه برکت وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَ بدانو سَرَه مقیم شي
که بیم ئې نه وِي هغه په بیم شي
ضرب المثل دَي دَ دانایانو
دښمن چه دوست کړې دوست دِ غلیم شي

چه قبول زړه ته دَ چا چار بده شي
چار ئې نور بده تل تر ابده شي
روپي چه قلبه شي يَوه صراف ته
هغه روپۍ په هر چا رده شي

چه دَ بزګانو خفت آسان ګڼې
هغه خفت دِ آفت دَ ځان ګڼې
لړي بلا به وربانديَ ور نشي
جوړ دِ زرګونو بلا ته ځان ګڼې

چه مي په غيږ کښې يې ساعت هم دا دي
بېلتون دِ بلي لمبې په ما دي
پاڅه ور درومه په سر دِ وېره کړم
زه ئې سبا ګڼم وخت دَ سبا دي

چه غر دَ سرو زرو دَ سړي خپل شي
مُهر ما سي ته ئې کله کتل شي
چه بادشاهانو سَرَه ناستې په تخت کا
دا نور ځایونه ورته خجل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه بد بنیاد وي چه بد نهاد وي
په هَره چار کښ ئې مایه فساد وي
دَ نیکي چاري الف ئې نه زده
په بده چار کښ کامل استاد وي

چه خوند دِ راغي دَ آشنائۍ
گران یې دَ سترگو تر روښنائۍ
دعا به دا کړم په پنځه وخته
چه درد دِ نه وي د جدائۍ

چه د تازي سره د ټټو رگ وي
کله تازي غُندِي په لار ئې تگ وي
رنگ ته ئې مه گوره عمل ئې گوره
که سور که سپین وِي که تور که برگ وي

چه ئې شکلي دَ مغلو مزې دي
د دې په غاړه ډېري بزې دي
په ښکار د چا دي دَ پښتنو دي
نور څه ئې مه گڼه لکه خزې دي

چه پوزه نلَري غوړونه نلَرِي
شرم اندوه به له چا نه څه لري
رنگ ئې و مه وینې ستر ئې ښه دي
که رنگ بې غوړو بې پوزي ښه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَ کهترو جفا په ځان وړي
کهتر به کله دَ مهتر فرمان وړي
سزا دَ وخته دَ کهتر بويه
که نه مهتر به په زړه ارمان وړي

چه را په ياد شي دَ نفس بدئِ
لا ئې تر اوسه دَ غم غدئِ
ځواني لا پرېږده په سپيه ږيره
فرياد فرياد دَي هونبره بدئِ

چه در کول کا چه کرم کرد وي
اسراف که نلري هاله درست مرد وي
هغه درويش ندي چه دنيا نه ساتي
درويش هغه دَي چه ترې دلسرد وي

چه زر دِ غم شي هسي زر دار مشې
چه زر دِ هيڅ نه وي هغه پېشکار مشې
پدا لاس راشه په دا لاس دروه
دَ لږو ډېرو پحساب په شمار مشې

چه ئې له چا گنې لا ته ولي نه يې
کامل دَ خداي په پېژاندگلي نه يې
احوال ئې وگوره په تواريخ کښ
خوشحاله صبر کړه بِه تر علي نه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه کښت اوبه غواړي اوبه بیا نه مومي
له هغه کښته به ګټه څوک څه مومي
دَ هري چاري یَو وخت یَو وار دي
ګل په تموز کښ که تل اوبه مومي

چه بخت ئې تور شي عقل ئې نور شي
مخ ئې په بدو په شر و شور شي
دَ بدو خواهانو وَیل پرې ښه لګي
دَ نېکخواهانو وَیل پرې اور شي

چه رشتیا نلري نه ئې اخلاص وي
زړه دِ له هسي یاره ژر خلاص وي
چه دَي خو زړه دَي په درست وجود کښ
ورکړي بویه و چا چه خاص وي

چه ترس دَ خداي لري مرګ ئې پیاد وي
زړه به ئې کله په ظلم ښاد وي
تل به ئې مټ وِي په ښو ښو چارو
مخ به ئې هر کله په عدل وداد وي

چه در پسي زغلي هغه دولت وِي
چه ور پسي زغلي هغه زحمت وي
قابل هغه دئ چه دَ چا منت نه وړي
په ناقابل باندي وَیل منت وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه لاس مي نه رسي غليم مي يار دئ
چه لاس مي وَرَسِي غليم مي پلار دئ
دا پند به نه مومې په شاه نامه کښې
په شاه نامه کښې که ډېر اسرار دئ

چه عاشقي کا خوشحال دِ وپوښتي
له شرم و ننگ دِ په کروهونو تښتي
تر مال دِ تېر شِي تر سر دِ تېر شي
چه عاشقان دي تر لوي کمر رغښتي

چه نه ادب لري نه اهل راي دئ
دوپاي ليدل شي په خوي چار پاي دئ
سړی په خوي سَرَه سړی ليدل شي
په رنگ په شکل سړی دَ خداي دئ

چه رباعئ د خوشحال خان دي
د لاجورديو غشيو په شان دي
تير گوهر که هر څو غشي ښه روغ کا
پرواز ئې بويه که پر ئې وران دي

چه خپل سر خرڅ کا بها ئې واخلي
چه ئې مدار وِي مولا ئې واخلي
که ئې صاحب وته بلا پيدا شي
نمک حلال دَي که بلا ئې واخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه درست په مښک په عنبر کښې ډوب وي
چه په گندگۍ ککړ شي خوب وي؟
قرآن چه لولي هر گوره بد کا
چه بیا په فسق و فساد معیوب وي

چه عالمان ئې په تور و سپین ویني
چه درویشان ئې په علیین ویني
دَ عارفانو علم څه نور دئ
تر عرشَ فرشَ په خپل یقین ویني

چه کار پرې بیښ شي په جز په کل کښې
مردان به تل وِي په توکل کښې
په باغ کښې نور نور مرغۍ مېوې خوري
بلبل نظر لرِي دَ باغ په گل کښې

چه ستا خوبي غواړي دغه دِ یار دئ
چه ستا خواري غواړي هغه اَغیار دئ
چه ستا په غم خوښ شي صرفه پرې مکړه
بیا به ارمان کړې که د خپل وار دئ

چه ځان غواص کا گوهر هغه مومي
چه بې ننگي واخلي دلبر هغه مومي
دا کار مي څو ځله په ځان راغلي دئ
تر سر چه تېر شي ظفر هغه مومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه هَره چار ئې په روايت وي
د هغه بخره دَ ولايت وي
بيهوده نه آروي بيهوده نه وائي
غوږ ئې دَ نيکو په هدايت وي

چه عقل ئې کم وِي کله آدم وي
کله آدم وي چه عقل ئې کم وي
چه عقل ئې کم وِي تل باندي غم وي
تل باندي غم وِي چه عقل ئې کم وي

چه دُر وکاږي وېره دِ پريږدي
خالي به ووزي که زړه ئې ريږدي
يا به را وکاږي گوهر له يمَ
يا به دا خپله کله پرې کښېږدي

چه خپل حرم ساتي خدم حشم ساتي
بويه چه واړه دِ محترم ساتي
ادب دِ ډېر کا دَ زويو وروڼو
چه بې ادب شي و ځان ته غم ساتي

چه ډېري وني لښتي کم آب لري
ښښتن دَ ونو ښو پېچ و تاب لري
نصيب زه هسي په پېچ و تاب کړم
ما به تر کومه پدا عذاب لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه بد بنیاد وِي چه بد نهاد وي
دَ مور په نس کښې په بلا یاد وي
هر چه زووَلي دي دَ فساد دَپاره
څو چه ژوندی وي هم د فساد وي

چه را ښکاره شوې یو څه نګاري
څه جفا کاري که پري واري
څو مي په تا باندي مينه زياتيږي
ته راته غاښ چيچې هسي خونخواري

چه بد اندیش وي چه بد آموز وي
چه بد ګوئي لري واړه بد روز وي
که ته لوئي غواړې لوئي په چا مکړه
نېکان په دواړه کونه فيروز وي

چه دين دنيا ګتي دانا فرزند وي
غوږ به ئې هر کله دَ پلار په پنډ وي
اوبه به نه څښي دَ پلار بې حکمه
نه به ئې پورته شونډي په قند وي

چه نه ځوانان لري نه زر نه شولي
هغه به ولي زور ور بولي
که دا ئې واړه وي که ئې ځواني نه وي
زړه بوډی به وَ چا ته پسولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه سپيني پيږِ سره ئې غنم وي
حرم حشم لَري آرام ئې هم وي
چه شکر نکا په خپله بخره
دَ هغه بخره دَ مار لړم وي

چه حرص ناک وي يا ترسنده وي
ياري له دواړو سَرَه گنده وي
دا به دِ پريږدي په تنگڅه بلا ته
بتر تر دا نه شکم بنده وي

چه غم ئې نه وي دَ بدنامۍِ
واړه ئې مخ وي په خودکامۍ
دا رنگ سړی که دِ زوي وروړ وي
ځني ويزار شې په دا خامۍ

چه ښه صورت لري شرم غفت لري
واړه دَ دين دَ دنيا دولت لري
چه ښايسته وي عفت ئې نه وي
څه قباحت لري څه قباحت لري

چه ښکار په کور کښې ورته تيار وي
دَ چا به ولي دَ صحرا ښکار وي
په باغ و زاغ کښې دَ بهار گل څه کا
چه ئې په کور کښې تازه بهار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه څوک دنیا لري په ځان ئې نخوري
دَ ګور غه توري خاوري دِ وَخوري
چه مال ئې پاتو شي وَ بل حریف ته
چه ئې له خپلو یارانو ښه خوري

چه اصل بد لري ځائي بد خو وي
یا رنګ ښه نلري ځائي بد رو وي
دا دواړه توکه به هیڅوک ښه نکا
که کرامت دي که ئې جادو وي

چه فهم درست لري هوښیار هغه دئ
چه فهم سست لري خمار هغه دئ
اوبه چه لږ وي آبدست پرې نه کیږي
چه پرې پاکي مومي رودبار هغه دئ

چه دانسته درومي چه آهسته درومي
فتحَ هغه مومي نصرت هغه مومي
چه کاهلي کا یا ډېر تلوار کا
نامرد هغه نومي ناکس هغه نومي

چه ډېر یاران ئې تر نظر تېر وي
اخلاص ترې مه غواړه لباس ئې ډېر وي
په مخ که هر څو مهر خندا کا
چه درته شا کا واړه ئې هېر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په کښ بانگ دَ مسجد امام نه وي
په هغه کلي کښ میشتي مقام نه وي
په هغه کلي کښ قتل روا دئ
چه هغه کلي به دَ اسلام نه وي

چه مور ئې ښه وي بابا ئې ښه وي
بد به ئې لوڼه زویه په څه وي
چه اصل بد لري بد به ولد لري
قچر به هیڅېري بې فتنې نه وي

چاري د دهر په هغه دستور دي
لکه په تورو په سپین مسطور دي
لا هم هغه دئ چه پکښ ورکي
هونبره لښکري د سلم تور دي

چه شرم نلري عیب ته نه گوري
لولي بې شرمي دئ ځکه خپل ځان پلوري
هغه چه پاکي دي شرم حیا لري
زړه ئې فساد ته په لکونو نه ښوري

چه ښه لذت غواړي نېښ و آفت غواړي
نیښ و آفت غواړي چه ښه لذت غواړي
چه محبت غواړي غم دَ فرقت غواړي
غم د فرقت غواړي چه محبت غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه څه پکار دي خټک تري دي
تر مير يخيلو بر کويټ بري دي
ډېري پېښې لري حيلې مکرونه
پښتون ئې مه بوله بولاق هندکي دي

چه ورځ دِ بده شي دولت دِ يار وي
واړه وګړي دِ خدمتګار وي
چه ورځ دِ بده شي دولت دِ پېرو کا
خپل زويه ورُونه له تا ويزار وي

چه نه تدبير لري نه ځوانمردي لري
تل به پکار کښ دَ مخ زردي لري
پوندې ته اور راوړه هنر چه توره شي
هغه سړي نه وِي چه دل سردي لري

چه نه لنګېري نه ئې ځواني وي
دَ هغې ښځې روزګار فاني وي
ښځه محبوبه ځوانه ديني بويه
چه زيست روزګار کا په ښادماني وي

څه ئې حيرانه سړيه څه يې
خاوري يې باد يې وار يې اوبه يې
که يَو دِ نه وي پدا څلور کښ
نور دَ ژوند يو په شماره نه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چه ختلي په ملکوت وي
د هغه کله په کار ناسوت وي
فرقان ناطق دَي په امر نهي
چه نهي نکا ځاي ئې لاهوت وي

ښښتن دَ خوني دَ خوړو خوند غواړي
وينځي مريونه دَ خوړو شخوند غواړي
نادان په بند دَ چاري نظر نکا
هوښيار په هري چاري کښې بند غواړي

څو غم غيرت کړې چه غليم مي نمري
قضا چه نه وي سړی په څه مري
نه به ته پاتو شې نه به دَي پاتو شي
هيڅ بيړه[1] مکړه هر څوک به وَمري

څو آزموده نشي په کار و بار کښې
په صحبتونو په جنگ په ښکار کښې
هونبره په زويه په ورور باور مکړه
وراني به دروليي په لوي لوي کار کښې

چه سَرَه لوي وُو په يَوه غولي
و گور ته ولاړل هغه همزولي

---

۱. يعني عجلت، شتاب، چابکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ئې پدواړو غوږونو آروم
نارې دَ دیو چه ما هم بولې

چه څوک دِ ښه یسې ور ځنې ښه وایې
که دَې بلا وې ورته لیمه وایې
چه دَ زړه مهر ور ځنې مات شي
که هر څو ښه وي ورته ښه نه وایې

څوک چه دنیا غواړي هغه رنځور دئ
هر چه عقبا غواړي هغه مزدور دئ
هر چه مولیٰ غواړي تر هغو ځار شم
هغه په دواړو کَونو مسرور دي

چه پرې مَیَن وې که بد وگورې
پرې دِ ووزي دَ سترگو تورې
ورته دعَا کړه که دَي ښیرې کا
ورته خندا کړه که دَي دِ زورې

چه پس له مرگه سَړی ښه یاد شي
که هسې خوې کا پدا دِ ښاد شي
چه خوې ئې نه وِي دَ نېکنامۍ
ژوندُون ئې هیڅ وِي ژوندُون ئې باد شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ځوک سوګند کا کار ئې څرګند وِي
سر دَ دروغو ژر ژر سوګند وي
سوګند به نخوري چه راست ګويان وي
دَ دروغجنو سوګند کمند وي

ځوک چه ډوډۍِ دَ دهقانۍ خوري
خواړه دَ حورو دَ مهمانۍ خوري
چه ئې په ظلم خورې واړه دِ زهر شه
که شولانونه دَ سلطانۍ خوري

چه ئې وهلي قلم مطلق دئ
ايمان که حق دئ په کافر ناحق دئ
په چا سحر شو په روښنائي شوه
په چا شپه راغله باندي شفق دئ

ځوک چه قمر ياد کا روي دِ را ياد شي
ځوک چه عنبر ياد کا موي دِ را ياد شي
ځوک چه مقر ياد کا کوي دِ را ياد شي
ځوک چه سقر ياد کا خوي دِ را ياد شي

څه نعمتونه دِي تر سر تر پايَ
چه دِ موندلي دِي له يَوَه خدايَ
په هَرَه ساه يې شکر وکاږه
که غافل نه يې ثنا ئې وايَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک د هواد هوس نتلي دئ
ځوک مي په بغض په حسد تللي دئ
پلار دَ خپل ځان دئ زوي دَ خپل ځان دئ
پخپل خپل جور هر ځوک نيولي دئ

ځوک چه آشتي غواړي که دِ غليم دئ
"والصّلح خير" ځاي دَ تَسليم دئ
عفو بهتره تر انتقام ده
نيکي په بدو کار د کريم دئ

ځوک چه خبري ستا دَ ښايست وائي
ښه خوي خصلت به دِ راته په څه ستايي
زه درته ژاړم ته راته خاندې
دا هسي کبر په هيچا نه ښائي

ځوک چه په خوي کښ پاکيزه پاک وي
سخ ئې په کور دئ پاکيزه ژواک وي
سلوک چه بد لري زار ئې دَ ځان دئ
که هر ځو ښه وي هغه هلاک وي

ځو دا جهان دَي دا هسي تل شي
خپل دِ پردي شي پردي دِ خپل شي
دَ بل وي ستا شي په يِوه دم کښ
هغه چه ستا وِي هغه دَ بل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک په چا گرم وي په چا ناگرم وي
ځني بد فعل په هر چا گرم وي
ته خپل خوي ښه کړه په چا گرم مشه
خود به شرمېږي چه تر تا گرم وي

څو دِ د تورو زلفو خمونه دي
هونبره په ما باندي پراته غمونه دي
دَ خپلو تورو سترگو غمزې پوښته
چه ئې په ما باندي دا ستمونه دئ

څو به بریتونه دَ ځوانۍ ځوانان پوسي
خوبي یې دا دَه که خبردار اوسي
مرگ شته پیري شته دواړه را تلوني دي
سړی یا مرگ یوسي یا ئې پیري یوسي

څو څو قرنونه به وورباندي تېر شي
شیرین صورت ئې په بل بل څېر شي
لکه چه هېري دِي پخوا پېړي
خوشحال به هسي لَه دله هېر شي

څو به په لویه غاړه د ده بولې
دَ غریبۍ بدلي بولې
زه در پوهېږم زړه دِ زخمي دي
دَ رغېدلو طبیب در بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ئې غيرت وي څو ئې همت وِي
دَ مرد به هونبره قدر قيمت وي
مرغه چه نلري تندرست دوه څانگي
پرش ئې کله په رفعت وي

څو څو ښادئ دي په دا آفاق کښي
واړه به بيا مومې په اتفاق کښي
څو څو غمونه يا محنتونه دي
يا په دروغ کښ دي يا په نفاق کښي

څوک دِ غم نه کا دَ نامرادئِ
نه به تَل غم وِي نه تل ښادئ
دَ فلک عدل انصاف ښکاره دي
کار ئې دَ ظلم دَ بيدادئ

څو به سودونه کور ته راوانړې
څو به خوانونه دَ خوږو خوانړې
څو به خوبونه دَ خوښئ کانړې
آخر به پرېوزي درباندي کانړې

څو ئې همت دَئ هونبره قوت لري
هر مورت لري هر فتوت لري
خليل آسا دَئ لکه موسي دئ
ابدال په اور په اوبه نصرت لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



حب د دنیا دئ چه څه بلا دئ
چه څه بلا دئ حب دَ دنیا دئ
هونبره رسوا دئ دا حب چه څونبره
دا حب چه څونبره هونبره رسوا دئ

خداي چه ښه کړي په دې جهان دي
که پرې پوهېږې انسان اسان دي
چه سَرَه یَو شي دا دواړه توکه
مشکل کارونه ورته آسان دي

خوشحاله زوړ شوې سړَی چه زوړ شي
دَ مهوشانو له میني موړ شي
ته څو زوړېږې لا مین کېږې
زړه به دَ کله ترې موړ یا سوړ شي

خیال د هغې دي چه شوخ و شنګه وي
شونډې ئې شهد په مخ ګلرنګه وي
چه دا ئې هیڅ نه وي ناز به په څو کا
که ناز کا ناز به ئې بتر تر جنګه وي

خُټ خُټ دَ دیګ دئ سرو دَ وږي
غږ دَ اوبو دئ ژوندون دَ تږي
چه ئې کښ کښ شي پرتوګ وکاږي
هغه آواز دَي چه زړونه کوږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خار دِ په بخره دَ خارکشانو شي
گل دِ په بخره دَ گلرخانو شي
قند دِ په بخره دَ شنو طوطيانو شي
سوز دِ په بخره دَ پتنگانو شي

خبري گراني دي اساني چري دي
دَ چا مشکښي دَ چا گوهري دي
پدا دنيا کښ چه ئې بهتر گڼي
ښې ښې خبري ترې لا بهتري دي

خپل مال په ترس په صرفه په بيم خورې
دَ بل غم نه کړې که درست که نيم خورې
په کور دَ کنډې رنډې يتيم خورې
ملا دا ولي اور دَ حجيم خورې

خواري ئې نشته چه څوک هوښيار وي
هوښيار چه نه وي په خواري خوار وي
نراد چه ښه وي دَ نرد گټنه کا
بد باز په بده بازي نا تار وي

خوشحال که هر څو فاجر فاسق دئ
عيب ئې مه کړه شيخَ عاشق دئ
چه پارسايان دِي پخپل خدمت به ځي
دَ خداي دَ فضل فاجر لايق دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب مي دروغ دئ نه د ناروغ دئ
خوب دَ درمنو زړونو دروغ دئ
لکه په ويښه وي هسي په خوب وي
چه چا موندلي دَ زړه فروغ دئ

خزان بهار دئ بهار خزان دئ
هجران وصال دئ وصال هجران دئ
شپه شي بيا ورځ شي دود دَ جهان دئ
غم چه ښادي لري کار ئې اسان دئ

خبر لا نه يم چه لا به کله شي
چه مي به کسي سَرَه و بله شي
ته آئينه گورې نه مي سينه گورې
چه دِ دَ هجر په لمبه سوله شي

خصلت ئې دا وِي چه لئيمان وِي
نن چه څه ورکا کانده پښېمان وِي
که هر څو ډېر ورکا خپل ورکړه کم گڼي
دا شان ئې دود وِي چه کريمان وِي

خوشحاله بس کړه شان شان دِ ډېرو وې
پيشو دِ ډېر ووې اوښان دِ ډېر ووې
سود دِ سکوت دئ مشغول پدم اوسه
ژبه خوندي لره پرېشان دِ ډېر ووې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خال دِ د زړونو په دا غل راغلي دي
دننه زړه دِ د ما داغلي دي
چه ښه جمال لري هغه ښه خال لري
مخ دِ ښاغلي دِي خال دِ ښاغلي دي

خسیس که مال لري پرې ښاد به نشي
بنده بنده دَي آزاد به نشي
چه همت ناک دي هغه آزاد دي
آزاد آزاد دي عباد به نشي

خوشحال که تور دي دَ گناه پتوري
خلق حیران شِي چه ورته گوري
خپل دین محکم لري خداي ډېر کرم لري
مخ به ئې روڼ کا دَ سبا تر ستوري

خوشحاله څو دِ جوش و خروش دئ
نه دِ څه عقل شته نه دِ څه هوش دئ
هونبره ته نه يې په ځان غره مشه
دَ خداي کرم دِ لا پرده پوش دي

خواږه دَ میني نه را پټېږي
واړه په مینه سَرَه غټېږي
مینه په مثل نافه دَ مښکو دَه
نافه دَ مښکو چرته پُټېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږ تر شکرو بحر سگرف دئ
خوشبوي تر مښکو صفا تر برف دئ
کاسې خمُونه کوزه څه حرف دئ
راوړه آخله مدار به ظرف دئ

خوب دَ سحر که هر څو محبوب دئ
سړی چه ویښ شي سحر لا خوب دئ
دنیا به پاتو شي دَ دنیا عیشونه
هغه جهان لَره طاعت مطلوب دئ

خو شرنگ تر بازه مرغ زرین دئ
باز مي په قدر کښ تر صد چندین دئ
څه شو که لوي لوي وزر پرې پوري وي
کرگس گرگس دئ شاهین شاهین دئ

خانان هغه دي چه په خپل نام دي
نه په دنیا دي نه په خپل کام دي
چه په کوم توکي د نام ښېگړه وي
په هغه فکر کښ په صبح و شام دي

خصلت بدا لري چه منافق وي
دَ هر مذهب سَرَه به موافق وي
یو به ئې زړه وي یَوَه ئې ژبه
یو به مذهب لري چه څوک صادق وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونه چه پاکه وِي پرې برکت ووري
ورباندي هر کله عزت دولت ووري
پاکي چه نه وي په هغه خونه کښې
ورباندي واړه بلا آفت ووري

خلق چه بد شي بادشاه ئې بد شي
په هَره چار کښې حیران بخرد شي
خوبي په دَور دَ عالمگیر نشته
دا چا به ولي له چا حسد شي

خوږه نمړئ‌َ که ښه مزه لري
ترې مي توبه ده که دا بزه لري
همای مرغه مي ځکه هډونه خوري
اسمان له غوښو سَرَه خزه لري

خوشحال که هر څو په رنځ کښې ژاړِي
نامرد ئې وگڼه که په مرد نه وياړِي
ژړا ئې واړه پدا سبب وه
دَ خدایه خیر دَ خپل ایمان غواړي

خان دَ وگړي چه شمشیر زن نه وِي
دَ ده ښه ور کړل دَ ده ښه نغن نه وي
لکه نامرد مېړه چه واده وکا
خوار زار روزگار کا حال ئې دَ زن نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوي چه دَ بدو دَ چا عادت شي
په پند په زجر لا زيادت شي
طبيب ئې څوک دَئ ملک الموت دئ
چه مشرف ئې په شهادت شي

خپل بد خويونه بد خوي هنر گڼي
په ځان که خاوري وي خاوري هم زر گڼي
په ځان چه څه وي بل هم هغه گڼي
يو چه کافر وي بل هم کافر گڼي

خپل حکم مکړه چه کم يا ستر وي
دا فکر مکړه چه لس يا زر وي
دَ کښيد گري په لاس کښ ستن شته
دَ خطا وهوني په لاس کښ در وي

خوشحال غريب دئ درويش گداي دئ
خپل حکم نلري دَ يار په راي دئ
چه چرته حکم هورې بي درومي
چه کښېنوي ئې هغه ئې ځاي دئ

خوشحاله عمر دِ تر شپېته تېر دئ
نېکي دِ لږه گناه دِ ډېر دئ
دفتر دِ ډک دئ دَ گناهونو
درته به ياد شي که دِ تا هېر دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواره سړیه خو هونبره ښه ئې
چه روغ په تن یې چه روغ په زړه یې
چه دواړه توکه در شخه نه وِي
په تخت که کښېنې وایه ترو څه یې

خو یَوه ساه یې بود دِ هم دا دَئ
یو موټې خاوري جود دِ هم دا دئ
نور سود دِ نه وینم پېدا دنیا کښ
که څه نېکي وکړې سود دِ هم دا دئ

خیر پېدا کښ دَئ چه ډېر مالدار نه یې
په غم دَ عشر دَ زکوٰة گرفتار نه یې
لکه دِ دخل دي هسي دِ خرڅ دي
محتاج و چا ته په لږ بسیار نه یې

خوشحاله پاڅه روغي دِ پښې دي
مکې ته درومه څه خرخښې دي
زویه که ورونه که ښه یاران دي
واړه دِ ولیدل دَ خپلي ښې دي

دنیا څو ډېره هونبره ئې غم ډېر وي
چه نه وِي نه خوري هم ئې الم ډېر وي
هستي نېستي ئې دواړه بلا دي
خوبي ئې دا ده چه درته کم ډېر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ځان دښمن دي دښمن چه يار گڼي
دښمن چه يار گڼي مرگ دِ تيار گڼي
هوښيار به ځان دَ نادان په شمار گڼي
نادان هغه دَي چه ځان هوښيار گڼي

دَ ښو تير دِ په څو تېره دئ
واړه لک شويَ ځما په زړه دئ
دا دَ نکريځو نگار پرېِ نه دي
دَ خوار په وينو ئې ورغوي سره دئ

دَ تن خولې دِ بوي دَ گلاب لري
زلفي دِ طعن په مشکناب لري
عتاب نَور مکړه دَ خداي دَپاره
خوشحال دِ کله د عتاب تاب لري

دريغه وړنبيه عمره وروستي وي
دريغه ورستيه عقل وړونبي وي
هغه بيا راځي پدا هيڅ کار نشي
پدا به پوه شي که ښه سړي وي

دريغه له ځايه هسي هښيار وي
لکه چه اوس يم خپل مي اختيار وي
راته ښکاره شوه ياري دَ خلقو
نه دَ چا يار وَي نه مي څوک يار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مانې خوږ ئې هرگوره گران دئ
خوږ ئې د توري پرهار په شان دئ
په څو پخپله راغله پخولا شوه
خوشحال که زوړ دئ باطن ئې ځوان دئ

دا توري بڼيري چه ايمانداري دي
سپيني ناپاکي بڼيري ترې ځاري دي
صدق وفا بويه چه دا ئې نه وِي
بڼيري دَ ځوانو دَ زړو مرداري دي

دَ چا په کور کښې روپي مهران وي
دَ چا په کور کښې دُر و مرجان وي
که ته هيڅ نلرې گمان دا مکړه
چه به د تا غُندي واړه ناتوان وي

دَ مرد چه صبر چه استقلال نه وي
چه غم پرې راشي پکښې خوشحال نه وي
مردي ئې هيڅ دَه ځما په پوهه
که ئې په جاه و دولت څوک سيال نه وي

دننه زړه مي ور پسي ربړدي
چه زلفي تاو کا دړۍ کښېږدي
زوړ شوم نارې وهم توبه له عشقه
که مي دلبري ور پسي پرېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ شاه پالنگ دِ د موزي مسکن نشي
گلزار دِ ځاي دَ زاغ و زغن نشي
گل دَ بلبل دئ بلبل دَ گل دئ
په ښه جمال به غافل مَيَن نشي

دَ مرگ فتال دي په هر هر کلي
غشي په گرت کښ نيازمن پرې ولي
چه مي په سترگو هغه ياران ليدل
اوس ئې ليدل شي په سترگو څلي

دولت په مثل مرغه دَ ښکار دئ
باز دَئ شاهين دَئ چرغ دئ شنقار دئ
له لاسه تللي مرغونه څوک نيسي
دَ ښکار مرغه مي دَ ښه مير ښکار دئ

درد چه په بل وي خبر پرې نه وې
چه دِ په ځان شي له درده چوې
سود زيان دَ هر چا جدا جدا دئ
کله دَ بل په خوراک موړ ته وې

دا يَو څو توکه دَ وقوفدار دي
باز دَ مير ښکار دئ زر دَ تجار دئ
کتاب دَ چا دئ دَ دانشمند دئ
ښځه دَ مرد دَه مښک دَ عطار دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پند پروا لَري خاوري خوړوني
وربانديِ بد لگی نصیحت کړوني
بد دِ دَ هیچا تر فهم ښه نشي
نه وي دَ پلار دَ خبرو وړوني

دَ خپلي خوني دېوال که کوږ وي
دَ خپلي خوني په ښتن خوږ وي
زیست و روزگار ئې په کښ خوندي وي
لوښي کالي ئې په ده کښ بوږ وي

دولت دَ خلق په اتفاق کښ دي
هغه به خوار شي چه په نفاق کښ دي
زوړ شوم یَو یار مي یکرنگ و نه لیده
زړه مي تر واسه په اشتیاق کښ دي

چه تل ئې مت وِي په خودکامَۍ
اندوه ئې نه وِي دَ بد نامَۍ
درست ناسپاس وي حق ناشانس وي
هر څه به بایلي په دا خامَۍ

ډېر څه مي وکړل ما وې که یار شي
دیدن ئې وَوینم زړه مي قرار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا وې چه صبر کړه بصر مي هم وکړ
سيکن[۱] يم کله په صبر کار شي

د بوټ[۲] هوا دَه نن په شاخزار کښي
زرکي فرياد کا په مرغزار کښي
په بړغ ئې ذوق کا ځما بازُونه
پرخه ورېږي گرزم په ښکار کښي

دا چه و تا ته شيخان پيران دي
بد خواه دَ خلقو بد خواه دَ ځان دي
علم عمل بويه مرشد دَ لاري
چه دا ئې نه وي واړه سگان دي

دَ يار دَ ظلم د غشي پړوکي
ځما په زړه کښې پراته دي اوکي
دور دَ سپيو سرَه ئې مل شوم
تو ئې وَنه وې راته په وروکي

درته رښتيا وايم که مي ښه يار يې
څه خوي خصلت لرې څه ناقرار يې

---

۱. دا کلمه په يوه قلمي نسخه کښې سيکڼ او په بله کښې سينکړ ليکلې، په يوه کښې محشي بد شامت ترجمه هم ورته کښلې ده. موړ، ډک، د ډېر خوراک کولو په وجه د زړه خرابوالي (درياب).

۲. بهر، له خپله ځايه په زور بهر کړې شوي څيز يا کس (درياب).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله مي یار یې کله اغیار یې
هم وفادار یې هم جفا کار یې

دَ یار عتاب مي قبول په ځان دئ
په عاشقانو دا دود روان دئ
هم ئې وصال شته هم ئې هجران دئ
جنگ چه آشتي لري کار ئې اسان دئ

دروغ دَ چا دَي د کمذات دَ وړي
یا دَ کمزوري په قوت لړي
چه دا ئې نه وِي دروغ به ولي کا
دروغ که کاندي خوړ ئې په سړي

دَ چا چه نه وِي دوراند یشیِ
مه ئې یاري وینې مه ئې خوښیِ
دَ هغي وني گلونه مه وینې
چه ئې اغزي وي دَ دلرېشیِ

درته به وَوایم څو کړې پوښتني
که دِ بایلَني دي که دِ گټني
ځاي دِ هم دا دَئ بل ځاي دِ نه دئ
که پهِ منگلي وي که پهِ لَمني

دَ بل په عیب په څو وېښته چوې
دَ ځان په عیب نظر هیڅ نه کوِې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل سل زناره درته ښکاره ندي
هندو خو يَو لرِي هغه ئې هم شلوې

دَ چا چه دننه سينه په درد وي
دمه ئې عين په آه سرد وي
که مرد دَ لاندي وِي ښځه دَ پاسه
پدواړه توکه ظفر دَ مرد وي

دا د بارخو دي خوله نولي
که لاَله گل دَي پرخي وَهَلي
دا دِ سرې شونډي دِي که سپين غاښونه
که لعل و دُر دِي سَرَه پېيلي

دَ مخ په رنگ يې تر گل ښاغلې
دَ باغ لاله يې راته راغلې
لاله په خپله سينه کښ داغ لري
تا ده سينه دَ عاشق داغلې

ډېري مرغۍ په زړه دلکښي دي
سحر چه بڼغ کا هغه مي خوښي دي
ډېر نعمتونه مي په جهان کښ وليدل
چه لوي نعمت دئ نعمت خو غوښي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خپله لاسه چه ستمونه دِي
کُښي په ما نَدِي په عالمونه دِي
دَ خپله لاسه لکه ښادئ دِي
دَ خپله لاسه هونبره غمونه دِي

دَ بیم په ځاي کښ سړی صلال وي
چه ئې امید وي هورته خوشحال وي
هغه په خړو اوبو نظر نه کا
چه تل ئې بخره آب زلال وي

دَ چا به څه لَره مانه له بله شي
چه نیکه بده په عمل موندله شي
هغه چه وکړې هغه به وَرېبې
له خپله لاسه هَرَه کرَله شي

دَ وړاندي یښي درته یَو خوان دئ
نعمت ئې گوره الوان دئ
ته به ترې پاڅې بل به ترې کښېني
له واړو پاتو دا خوان دا شان دئ

دَ څرخ له لاسه زړګوتې رېږدي
دا خوي به چېري له لاسه پرېږدي
هر څوک چه ووینې چه داغ په زړه لري
دَ داغ دَ پاسه بل داغ پرې کښېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چه و تا ته دَ دین اخص دئ
که پرې خبر شې کافر دَ نص دئ
په نورو حکم دَ لَن تَنَا کا
دَ لَکَنوُد دَ ایت مختص دي

دَ شپې څښتن دِ سحر ته گوري
گُندي پرې وَخېژيَ دَ سبا ستوري
هیڅوک دِ طمع امید پرې نه کا
باران په تېریو کښتونو ووري

دریغه ځوانۍ ستا کامرانۍ
بڼغ مي دَ تورو بڼغ دَ خانۍ
زوړ شوم نا توان شوم خیال مي دَ توري
که بیارته راشي ځما ځوانۍ

دریغه جاویده ځواني بقا وَي
دَ ښو دلبرو دیدن لقا وَي
ډک ډک جامونه تېریو ته تل نیوي
دَ مهتر خضر دَ اوبو سقا وَي

دریاب چه لوي دي هونبره هوار درومي
شور و غوغا کا په خو قرار درومي
سیلاب په خو خاشکي غړپړ پیدا کا
بقا ئې نه وِي په ډېر تلوار درومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ما په باغ کښ ګلونه ډېر دي
خداي ئې را پرېبړده په هر هر ځېر دي
داغ مي په زړه باندي دَ معظم دي
دا داغ چه راغي نور مي پرې هير دي

دا نمر په ورَځي په شپه دا ستوري
چه ناقرار دي و بله ښوري
دَ ډېرُو سترګي پرې لګېدلي دي
ولاړل لا ډېر به ئې په سترګو ګوري

دَ وطن وني چندڼ اګر دي
خاوري ئې واړه مښکو عنبر دي
که سراي و نورُو وته سنګېږ دئ
کاڼي ئې واړه ما ته سره زر دي

دَ تن مي تېر سَو شپېته رګونه دي
ستا نه غمونه پکښ زرګونه دي
جدا له تا نه چه يَو نفس درومي
ځو نفسونه هونبره مرګونه دي

دا جام چه چا چيښ هسي لا چيښ شي
مستان ئې خوب کا کله به ويښ شي
خال ئې و هيچا وته معلوم نشته
آه دې له دِله هر دم وکيښ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خولې وَيل دِ واړه نبات دِي
خواږه دِ لا دَ ښکنځلو زيات دِي
څوک ئې چه کُښل کا سخ دَ هغو دِي
شونډې دِ دواړه آبحيات دِي

دَ بخت په مخ کښ زر ودانۍ دِي
دَ بخت په څټ کښ زر ويرانۍ دِي
بخت دَي دَ شاه دَ گدا يا نو هيڅ نشته
په بخت خوارۍ هم کامرانۍ دِي

دَ ملوکانو صحبت بل اور دي
دَ اور سکروَټه دَ دې بيور دي
که تور هاتي يې که تور مزري يې
ستا مې له اوره سَرَه څه زور دي

دروغ چه فاش و بې صرفه وايي
خپل ځان پخپله خواري ته بيايي
تر دا هغه بد چه شيطاني لَرِي
مکر فريب کا په نفاق پايي

دَ ملک سردار د هوښيار قلاش وي
تل دِ له ښو سَرَه په ښه معاش وي
ځاي دَ اشتۍ پريښي بويه
چه ئې له چا سَرَه جنگ و پر خاش وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درویش هغه دَئ چه ترس دَ خداي لري
دَ نیکو فعل دَ نیکو راي لري
طمع له چا نکا لقمه حلاله خوري
جدا له خلقه دَ آسودگۍ ځاي لري

دا خوار خاطر چه په قمر نهال دئ
دَ سمد نال ئې پدا مثال دئ
مېږي چه واخلي دانه و غار ته ځي
ستا مي اخیستي و گور ته خال دئ

دا دَ آسمان دي دا دَ مزکۍ
چه دَ څو شپې لرې دنیا ته څه ی
څو دِ په پورته آسمان ته بوتل
بیا دِ ئې خاوري کړې کپرۍ

دَ ده په حکم بالا پستي شي
مستي خمار شي خمار مستي شي
نه تل بهار وِي نه تل خزان وي
هستي نیستي لرِي نیستي هستي شي

ډېر دِي چه ږیري دَ شیخۍ پوسي
ډېر دي چه مي خوري په رندي کښې اوسي
بنده دَ چا یم دَ هغه کس یم
چه ئې نیولي تر سره یوسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ عقل زانې چه تا ليدَلي دي
دَ صبر قازي چه تا کتَلي دي
که هر څو زور لَرِي يا تېز پري لرِي
دَ شاه دَ سترگو شاهين وَهلي دي

د بادشاهیِ په تخت چه ناست وي
دا کار ئې هيڅ دئ سحر چه نماست وي
دولت دولت دَ سحر خيزي دي
مردان د هسي دولت پخواست وي

ډېره خوشرنگه صاحب جماله يې
تر سر تر پايه پري مثاله يې
عيب دِ دا دَي درد دِ و مه وينم
په مرد حرامه په نامرد حلاله يې

دَ سرداریِ چه څوک هوس لَرِي
خپل ځان دِ خاورِي خپل مال دِ خس لري
غم دَ وسلو دَ جنگ هيڅ نکا
که دَ خپل ځان سَرَه يگانه لس لَرِي

دعوه دَ چارِي په يَوَه هرکښ وِي
عقل هم بويه چه ئې په چرکښ وي
چه بيهوده درومي بلا هغه مومي
سر[1] په هغه کښېږدِي چه به هنرکښ وي

---

١. سر په هغه کښېږدې چه دِ په سر کښ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کور پرېښونه سرمه پېغور دَي
هر[۱] ځاي چه وزېږي هغه دِ کور دي
هر هر کال ئې په ځاله تاخت کېږي
هغه شاهين دي هغه ئې کور دي

درزي لا گز لرِي مقراض سوزن لري
يو جمدر گوتې خوشحال خيرن لري
کوچ ئې آسان دئ مشکل هيڅ ندئ
غم دَ يارانو درد دَ وطن لري

دَ هوښيارانو وَرمونه زر دِي
دا د هغو دِي چه پرې خبر دِي
چه د هوښيارانو ورمونه نه مَنِي
د هغو هر کله خاوري په سر دي

دا چه خانان دِي يا امرکان دِي
په هند کښ گرزي په هر مکان دِي
غوښي هډوُونه دَ مظلومانو خوري
ځما تر فهم واړه ددان دِي

دَ بادشاهانو چه ښه خانان دِي
کار کشائي کا مقربان دِي

۱. هر ځاي چه وزېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ئې آشنا شې ځني حذر بويه
اور دِي اوبه دِئ درد دِي درمان دِئ

دَ باغ ګلونه چه ننداره شِي
څو څو کارُونه پکښې ښکاره شِي
چا ته پخوارُو سترګو هيڅ مه ګوره
ډېر نا ګټلي دِي چه په شماره شِي

درته وايم که ته عاقل يې
ناحق په نورو چارو خوشدل يې
دولت که نلَرې خپل دِ پردِي دي
که بخت دولت لرې دَ هر چا خپل يې

دَ خولې خبري دِ خوږې ترمَن دي
و بختورو وَته من من دي
ترخه وَيل دِ دَ خولې هر ګز نه وو
دا چه ترخه وايې دارو درمن دي

دَ سردارئِ چاري دشواري دي
څو څو کمرِي څو څو ئې لاري دي
براق دَ عقل دَ همت پيدا کړه
په کښې بېشماره بلا تياري دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ باغ تیښتن ته یَو سیب پیشکش راوړي
دَ ده له باغه بیا ئې په اش راوړي
هغه به څوک وِي غافل نا اهله
دَ زړه فکرُونه چه مشوش راوړي

دَ یار په عیب چه یار خبر شِي
یاري ئې ولاړه که پرده درشي
دَ یار دِ عیب هنر دَ ځان ګڼي
پوه دِ په عیب هم په هنر شي

دَ بادشاهانو چه امرګان دِي
دَ یوه بحره ولي شان شان دِي
واله که لویه وِي که کم لښتي وِي
آبدست پاکئ لَره واړه یکسان دِي

دریغه په باد ولاړې څه شوې ځوانئ
یَوه شپه خوب وُ ستا کامرانئ
ویښ شوم بیدار شوم په پیري واوښتم
نه بڼ د توري شته نه دَ خانئ

دَ سر غلیم دِ که دانائي لَرِي
بهتر تر دوسته چه کانائي[1] لَرِي

---

۱. محشي ورته لیکي چه کانا یعني احمق او نادان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توان یا دَ زور یا دَ ځوانانو دَئ
لاف دِ هغه کا چه توانائي لَرِي

دَ ما دَ یار په یاري کار دئ
که مسلمان دئ که زنار دار دئ
که مهر مینه وفا رشتیا لري
نور څه ئې مه گوره چه پوره یار دئ

دَ ده په ذکر واړه گویا دِي
که دَ خشکۍ که دا دریا دِي
دَ ده له حکمه وَتَلِي نه دِي
که ناست په تخت که په بوریا دِي

دَ دولت ستوري گرزي قابل غواړي
قابل چه بیا مومي نه پسي بل غواړي
که چېري مل شي دَ ناقابل سَرَه
ټکاؤ ئې نه وِي رخصت ترې تل غواړي

دروغ وعده دِ په ما رشتیا لگي
ترخه دَ کښلیو لکه حلوا لگي
دَ ښو ناوک دِ په نورُو نه پسندم
پرېږده چه واړه په زړه ځما لگي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ووي[١] مي خوښ دَي چه چا ويلي دي
ډېر مي په زړه باندِي ښه لګېدلي دي
بد خواه دِ خوښ کا په ښو خبرُو
نېکخواه په بدو خپل ژړولي دي

دا مخ چه ته لرې دَ بوري لورِي
مګر دا مخ لري ښې حوري هورې
يَوه به تا غُندِي ښايسته نه وِي
چه اروېده شي دا هوري دوري

دانا ئې مه ګڼه چه صبر نلَرِي
چه صبر نلَرِي حکمت به څه لرِي
سړی دَ صبر په کار کښ وازميه
چه صبر ناک وي هر څه به ښه لَرِي

دَ يار مي واړه دَ سترګو تور دئ
چه سپين و تور ئې دَ چم دَ کور دئ
چه دَ معشوقي تر سپي ځان جار نکا
مَيَن ئې مه بوله هغه څه نور دئ

دَ آسمان دور خالي رونق دَئ
ورکا بيا واخلي دا ئې نسق دَئ

١. يعني قول او ګفتار او جمله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ئې راکړل هسي ئې واخیستَل
اوس ئې راته پاتو دا یَو رمق دئ

دا غم فکرُونه په زړه کښ باز دي
تل دَ ښادیِ وَ ښکار ته ساز دي
خداي به ئې ښکار دَ ښادیِ ساز کا
بازُونه کله خالي پرواز دي

دریغه سړیه چه څه بلا یې
واړه دَ ځان یې نه دَ بل چا یې
تا به دَ پلار سَرَه خپلوي وَ نکړه
مقصود دِ خپل دي چه دَ بابا یې

دا دود ځنډن دي پدا عالم کښي
نادان بې غمه دانا په غم کښي
جهان یَو باغ دي نوي خبري
گل دَي غوړیږي په هر هر دم کښي

دَ هر چا قدر پخپل همت دئ
دَ هرِي چارِي مدار په نیت دئ
دَ نیکو فعل دَ ځان راحت گڼه
دَ بدو فعل دَ ځان زحمت دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا آسمان ندَئ یو خوني پړانګ دئ
راته غړنبېږي تلتل په بانګ دئ
خوله ئې سره کړې دَ دارا په ینو دَه
شفق ته ګوره دا ووي په ټانګ[۱] دئ

دَ غرونو ګاڼي تر حساب تېر دِي
چه واړه کاڼي دَ لعل په څېر دِي
که اهل وَوینم زه به ترې ځار شم
اهل څوک نشته نا اهل ډېر دِي

دَ عشق غمونه تر عمره سَم دِي
په هره ساهه په هر هر دم دِي
دَ نامردانو ور سَرَه کار نشته
غم دَ مردانو دَئ مردان دَ غم دِي

د خپلي چاري هنر یَو هر لري
مغز ئې په سر کښې هونبره څو سر لري
مزري ګاوز دَ ځنګل پڅو نیسي
ګیدړ دَ شلانډُو دَ ښکار هنر لري

دَ عشق په ښکار کښې یو هر ګهېږي
یا په کښې قهر سترګي رډېږي

۱. د پښتو مرکې په قاموس کښې ټانګ په معني دَ آوازې راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دواړه توکه په عشق کښ یاد دِي
سړی ناحقه په باد ډډېږي

راغله په وخت دَ ګلونو کُښلې
ما وه له میو توبه وکښلې
وئې چه تا ده توبه وکښلې
باده ئې بیا وه په زور را څښلې

رنګ دَ طوطیانو لَري شین کوسي
هنر چه نه لَري بېقدره اوسي
چه اصالت لري چه ښه خصلت لري
هغه به بخره له میانه یوسي

روغه کټوه په نغري سَمَه وي
ما ته کټوه په نغري خَمه وي
جن چه ځان خوار کا ملته روپۍ شي
ملته روپۍ په قدر کمه وي

رند یم څرګندي دي ځما بدۍ
چه راته یو دي خپلِي پردۍ
پېغور ځما مکړه شیخه خپل زړه ګوره
چه پکښ پنډي دي دَ عشق غدۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



روژه دَ خداي له وېري درلله شي
که نه په هر چرته روژه خوړله شي
په آشنائي کښې مهر اخلاص بويه
گنُدي په درنگ کښې آشنائي بله شي

راشه که گورېِ دا خونړیَ
سر ئېِ ورېِ په سر دړیَ
تل تل سرُونه دَ عاشقانو
و حلق ته اَچوِي لکه نمړیَ

زړه دِ مین وي په توري سپيني
خالي دِ نه وِي له يوې ميني
دا وُوي رښتيا دي عاشقان نه مري
مجنون ژوندَی دَي که ته ئېِ وينې

رنگ رنگ گلونه په باغ کښې وا شي
لکه چه وا شي هِسي فنا شي
گرمي هيڅ نه دِي دَ باغ بلبلي
چه ئېِ دا هونبره فرياد ژړا شي

راغله اختر او نوروز همغاړي
مينا خندا کا چغا نه ژاړي
ساقي دا وخت دي چه توبه نغاړي
و ما ئېِ راکړه زړه مِي مَي غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور که بادشاه وي که اولیا وِي
دَ ځواني ښځي ځني بلا وِي
زوړ ئې که هر څو دَ ځان مزدور شي
دَ ځواني ښځي نوره هوا وِي

زلفي چه تاو کا په مخ ئې پرېږدِي
کښلي گلونه په بارخو کښېږدِي
زړه مي بلبل شي وربانديِ راشِي
له ډېره شوقه وربانديِ رېږدِي

زویه هغه دَي چه خوي دَ باز لرِي
لوي لوي ښکارُونه لوي لوي پرواز لرِي
نه خوي دَ چرگي نه خوي دَ زاغ لرِي
چه ځان دَ غولو خوراک ته ساز لرِي

زړه وَ هغه ورکړه چه زړه دِ وساتي
که دوه درې وِي چه زړه دِ ښه ساتي
زړه یو ښه څیز دَي و سپي ئې ورکړه
نه و هغه ته چه زړه دِ نه ساتي

زړه مي زخمي دَي ویني ترې څاڅي
ژاړم له درده څړیکي ترې پاڅي
تیر ئې خوړلي دَ هسي لیندي دي
چه په آواز ئې دَ ژړیِ ناڅي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر شوي دَ زرو په حال خبر وِي
چه چرته خېژي په کوم مقر وِي
زر به په سپينو شگو کښې نه مومي
شگي ئې توري تر خاکستر وِي

زړه دِ دَ هر چا سَرَه صفا وِي
په چا گرم مشه که دِ رضا وِي
که څوک ناحقه له تا پرخاش کا
اندوه ئې مکړه ظفر به ستا وِي

زه ئې ميلمه يم زړه مي مېزنان دئ
را باندِي هر کله دَ ده احسان دئ
په هر زمان ئې راته صلا دَه
راته ئې يښي دَ معنو خوان دئ

زړه مي په تن کښې لکه بادشاه دئ
ولاړ په فکرونو صبا بېگاه دئ
سترگي غوږونه ژبه دا درې دي
خانان نور واړه څو دي سپاه دئ

زړه چه نسکور وِي غم ئې په کور وِي
که ډېر ئې زر وي که ډېر ئې زور وِي
تل به پرې پوري دَ سيال پېغور وِي
مخ ئې که وينځې هم به ئې تور وِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاغ و زغن دَي په باغ کښې وزري
چمجي ممجي خوري په ځانګو ګرزي
خوشحال و چا ته خپل کار ښکاره کا
بلبلي نشته چه باندي غوزري

زويه هغه دَي چه فد وي د پلار وِي
دَ پلار تر هري خبري ځار وِي
چه دا ئې نه وي ژر دِ په ګور شِي
پيدا دَ پلار نه دي يَو عيب عار وِي

زر دَ خانانو دَ بادشاهانو دئ
دَ نوکرانو دولتخواهانو دئ
خوري دې ګټې دې عيش و عشرت دِ کا
نور څوک چه زر ساتي د ګمراهانو دئ

ډيره دِ کله د پښتانه شي
چه دَ مغل په منصب ئې زړه شي
مغل کمزوري غليم په رحم دئ
کله ئې زړه وِي چه پښتون ښه شي

زرکه دِ ليري له باز وګرزِي
سرړه[1] دِ ليري له پړانګه غوزري

---

۱. غرڅنۍ ګډه (درياب).

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نه ښې به ئې په پورته غورزِي
په څو که کښېوزي نوره به پرزي

زاړه واړه غوايه په غاښي ځان وړي
چه توان قوت لري خپل بار په توان وړي
خوشحاله له پرېبړده خپل بار په خرو موړه
مست مست باړُونه مست مست اوښان وړي

زړه مي ډېر ښه شو چه ته مي يار شوې
زه دِ بلبل شوم ته مي گلزار شوې
چه بې وفا وې حال دِ وليده
ځما په زړه کښ يو تېره خار شوې

زويه ورور مشه چه ځوانمرد نه دئ
مرد دَ ټيکلي مرد دَ نبرد نه دئ
ميړه ئې مه بوله ښځه پرې نوم کښېږده
چه دَ جنگ غشي ورباندي ورد نه دئ

زويه هغه دئ چه په راي د اَب وي
که نه له ځانه پيدا غضب وي
که هر څو ښه وي چه ستا پسند نه وي
غافل ترې مشه اقرب عقرب وي

زويه هغه نه دئ چه هوا پرست وي
زويه هغه نه دئ چه حيا پرست وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عهد و وفا لَرِي سخا عطا لَرِي
طاعت تقويٰ لَرِي خدا پرست وي

ژوندي که گرزِي ځان ئې ژړلي دئ
تورزن دَ سر په وينو لړلي دئ
چه صبر نه لري ظفر به نه مومي
ظفر له صبره سَرَه تړلي دئ

زار دَ هغه دَئ چه آز حاجت لرِي
نه ډېر دولت لَرِي نه ډېر همت لَرِي
هغه به ولي دَ آسمان منت وړي
چه مستغني وي عيش و عشرت لَرِي

ډيره غاښونه مي جدا جدا وائي
ځواني دِ ولاړه راته هم دا وائي
چه چا ته وگورم يا چا ته وخاندم
راته دادا وائي کاکا بابا وائي

زړه مي دَ کښليو سَرَه بيا بيورر غواړي
گوره وَ ځان ته بلا په زور غواړي
زلفي ښکاره کړه خوشحال خټک ته
جنون پرې زور شو بيا رنتهبور غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مي په تن کښ په ډېر آشوب شِي
چه کښلې ياد کړم کله مي خوب شي
زوړ شوم لا خيال لرم دَ مهوشانو
په سپينه ږيره هم عاشق توب شِي

سړی په مثل کانړي دَ کوه دئ
پښو څو رنګه ګروه ګروه دئ
چه جواهر دِي پکښ کم کم شته
نابود بد رنګ ئې انبوه انبوه دئ

سړی که ښه دئ په ښه ګفتار ښه دئ
ګفتار که ښه دئ په ښه کردار ښه دئ
ګفتار صورت ګڼه کردار معني دئ
چه سَرَه يَو شي دا دواړه کار ښه دئ

سړي چه وړي شي کچکول پلاس واخلي
شهوت پر زور وکا نور نور وسواس واخلي
خدايه پښپل کي خوشحال معمور لَره
چه بل له لارِي نه کوز و پاس واخلي

سړَی که وړوني شِي آواره کړوني شي
دَ لويو لويو بخرو په وړوني شي
راشه پخپلو سترګو ئې وګوره
فايده ئې کومه دَه سپَی چه خوړُونَي شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهیل چه وخېژي اوړي تمام شي
زېرمه دَ ژمي دَ سر انجام شي
په آته میاشتي هسي هوا وِي
چه دَ ځوانانو پکښ هر کام شي

سړی چه ځوان وي دَ جونو ځان وي
زوړ ئې په خنگ کښ لکه سوهان وي
زاړه که ښه کا جونه دِ نه کا
جن دِ هاله کا که دَی سلطان وي

سړي په اصل سَرَه یکسان وي
که چوهړي دي که بادشاهان وي
فرق ئې په فعل په خوي هنر وشه
ځکه دُوي هسي سَرَه شان شان وي

سردار هغه دَئ چه شرم ننگ لري
مدام دَ شرم توره تر خنگ لري
صرفه په زر نکا صرفه په سر نکا
چه دښمنان وي له هغو جنگ لري

سترگي دِ نَدِي ستوري دِ بخت دي
چه ورته گوري ښښتن دَ تخت دي
دَ ناز په غشیو هغه شیخان وله
چه لاف دَ زهد کا په زړه ډېر سخت دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي باقي دي دَ روژې څو ورځي
زه په خندا یم ژاړي وریځي
تحویل دَ تلي اختر یِو ځاي راغله
حاضر په میو شه په چرته خوځې

سړَی څاروَي دَئ که ته ئې وینې
په تن په غوښي په هډو په ویني
فرق له څاروي لري په ګویائي کښ
په راي په عقل په شناخت په میني

سحر چه پاڅې په استغفار کښېنې
په یادَولو دَ خپل غفار کښېنې
دا وخت نور مه ګڼه ځما په پوهه
ګڼه په باغ کښ دَ دارالقرار کښېنې

سړي هغه دَئ چه ترس دَ خداي لري
خپل ځان عالم ته آدم نماي لري
حق دَ حقدارُو آشنا په ځاي لري
خوبي دَ عقل خوبي دَ راي لري

سخ دَ هغو دِي چه پاک پیدا دي
که انبیا دِي که اولیاء دي
خلاص دِي دَ نفس دَ شیطان له شره
په ښو په بدو ځائي دانا دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر سبا سو وخت دَ بامداد دئ
را الوتلي دَ صبا باد دئ
خوشبو ئې راوړ دَ يار له لوريه
په څو څو رنګه مي خاطر پرې ښاد دئ

سخ دَ هغه دي چه ښه ئې نيت دئ
نېکخواه دَ خلق په ښه خصلت دئ
تل ئې په علم په طاعت مټ دئ
حاصل دَ عمر علم طاعت دَئ

سخي که لک ورکا و دَه ته کک وي
بخيل که کک ورکا و دَه ته لک وي
دَ هغو ورکړه په ورکړه مه نيسه
چه ورکا زړه ئې له غمه ډک وي

سړی عزيز ښه دَئ پدا دنيا کښې
که نه فايده ئې دَه په ژرفنا کښې
چه وَمرِي غم نه وِي غصه الم نه وي
نه ئې سيالي وِي د سيال په خوا کښې

سوځم بې تابه په لمبو کښې
خوب و آرام دَي راځني تښې
مخ را عيان کړې بيا ئې پنهان کړې
تا يم دا هسي په لمبو ينښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفله په مثل لکه ډېران دي
دولت په مثل باندي باران دي
باران چه نه وِي بوئې دربلي دي
باران چه وشي بوئې روان دي

ساقي غوړېږي سل برگ په مني
دلبري خيال کا دَ ده په ميني
دَ چا په بخره دَ ميو جام شو
دَ چا په بخره پوپي پمني[1]

سړی که ښه دئ چه ديندار ندئ
که ډېر پکار دَئ هم پکار ندئ
توښه طاعت دئ له دې جهانه
جهان په هيچا باندي پايدار ندئ

سړی چه ولانبي په اوبو پاک شي
سپی لا بدبوي شِي چه خو نمناک شِي
احمق چه ولولي څو کتابونه
په څه خو لوسته ياوه کاواک شِي

سړی چه زوړ شي زبون په تن شِي
حواس ئې نور شي په زړه هېرجن شِي

١. محشي ليکي، چه پوپي پمني دَ غره دَ غريبانو خوراک دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لطيف خواړه دِ خوري دخول دِ لبږ کا
که کا، نو خېزه چه پرېږ مين شي

ساقي را پاځه چه بيا نوروز راغي
گل په گلشن کښې جهان افروز راغي
غم دِ په بخره دَ دښمنانو شي
فال دَ دوستانو عجب فيروز راغي

سړی پخپلو سَرَه بې غمه وِي
ونه پخپلو وليو محکمه وِي
دَ چا چه نه وي خپل زويه ورونړه
سيالي ئې کله له سياله سمَه وي

سر شوي په غاړي غرونو ژړلي
دَ ونو پاڼي ماڼي خوړلي
دَ آشنايئِ پيوند مي وليده
نابود پيوند دَي په وېښته تړلي

سترگي چه نه وِي مخ په پساله نشي
خوي ئې چه بد شي دَ خپل کاله نشي
فهم که وکړې دا حال به وَوينې
عيب چه ډېر شي عيب باله نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي که زوړ وي ښه زويه ځوان لري
څه په اندوه لَري څه به ارمان لري
دَ پلار ښه زويه دوباره عمر دي
بد زويه پلار لره بلا شان لري

سړی هغه دَئ چه نوش و نيش وي
نه بدگوئي لَري نه بد انديش وي
په هَرَه چار کښ همت په ځاي لري
که مال و ملک لَري که خوار درويش وي

سړی چه زوړ شي وَرنځ ته جوړ شي
که ډېر هوښيار دئ په عقل بوړ شي
چه بې ايمان وي حرص ئې زيات وي
که ايماندار وي له هر څه موړ شي

سپاره دَ عقل په براق ښاغلي دئ
له عقله پلي په غم نيولي دئ
بدري دَ عقل دَ براق هم بده ده
سپاره ئې سر په ختې لوېدلي دئ

سفله دِ هيچېري دَ مال څښتن نشي
دَ ښو جامو دِ به آغوستين نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمله چه پرېږدِي کټوه[۱] شخه کا
له کبره خياله ورته گفتن نشي

سفله چه زر ټول کا دَ مال څښتن شي
وراني په لاس واخلي دَ ځان دښمن شي
دَ نېکخواهانو په پند پروا نکا
دَ بد خواهانو په صحبت مَیَن شي

سبا به تل وِي مسا به تل راځي
چه يَو تېرېږِي باندِي به بل راځي
يَو به خوشحال غُندي پيدا څوک نشي
په شپه په ورَځ کښې خوشحال که سل راځي

سردار دَ غفو دَ کرم څښتن ښه دئ
دَ جنگ تر کار په آشتي مَیَن ښه دئ
ډېر هنرُونه دَ سرداریَ دِي
چه واړه تېر شي تېغ مبرهن ښه دئ

ساقي را پاڅه بسرلي تېرېږي
اهاړ را درومي غارمه ډېرېږي
گوره لا کله به سهېل را خېژي
چه درد و غم به دَ غارمه کمېږي

---

۱. دَ پټکي نېغه شمله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي را باخه ګل او ګلاب دئ
په باغ و راغ کښې لاله سېراب دئ
په دواړو سترګو په انتظار کښې
هم دَ رباب دئ هم دَ شراب دئ

سېړي په مثل دَ ګبینه دئ
شرم په ده کښې لکه خواږه دي
خواږه چه نه وي په ګبینه کښې
قدر دَ ژاولي بې خوږو څه دئ

سږ کال چه کال دَ رحمت تم دئ
باران په هر چیرته په غره په سم دئ
پسله شپږ میاشتو په چنګاښ شروع سو[۱]
په هَرَه ورَځِي تر نیم ضیغم دئ

سل خپلوان لږ دِي یو دښمن بد دئ
چه ډېر دښنه لري ځاي ئې لحد دئ
په ښه سلوک سَرَه پرَدي خپلېږي
چه خپل پردَي کا کله بخرد دئ

سګان دَ بدر له نوره جنګ لري
ګونګټ دَ مښکو له بویه ننګ لري

---

۱. په دې بیت کښې له چنګاښ او ضیغم مطلب دَ سرطان او اسد برجونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره زر څه نور څه دِي زرنيخ څه نور څه دي
څه شو که برېښي دَ زرُو رنگ لري

سخي ئې مه گڼه چه نغن ئې خوار نه وِي
باتور ئې مه بوله چه پرې پرهار نه وِي
که دانشمند وِي تفسير په ياد لولي
چه ډېر وَيل کا دی به هوښيار نه وِي

سخ دَ هغو دئ چه بې خبر دي
بې غمه خوب کا په خوب و خور دي
روزگار په غم دَي دَ خبردارؤو
چه په زرگونو فکرونو سر دي

شرم ئې نشته ښاروي خو ډار لري
نه هونبره مهر به مور په پلار لري
فرق له سړيو که ښارويو هونبره دي
چه شرم مهر پخپل مقدار لري

شونډې دِ نه دي آبحيات دي
زلفي دِ نه دي مښک هبات دي
مخ دِ بهتر تر نسترن دَ باغ دئ
سنان سنان دِ بانړه يکذات دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهين که پر لري سردار که زر لري
سردار که زر لرِي شاهين که پر لري
مهم به سر لري کام به دربر لري
کام به دربر لري مهم به سر لري

شرم دئ ننگ دئ که ډار دَ سر دئ
سَمَه مي پرېښو ځاي مي تل غر دئ
پښتانه واړه دَ مغل ښوروا خوري
ما ته ئې پاتو دا شور و شر دئ

شيطان هر گوره ښايسته روغ دئ
چه ئې بدرنگ بولي دا وُوي دروغ دئ
بدرنگ پيدا شو چه بد رسوا شو
پرې درېدلي دَ لعن توغ دئ

شمعه که هر څو سوز او گداز لَرِي
ژاړي په اوښيو چهره طراز لَرِي
دا کار ئې واړه ځما خوښ نشو
چه خپله ژبه اوږده په راز لَرِي

شاهان بل اور دِي چه هر څه نغري
اعوان سکروټې دَ اور بڅري
چه يو بڅري ځان ته پرې نږدي
هوښيار به تل وِي وَا ورته ځري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځي دَ هيڅا په رنګ ريښه نه دي
څرګنده چرده وفا پېښه نه دي
پخپل مقصود دي په غرض سود دي
په نورُو چارو کښ دِ همېشه نه دي

ښځي له ځايه په عقل کمي دي
سمِي به نشي پيدا نا سمِي دي
وفا ترې مه غواړه په ياري ئې مه وياړه
که دِ محرمي که نا محرمي دي

ښځي په اصل کږې نا سمي دي
په عقل کمي په دين هم کمي دي
شومت ئې اور دَي چه چرته ولګي
په دم پېرۍ په دم آدمي دي

ښځو ته ډېري بلا تعيني دي
څو ستر پوښي هونبره مهيني دي
چه بې ادبه بې نمازي لوئي وِي
ورته نظر مه کړه که مخ نسريني دي

ښه به ترې څه غواړې هغه چه تل بد وِي
هم په بازل بد وِي هم په ساتل بد وِي
دَ بل علاج وشِي دَ خپل علاج نشِي
چه دِ بد خواه شِي تر بل نه خپل بد وِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه خو هغه دئ چه دَ چا په چر نه دئ
که دَ وګړي په شور و شر نه دئ
ځان په ژوندني د مړو په شمار کړه
نېسي هستي دَه څوک پرې خبر نه دئ

ښځي طراري دي ښځي مکاري دي
ښځي مکاري دي ښځي طراري دي
که هر څو ياري دي ښځي اغياري دي
ښځي اغياري دي که هر څو ياري دي

ښه خو هغه دئ چه په هيڅ خبر نه دئ
په غم په فکر دَ سيم و زر نه دئ
چه له خلقه په ګنج کښ اوسي
څوک ئې چاکر نشته دَ چا چاکر نه دئ

ښې ښې دلبري دَ دين ياراني وي
په دا دنيا کښ غمګساراني وي
چه خوله ئې کښل کړې زړه ئې ډېر ښه شي
په دواړو شونډو شکر باراني وي

ښېرې دِ واړه په ما دعال لګي
ښکنځل دِ واړه په ما حلوا لګي
که ته مي ولې په سرو سکروَټو
واړه به ګل دَ لاله په ما لګی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښې ښې څهرې شته پدا جهان کښې
کمې ئې نشته په هر مکان کښې
که هر څو کښلي مخونه تل ګورم
بیا به ترې لاړ شم په ډېر ارمان کښې

ښې چین چین ختمې پښتنې جنې[1]
په شین شین ځې شین جنې
نن نغتې نشې تشې پُښتنې
تشې پُښتنې فتنې شې جنې

ښکاره په هر څه دَ چارې بند دئ
قدر دَ ښځې دَ مرد دو چند دئ
ځنې سړی دئ چه ډېره بریت لري
جوړې له ښّځې سَړَه پیوند دئ

شېکره چوړې نیسي زاڼې شنقر نیسي
شرمښ بیهاڼ وَهِي مزري ایغر نیسي
وَ لوي مېلمه ته سړي ساغر نیسي
مفلس مېلمه ته ساغر لاغر نیسي

ښځې ښه څیز دِي که په مخ کښلِي وِي
له موره پلاره پاکي زووَلِي وي

---

۱. په دې رباعي کښ صنعت دَ تجنیس شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا ئې نه وِي ژر دِ په گور شِي
چه نه ليدلِي نه چا کتلِي وي

ښايست دَ ښځي دَ مار يکسان دِئ
ظاهر ئې مه گوره باطن ئې وران دئ
ښځه په زړه کښ څو څو بلا لري
که مار په خوله کښ دَ زهرو کان دئ

ښه ښه ځوانان دي دَ ننگ يکدلي
حاضر په کار کښ سپاره هم پلي
ډېر زر دولت وَي باندِي خوړولي
ورته بخښلي هر څه بخښلي

ښه خوي بدېږي بد خوي ښه کېږي
په صحبتونه که څوک پوهېږي
نافه دَ هوړي په بوي خوشبوي نشيِ
حنظل شکرو سرَه خوږېږي

ښځه چه ډکه شي که کښېني مار راوړي
مار ښه نه زوهه چه ناهموار راوړي
گل چه نه رنگ لرِي نه بوي ښه کاندي
ښه دا چه ونه بوټي خاردار راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه مخ چه وَویني په زړه سخ سخ وائي
بد مخ چه وَویني په زړه چخ چخ وائي
که دَ خوشحال غُندي مَین په مخ شي
تل به مخ مخ وائي تل به مخ مخ وائي

ښځي به نشي دَ هیچا یاري
په خوله دِي یاري په زړه اغیاري
زهر دَننه په اندرون کښې
دَ پاسه کښلي ښایسته ماري

صحبت له جنسه لکه گلاب دئ
دَ ناجنسانو صحبت عذاب دئ
کس به ناکس نشي ناکس به کس نشي
طوطي طوطي دَئ غراب غراب دئ

صبي که هر څو مرسل نبي وِي
دَ پلار له میني بیا اجنبي وِي
یعقوب چه ړُوند شو یوسف هیڅ نشو
په غم کښې ستر وي نه چه صبي وِي

عقل دَ مزکي یا دَ اسمان دئ
چه دواړه نه لري هغه حیوان دئ
عقل دَ مزکي دَ مور دَ نسه دئ
چه دَ آسمان دئ دَ دبستان دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عشقه ستا واړه چارِي اوترِي دِي
چه زوروَري واړه[1] بهتر دِي
تر مرگه پوري سَرَه نظر لرې
زلمي بازونه جونه کوترِي دِي

عشق چه پخپلو موجونو سر شي
تر ابا سینده لا زوروَر شي
بلا ئې لیري هر څه په مخ وړي
چه کاڼي بوټي په مخه وَر شَي

عادت چه بد لري ځان ئې ژړلي دئ
عادت چه بد لري سر ئې خوړلي دئ
عادت په پند نه ځي عادت په بند نه ځي
عادت له سره سَرَه تړلي دئ

عجب کارُونه سبا بېگاه شِي
نېکخواه بد خواه شِي بد خواه نېکخواه شِي
زړُونه دَ خلقو دَ خداي په لاس گڼه
تبدیل دَ خلقو په هَرَه ساه شِي

عزت دَ زور دِېر دَئ عزیز دئ
هغه چه زر ساتي صاحب تمیز دَي

---

۱. ځکه بهتر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هر څو ښه دئ په حقیقت کېښ
زر عاقلانو وَته ناڅیز دئ

عالم پرې وني تلې کپ گوري
دورونه خداي کا نه ئې دا ستوري
نظر دا نه کا چه افلاکونه
دَ چا دَپاره سَرَه تل ښوري

عاشق په وخت دَ وصال سلطان وي
هاله ئې مه وينې چه پرې هجران وي
چه يافت ئې ځونبره خوښي ئې هونبره
څو چه کالَي وِي هسي ئې زيان وي

عاشق خپل کار کا شرم پېغور څه دئ
چه پرې مَيَن شوې دلبر سپين تور څه دئ
زنبق ته گوره سوسن ته گوره
کړه وړه څه نور څه دئ نمک څه نور څه دئ

عفو کرم دِ په هر چا عام نه وي
په کس نا کس دِ دا کار مدام نه وي
کس چه خطا وَکا باندِي عطا بويه
ناکس لا بد شي چه انتقام نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عرب هم ډېر دي عجم هم ډېر دي
شماره ئې نشته تر حساب تېر دي
نور کښلي واړه غټ واړَه ستوري
تا غنُدي کله دَ نمر په څېر دي

عیب ئې مه گوره چه ډېر هنر لري
څه شو په مخ که تر سپري نمر لري
سر چه دَ تاج دَ خولۍ لائق وي
څه شو که څه خو پخي دَ سر لري

عام دِ دَ خاصو په مجالس نشي
یار دَ فرښتو سرَه پېري ناغس نشي
دَ ناسو کار له نسناسو مه غواړه
دَ پیازو بوټِي گل دَ نرگس نشي

عمر که ډېر شي بیا دِ هفتاد شِي
تر دا دَ پاسه لکه رماد شِي
چه دَ ځوانۍ ساعت را یاد شِي
په هر زمان مي پسي فریاد شي

غم دَ گناه مکړه گناه قربت دئ
گناه هغه بد دئ چه قطیعت دئ
که سل ناسازي په ناز معشوقه کا
څه شو پکار ئې ستر عفت دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلیم هوښیار ښه دئ که مرگ دِ غواري
ډېر به تر جنگه په آشتي ویاړي
هوښیار چه نه دئ غلیم ئې مه گڼه
پرېږده پخپله به خپل ځان وژاړي

غم که په زړه کښ دَ دَلارام لري
گرم دَي که فکر دَ ننگ و نام لري
چه یار ئې څه وي هسي دِ دَی وِي
که دین دَ کفر که دَ اسلام لري

غاښ چه دِ وښوري مرَیَي دِ غل شي
بد خویه ښځه سر دِ ئې کل شي
چه آواره شي هاله ترې خلاص شې
گڼه و تا ته واړه خلل شي

غم به دَ دین خوري چه مؤمنان دي
دا نور غمونه واړه آسان دي
چه دین ئې نه وي که په تخت کښېني
ښادي ئې غم دَه که بادشاهان دي

عشي چه کوږ وي یا عیب جن وي
ځاي ئې په کېش کښ کله سودمن وي
یا علاج وکړه چه باوري شِي
یا دِ ئې فکر دَ دور کردن وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غشي چه راشي په واړه تن لګي
ګوره رسا لګي که برسېرن لګي
بده خبره تر غشي بده دَه
دَ زړه په سر باندِي دَ مرد و زن لګي

غشي دَ تېنګي لېندۍ خطا شي
دَ نرمي سستي ګزار رسا شي
ښه تېره توره په لاس کښې واوړي
دَ پخي توري ګزار بلا شي

غشي چه ډېر ولي ښه تير انداز شي
چه مشق د خط کړي و خط ته رسا شي
کار دَ محنت دَئ دَ مشقت دئ
ورو ورو په هر هر هنر ممتاز شي

غشي چه سم وِي ګزار پرې ښه کېږي
چه ښه سم نه وِي ګزار پرې نه کېږي
رشتيا په هر څه کښې لکه سره زر دي
په لاس که زر لرې په زر هرڅه کېږي

غوټي دَ باغ دي تل تل غوړېږي
پرې وړي سترګي دَ بلبل مړېږي
خداي دِ تازه لري دَ باغ ګلونه
چه ورته سترګي دَ بلبل غړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرښتې له نوره پېرَي له ناره دي
که پرې خبر يې سړی له چاره دي
ځکه دا هسي ډېري فتنې لري
له باد و خاکه له آب و ناره دي

فصل به فصل کندو ډکېږي
لکه ډکېږي هسي تشېږي
چه دا اسمان شته په سر څرخېږي
يَو فصل درومي بل را رسېږي

فلک يو سترگي کهنه تيرگر دئ
دَ ده په هر هر لرگي نظر دئ
زيات په دا دور چه رَغَوِي ئې
دَ سر اغزيو په غشيو سر دئ

فرزند هغه دَي چه متقي وِي
نه بد گمانه بد خوي شقي وِي
خبر چه نه وِي دَ خداي له حقه
دا نور حقونه پرې ناحقي وِي

فرزند يَو پړوکي دَ پلار له ځانه دئ
دَ پلار غوښو دَ استخوانه دئ
دَ پلار په خوړو چه پروا دار نه وي
له پلاره نه دَي گوره له چا نه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرزند چه وَوزي دَ پلار له رایَ
ښادي ئې ګومه ده بدبخت ته وایَ
دانه که وَوزِي دَ پلار له حکمه
خروار به مومي بدي له خدایَ

فرزند هغه دَئ چه شرمناک وِي
له بدو چارو په زړه کښ پاک وِي
چه شرم نلَري خبره نه مَنِي
چه لا هلک وي ژر دِ هلاک وِي

فرزند چه عاق وي که ته ئې وینې
بدي اوبه دِي مرداري ویني
مېني[1] دَ باکو پاکان پیدا کا
ناپاک پیدا کا ناپاکي مېني

فرق دَ سړیو سَرَه بسیار وِي
سړَی هغه دَئ چه څه هوښیار وِي
چه څه ترې تېر وِي څه ئې لیدلي وِي
علم ادب لَرِي په صحبت تیار وِي

فتنې دَ ښځو هر ګوره ډېري وي
په شیطاني تر شیطانه تېري وي

---

۱. مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه لتړکه هسي تړګي لَرِي
زهر په خوا کښ کښلي بر سېره وي

فرزند که هر څو دَ پلار عاصي شي
چه پلار ته پریوزي بیا به په خلاصي شي
خداي په بنده باندِي لا ډېر مين دئ
له هر ګناهه په توبه خلاصي شي

فرزند که ښه شي دَ سترګو نور شي
دَ سترګو نور شي دَ زړه سرور شي
فرزند که بد شي غاښ دِ رنځور شي
غاښ چه رنځور شي نور دَ اَنبور شي

فکر مي وکړ چه دا انسان دي
حني فرښتې دِي ځني شیطان دي
ځني سړي دي په خوي خصلت کښ
ځيني بې شکه لکه ددان دي

فاني ديِ واړه دا نوري میني
یوه باقي ده که ته ئې ویني
خبر که نشوې په باقي مینه
ژاړه که ژاړې په اوښي ویني

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلپه روپیه ښایسته روغه وِي
خو چه سوراخه شِي نور بې فروغه وِي
هیڅوک دَ خپلو شنوبو بد نه وائي
صفت دَ هر چا له خپله دوغه وِي

قاضي په وخت دَ قضا په یاد شِي
غازي په وخت دَ غزا په یاد شِي
طبیب په وخت دَ دوا په یاد شِي
زاهد په وخت دَ دعا په یاد شِي

قوت مي لږ شو نفس مي لنډ دي
وَتَي ترې نه شم دَ سریښو ډنډ دَي
منزل مي اُوږد دَي که روغ ترې ورسم
په سر مي یښي دَ سریښو پنډ دي

قام ته مي کله لوئي ښکاره وي
په وړو چارو کښې آواره وي
لاس مي نیولي دي په دواړو غوږو
ترې توبه توبه چه هیچکاره وي

قابل هغه دئ چه درست طلا شي
له زرو سیمَ په استغنا شي
نه ئې زکوة وِي نه ئې قربان وِي
هسي ترې دروِمه لکه چه راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن چه لوست شي په هغه کور کښې
غم به ئې نه وِي په سپين په تور کښې
که ئې گناه وِي هسِې به سوځِې
لکه خځله سوَځي په اور کښې

قرار په دا لَرم حال مي عيان دئ
نوم مي دَ خان دَئ کار مي بل شان دئ
نه مي زکوة شته نه سر سايه لَرم
نه مي اختر شته نه مي قربان دئ

قابل که نه وِي دولت که بيا مومي
لکه ئې بيا مومي هسي ترې بيا درومي
باور په بخت مکړه باور په تخت مکړه
اسمان ئې ونغاړي که شاهنشاه درومي

قربان تر خاصو چه خاص الخاص دئ
په زړه له نورُو فکرونو خلاص دئ
که ډېر غمونه ورباندِي راشي
تسليم قضا ته په ډېر اخلاص دئ

که څوک په څير څير وَيل وېرېږي
خوشحال نه وېره کا نه شرمېږي
هوښيار به واړه پدا پوهېږي
چه کاږه زېږي کاږه لوئېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هغه یار مي راضي په مرگ دئ
دا دَي نیولي مي ورته تخرگ دئ
غشي دِ ښه په سوهان تېره کا
چېري به بند شي توبري ئې بغرگ دئ

کله یار غواړېِ که یار درشي
کله کار غواړېِ کله کار درشي
آسمان په ډَول ډَول پېرې کا
خوشحاله گوره گندِي وار درشي

که مي په ډېره ژړا لېمه ووزي
یار مي ناترس دَئ پدا ئې څه ووزي
گلگوني اُوښِي ساړه آهونه
څه مي له سترگو څه مي له زړه ووزي

که ډېر والا شې په پارسائي کښې
سیال دِ خوک نه وي په ملائي کښې
غافل هیڅ مشه دَ نفس له مکره
بلا پرېوزِي په آشنائي کښې

که راته غوږ کړې یو نصیحت دئ
نه دِ بد خواه یم نه خدیعت دئ
بار دَ فکرونو په زړه هیڅ مږده
هغه به مومې چه دِ قسمت دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زړه څوک ټینګ کا چه ئې قضا نه وي
که تل جنګونه نه کا مرګ ئې روا نه وي
قضا چه ورشي بلا پرې سازه شي
که په ملکونو چېري بلا نه وي

کوم دَي چه واړه خوبیِ کل لري
خمار دَ مل شته خارونه ګل لَرِي
یار که نور ښه دَي یو خوي مه ګوره
اکثر که ګورې حکم دَ ګل لَرِي

که بد وَیُونَي بد لمسُوني یې
په ځان پخپله اور لګوُني یې
که څوک دِ ولید په اسکبار کښي
جهان که غم شي ته ښادي کړُوني یې

که نیت دِروغ دئ اندوه هیڅ مکړه
په قول فعل په کار و بار کښي
په لار که درشي سلام ئې مه له
پاتو چه پل ږدي دَ ده په لار کښي

که بخت مي یار شي یار مي به یار شي
بوسه به را کا را به کنار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه مي نېکخواه دِي زړه به ئې ښه شي
چه مي بد خواه دِي هغه به خوار شي

که ته په قدر دَ ځان خبر يې
ته سر تر پايه واړه سره زر يې!
زر دِ پخپله تر مس بتر کړه
چه ناسوتي يې، په بدُو سر يې!

که رنگ دِ سپين دَئ که رنگ دِ تور دئ
پيدا څه نشي مطلب څه نور دئ
بوي په نافه کښ ويني په قدر کا
شمشاد بې بويه دَ چندڼ پېغور دئ

کريم هغه دَئ چه خوش معاش وِي
هم خطا پوښ وي هم عطا پاش وِي
چه ورکا خوښ شي ډېر ورکړه لږ گڼي
باندِي دَ هر چا شاباش شاباش وي

که مرگ دَ لوښو دشوار فرقت دئ
ژوندُون دَ ديو هم مصيبت دئ
چه کور ئې لوي وِي شر شور ئې لوي وي
چه کور ئې کم وِي يو لوي نعمت دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که بادشاهي غواړې کار ئې آسان دئ
تسخیر دَ زړونو خلق و احسان دئ
لښکر چه وشو طالع دِ ملي شوې
داد او دهش کړه خپل دِ جهان دئ

کرَي په رنگ دَ طوطا نمود دئ
په رنگ مدار نه دَي هنر مقصود دئ
اصل پیدا کړه هنر خصلت راوړه
چه اصل نه لَري هغه مردود دئ

که نور څه نه وِي سَړی چه زوړ شي
دَ کنگاشونو په کار کښ جوړ شي
ځوانان چه نه منِي دَ زړو بد کا
دَ بد خواهانو زړه به پرې سوړ شي

که ډکه ښځه کښېني يَو دد راوړي
بهتر ترې دا دئ چه بد ولد راوړي
دا ځاي حیرت دئ څوک به څه دم وَهِي
بدان چه ښه راوړي نېکان چه بد راوړي

کاږه کارُونه ناپوه ته سَم وِي
ښه سَم کارونه ناپوه ته غم وِي
فرق دَ هوښیار دَ ناپوه په دا وشه
پدا خبره به خبر اعلم وِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که سخاوت دئ که شجاعت دَئ
ځموږ په کور کښې ځائي خصلت دئ
چه دا ئې نه وِي له موږ ئې مه ګڼه
ګوره په ځان کښې ئې يَو څه علت دئ

که په رشتيا کښې دَ زرُو تله شې
ته به په قدر په قيمت تر تله شې
خوبي دِ هونبره دَه په خوله کښې ژبي!
څو له دروغو هونبره ساتله شې

ګنج دَ ځوانۍِ تر چل و پنج دئ
بهتر دَ سيم و دَ زر تر ګنج دئ
ځوان په افلاس کښې دَ ځوانه خوښ وي
زوړ که بادشاه وِي زړه ئې ترې رنځ دئ

ګناه که هر څو دَ سرِي ډېر شي
په شمار دَ ونو تر پاڼو تېر شي
نوميد دِ نشي دَ خداي له فضله
ګنُدِي دَ فضل په ډکه وېر[1] شي

که بد ئې ښه به شې په ښه خصلت کښې
که کم يې لوي به شې په لوي همت کښې

۱. وېر شي په شعري ضرورت سرَه اماله دَه دَ (ورشي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفا له هر چا کړه جفا له هر چا وړه
دين او دنيا غواړه په ښه صحبت کښي

کړل دي وَيَل دِي دواړه آوان لري
چه وخت ئې تېر شي افسوس ارمان لري
چه کار دَ نن ورځې پرېږدِي سبا ته
هوښيار به نه وِي دا خوي نادان لري

کښلې هغه ده صفت ئې ښائي
چه هر هر ځاي ئې وګړي ستائي
هغه دَ ګښليو په شماره نه دَه
چه دَ کور ډمه ئې ستايَنه وائي

که خوله مي پټه پرېږدې هيڅ نه يې
که باد دِ بند شي وايه چه څه ئې!
په هَرَه ساهه شکر وَکاږه
چه تندرستي لرې هم هونبره ښه ئې

که په ګناه کښې سبا بېګاه وِي
ګناه ئې نشته چه څوک آګاه وِي
که هيڅ ګناه نه کا په غفلت کښې اوسي
هم دا غفلت دَ غافل ګناه وِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنگاش په مثل دَ سودا کار دئ
که په سودا کښې فائده دينار دئ
اهمال پرېِ نه بويه سودا سودمنه ده
چه پرېِ اهمال کا کله هوښيار دئ

که دَ نباتو حلوا پخه شِي
په ناگهانه په سپي جوته شِي
نور دَ سړيو له کاره وَوزي
جوته دَ سپيو په سپي خوړه شِي

که پرېِ پوهېږيِ دا کار څرگند دئ
پند دَ سړي دي سړی دَ پند دئ
په دا خبرو کار دَ نادان نشته
پرېِ به پوهېږي چه دانشمند دئ

که يار څما دَئ درست به څما شي
سستي به پرېږدي چست به څما شي
زړه به وزگار کا له غيره فکره
په شپه او ورځ به په لوست څما شي

که ميندي لنگي دَ افريديو دي
دَ ديو دَ توري، توري دَ ديو دي
دَ دين په کار کښې که اراسته وَي
عزت دَ خپلو هم دَ پرديو دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ژاري ژاړه په ژړا څه شي
که په ژړا دِ لېمه ړانده شي
هغه چه لاړل له دې جهانه
که ته باور کړې بيارته را نه شي

گندگي چه پروت وي گونگټ پرې گرزي
چه نه وي پاڅي وَ ورزِي
دَ دنيا خلق اکثر گونگټ دي
څو چه مومي وَرباندي غورزي

کفر په بخره دَ کافرانو دئ
اسلام په بخره دَ مؤمنانو دئ
چه هيڅ په کفر په اسلام خبر نه دئ
عشق مي په بخره دَ عاشقانو دئ

که ښې ښې جونه که لباسونه دِي
که ښه بازُونه که ښه آسونه دِي
خوشحاله زوړ شوې اوس دا هوس مکړه
دَ ښو ځوانانو دا هوسونه دِي

گلزار ته راغله گلونه چونې
تر مخ ئې نه دي لاله مخ رونې
چه کور ته درومي له گلستانه
گل ئې لَمنَ نيسي لاله لستونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ئې له حاله خوشحال پُښتَۍ
ښځي همه دِي کبږي پُښتنۍ
کبږي پُښتنۍ به در سمِي نشي
که په هنر کښ نامي پُښتنۍ

که دِ دَ یار په یارۍِ زړه وِي
دَ یار به هر څه و تا ته ښه وِي
قدیم بې مثله دَي عیب ئې نشته
حادث به هیچېري بې عیبه نه وِي

کښلي که ډېر دي په قندهار کښي
یا په کشمیر کښ یا په فرخار کښي
لکه دا کښلي دَ پېښور دِي
هسي به نه وِي په هیڅ دیار کښي

گل شوي دَ خوړِي دَ بڼ پلوسي
خوشحاله ولي بې گښته اوسې
گښت دَ گلونو ښکار دَ بازونو کړه
چه کور ته ډېري خوښۍِ یوسې

که څوک نېکان دِي که څوک بدان دي
پدا دنیا کښ چه په هر شان دي
مه ئې ستایَنَه کړه مه ئې غندنه
ته به ئې څه کړې چه دَ خپل ځان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یار ځما یې سکه درد آشام بشې
که صاف صوفي یې پخپل فرجام بشې
زه اوس قلاش یم رند یم اوباش یم
را سَرَه مه کښېنه ګنه بدنام بشې

ګران تر ایمان دئ که ته ئې وینې
کار دَ ښې میني ځګر کا ویني
سل کبیره کړې ایمان په ځاي وي
په صغیره ځِي دا ښې ښې میني

که مړني یې مغفر شګاف یې
دَ بادشاهانو دَ لوي مصاف یې
تر دا دواړه بهتر دا کار دئ
په عهد قول که سینه صاف یې

که دَ مردانو په دین ائین یې
نه بند په سره یې نه بند په سپین یې
که نه دِ تخت شته نه دِ افسر شته
قیصر دَ روم یې فغفور دَ چین یې

که مختورن دي خو دروغجن دِي
ریښتني کله په مخ خیرن دِي
په صف مي مکړه دَ دروغجنو
که دَ ګنجونو دَ دولت ښتن دِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ناسپاس یې ناسَ نسناس یې
ناسَ نسناس یې که ناسپاس یې
که حق شناس یې هاله ته ناس یې
هاله ته ناس یې که حق شناس یې

که دِ نیت ساز دَئ عمل دِ ساز دئ
که دِ روژې دِي که دِ نماز دئ
مدار په نیت راغي مراد په نیت راغي
دین او دنیا لَره په نیت کښ راز دئ

ګیدړ بې زړه دئ وهم وسواس لري
مزري زړه ور دئ کله هراس لري
هغه مزری نه دئ هغه ګیدړ دئ
پکار و بار کښ چه زړه کوز پاس لري

که پلار که زویه که وروړ که یار دئ
پدا دنیا کښ سَرَه یَو کار دئ
که سود ئې نه رسي پدا دنیا کښ
ژوندون ئې مه وه عمر ئې خوار دئ

کمي هیڅ نه وه په ذوالفقار کښ
دَ روم دَ جیش په کاروبار کښ
چه تېغ برش کا فتنې جنبش کا
ویَل هیڅ نشي په هسي کار کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یاري دواړه وبله راي شي
درومي له ژبي په زړه کښ ځاي شي
چه دا باریکي معني ئې بیا موندې
په هغه کس دِ رحمت دَ خداي شي

که زړه سخي لَري چه مال ئې نه وي
په ځان مي ولیده څه حال ئې نه وي
که باز دِي واړه هنر دَ ښکار لري
ښکار به په څه کا چه بال ئې نه وي

که سترګي نلَرم چه هسي ګوري
بې دَ عینکو دَ کتاب توري
پیرئ تتي کړې شکر وَکاږه
چه لا پرې وینم دَ آسمان ستوري

که باد ئې یوسي په هوا سخ سخ دئ
که شکر خور شي مګس مګس دئ
که ئې دولت وشي که دانشمند وي
دا ئې هیڅ مه ګوره ناکس ناکس دئ

که سحر دَ سترګو غمزې ئې دا دي
لکه چه ستا دِي بلا دِي دا دي
خوې خبري دِ خوږې شکري شوې
مښکو ګلاب دِ په کښ ادا دِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



گل دَ گلابو نیست و موجود شي
لکه موجود دِي هسي نابود شي
که بوي ئې پاتو شِي په ابگینه کښ
په هغه بوي ئې هر څوک خوشنود شي

کنَاس که واغُندِي ورېښمیني رنجي
بل څه به نشي په تړخي پنجي
که ئې د مښکو په نافه کښ واچوې
خپل بوي ښکاره کا په هر ځاي هنجي

که بادشاهان دي که دورېشان دي
که په دا منځ کښ ښه ښه ځوانان دي
که په زرگونو کالونو پايي
عاقبت واړه دَ گورستان دي

کبلَي چه پریوزي مور ورته وَدَري
په دوه درې میاشتې په پیو وَلرِي
که پرورش دئ دَ کبلي که څله ده
څوک ئې په زړه کښ د هوسیو وکرِي

که ورور ناکس دئ پخوي کښ کس دئ
دا خوي به دي لري ورلره بس دئ
دَ مشر ورور به آب پځاي لَرِي
ناز به دَ کشر وړي څو ئې دسترس دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار ئې ښکاره شي وَنه چه بر واخلي
یا خوږ ثمر واخلي یا تریخ ثمر واخلي
فرزند هم هسي دَ وني کار لري
یا ښه هنر واخلي یا بد هنر واخلي

که سر دَ ښځي سپیني وږیَ شي
زړه ئې و غین ته هره گړیَ شي
سړیِ نه دئ لکه پېریِ دئ
چه غین پرې ولاړ شي هاله سړیَ شي

که نادانان دي که هوښیاران دي
گمان دا مکړه چه بېکارن دي
خوارږه ترخه ئې واړه پکار گڼه
چه پیدا شوي پدا باران دي

کمال دَ کفر تر ناقص دین ښه دئ
یار درست گمان ښه دئ یا درست یقین ښه دئ
چه کله دا شي کله هغه شي
دانا ته کله مذبذبین ښه دئ

که لوي نعمت دئ دَروغ صورت دئ
که لوي دولت دئ دَ نېکو نیت دئ
چه دا ئې نه وِي مزه ئې مه غواړې
که بادشاهي دَه که سلطنت دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ځان دِ وَپېژانده هاله سَړی یيږ
کنَه وَ ما ته دَ خره څړي يېږ
اول هم هيڅ وې بيا به هم هيڅ شې
چه روغ وِي مات شي هغه ګړي يې

ګرېوان ئې تل تل له ګله عار لرِي
مژګان ئې تل تل کشته بسيار لري
چه ئې ځما غُندِي دلبره بيا مونده
هغه له نورُو سَرَه څه کار لرِي

ګوره پرې غوږ کړه شپېلۍِ څه وائي
بېلتون پر وَرَغي هر ګوره ښه وائي
سينه ئې ګوره څو ځايه سوې دَه
زار دَ فراق کا نور څه هيڅ نه وائي

که سود دئ سود دَ سجود دئ
بهتر تر درستي دنيا دا سود دئ
نه به تل ته وې نه به دِ سر وِي
سجود له سَرَه سره موجود دَي

کډو چه هسي په منډه دانګې
پاسه دِ ولاړ شي په بهار څانګې
دا کار دِ بد نه دَئ بلا دِ دا شوه
په ساړه وچ شې هبتهَ زانګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ډېر هوښيار يې يا مَړَني يې
په خوشخوئي کښې شکر ګني يې
مدار په بخت دَي چه بخت مدد نکا
هم هيڅکاره يې هم لېوني يې

که ورته وايې کله پوهېږي
قرآن که لولي کله ګروهېږي
دَ پلار په پند ئې وتَنه نه وي
بدان پخپلو بدو ستوهېږِي

که لعل و دُر او ياقوت الماس دي
واړه دا ناس دي واړه دا ناس دي
چه ناس دِ نه وِي په سيند کښې پرېوزه
که جواهر دِ بيرون تر قياس دي

که شير مردان دي هغه ځوانان دِي
چه درست دښمن سرَه په خوي شادان دي
تل خوښ له ديو ياران دوستان دي
تل ترې په طمعَ لا دښمنان دي

که دَ غندنِي که دَ صفت يې
کمي دِ نشته هسي صورت يې
غندنه هونبره چه دَ دوزخ يې
صفت دِ هونبره چه دَ جنت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زړه مي دا دئ غليم ځما دئ
غليم ځما دئ که زړه مي دا دئ
مين په چا دئ دَ چا آشنا دئ
دَ چا آشنا دئ مين په چا دئ

که څوک ايغر دئ که څوک اخته دئ
هر څوک په خپلي چاري اخته دئ
څوک سَرَه ميني شير و شکر کړه
څوک سَرَه گوره اور او پخته دئ

که ډېر دولت لَري ډېري مستئ
دا واړه هيڅ دِي بې تندرستئ
که پرې پوهېږې خو تندرسي ده
چه حلاوت لَرِي ستا دَ هستئ

که هر څو ښه شي بيا دِ بادشاه شي
لښکر دولت لرِي صاحب دَ جاه شي
بيا به تنها درومي دَ گور وَخوني ته
په خپل عمل به هاله آکاه شي

که تور هاتي دئ که سور اسد دَئ
نور څه ئې مه گڼه دَ گور لحد دئ
غوښې هډُونه ئې دَ خلقو وَخوړل
پرې نه مړېږي هر گوره بد دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کړم که نه کړم دواړه بلا دي
که وړم که نه وړم دواړه بلا دي
که خورم که نه خورم دواړه بلا دي
که مرم که نه مرم دواړه بلا دي

که سوختګان دِي که آموختګان دي
دَ رنګ دَ زړونو افروختګان دي
خداي ئې روزي کړه ښادي ئې خپله ده
چه دَ غمونو اندوختګان دي

که دِ راحت دئ که دِ محنت دئ
که دِ صحت دئ که دِ زحمت دئ
که خاندې خانده که ژارې ژاړه
دا به دِ تل وِي څو دِ صورت دئ

ګلزار ته راغله ختي ګلګوني
دَ مخ شغلې ئې تر نمر افزوني
پرخه پرې نه ده پرَته له شرمه
تر هر هر ګل شوې خولې بيروني

که دَ جټانو څه برکت وَي
يا ئې څه عقل څه مصلحت وَي
دَ هندوستان سَرَه د هيچا کار نه وُ
بڼغ هم دَ دويو دَ شلطنت وَي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دَ غلیم سره جنگ او مصاف ښه دئ
که مرد یې زړه خو ورسَرَه صاف ښه دئ
ما چه نظر وکړ چه تجربه وشوه
دَ هري چاري عدل انصاف ښه دئ

کاڼي یاقوت دي گیاه کیمیا دي
شناخت ئې هغه لري چه ځوک بنیا دي
فرق دَ سړیو تر منځ بېشماره دي
ځني سړي دي ځني چارپا دي

که فهم وکړې ستر گوته خس بس دئ
نعمت چه رد کا ورته مگس بس دئ
ایمان ډېر ښه دئ هم ډېر قوت لري
زوال ئې مه وه ورته وسوس بس دئ

گل ئې له مخه د خوبي انځور غواړي
خواږه ئې شهد له شونډُو پور غواړي
ډېر ئې په طور دَ شیخ صنعان کړه
سترگي ئې ښه ښه شیخان لا نور غواړي

که آدمزاد دئ په ښه صورت دئ
ښځي دَ سپیو په طبیعت دئ
ښې ئې ښې سپۍ دئ بدي ئې بدي
لا ترې بتري په خوي خصلت دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه گټَنه دَ مال هنر لَرِي
هسي خوړنه دَ مال هنر لَرِي
لکه بازَنه دَ مال هنر لَرِي
هسي ساتَنه دَ مال هنر لَرِي

لکه پرۍ یوه سړۍ
په مخ مهوشه عنبر څرۍ
هار ئې پغاړه دَ سرو گلونو
بخت کړه له ما سَرَه غاره غړۍ

لیلي مجنون ته وې په بیابان تښې
ولي له خلقه یې هسي گښُې
ویې ما څه پوښتې مگر تا نزده
تا یم له خلقه گښُې پریښې

لکه په ونو باندِي خزان راشي
پیري هم هسي پخپل آوان راشي
خزان دَ ونو خوبي تاراج کا
پیري هم هسي په زیان دَ ځان راشي

له طبیبانو عالم دوا غواړي
له درویشانو خلق دعا خواړي
خدایه دَ هیچا محتاج ئې مکړه
هر څوک له نورُو خوشحال له تا غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوګي که هر څو دَ اور فرزند دئ
کار ئې وَ هر چا وته څرګند دئ
چه نور ئې نشته اور به باله نشِي
څه شو که پورته په باد بلند دَي

له شېره شېر زېږي له ګرګه ګرګ زېږي
له بازه باز وي له چرګه چرګ زېږي
هر څوک خپل اصل وته رجوع کا
خطا که نه وِي له بزرګه بزرګ زېږي

لوئي په خداي ښائيِ يو ذوالجلال دئ
څو ورته خواست کړې هونبره حلال دئ
دا نور خواستونه واړه حرام دي
که لږ و ډېر دِ وَ چا ته سوال دئ

لعل له کانه په بدخشان کښي
لو لو له بحره په لوي عمان کښي
په ځګر خون خېژِي دا دواړه توکه
که فکر وکا سړی پښان کښي

لکه کټوه په لمبو يشي
ځما دنَنه په زړه هغه شي
له چا به څه لَره ماڼه پزړه لرم
خوږ يم دَ خپلو ترکو په غشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس مي که هر څو په دنيا ښخ دئ
نه چه دولت مي دَ غاړي مخ دئ
زه ئې مېړه يم دنيا مي ژگه[۱] ده
زړه مي په هر څه ورباندي يخ دئ

لکه په تا کښې شته نشته په چا کښې
نه په کانونو نه په دريا کښې
درېغه خوشحاله ختټکه درېغه
چه تل به نه وې پدا دنيا کښې

لرگي چه و تووړي هاله ترې تير شي
په ښکر هنر وکړي هاله زهگير شي
تر درس چه ووزي علم حاصل کا
تر سر چه تېر شي سَړي امير شي

لگړ که هر څو تر باز تيز پر دئ
په هَرَه چار کښې دَ باز نفر دئ
کوټه که هر څو تر تازي ښه زغلي
بيا خو په قدر تر تازي کمتر دئ

لوئي په خداي ښائي يو هسي لوي به وي
په ورَځ دَ حشر چه گفتگوي به وي

۱. نکاه شوې ښځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ نورو پاڼيو په شست و شوي به وي
غم به دَ ځان نکا امتي جوي به وي

لبان دِ نه دِي آبحيات دِي
آبحيات دِي صفوت صفات دِي
چا چه نوشلي هغه يَو ښاښکي
په هغه ښاښکي ديدن دَ ذات دِي

لکه چه ډېر دِي نيک بخت عاقل وي
بويه لوئي مي اوس يَو په سل وي
دېرش دِي که څو دِي دريغه ارمان دي
په هونبره زويو کښې يَو دوه قابل وي

مې کړه قابل شه چه څوک قابل شِي
دَ بخت و ستوريو ته مقابل شي
قابل چه نه وِي دولت که بيا مومي
بقا ئې نه وِي حال ئې څه بل شي

مې په هنر کړه هنر په کار دئ
مور پلار به څو کړې هنر مور پلار دئ
فخر په زر مکړه په ښه پدر مکړه
فخر په دا کړه که هنر دِ يار دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزري خپل ډغ لري ګيدړ خپل ډغ لري
هر يَو دَ خپلي چاري دغدغ لري
ګداي د خپلي جونګړۍ غم کا
بادشاه دَ ملک دَ حشم يرغ لري

مردان هغه دِي چه همت ناک وي
دَ ننګ په کار کښِ چست و چالاک وي
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض ګڼي
په زړه هم پاک وِي پخوله هم پاک وي

ملوک چه عدل، عقل، کرم لري
اندوه ئې کم وِي له چا څه غم لري
چه دا ئې نه وِي دَ ځان غليم دي
ځان به پخپله عالم ته ګرم لري

مرد څو غيرت لري هونبره بهتر دئ
څو صداقت لَري هونبره بهتر دئ
څو جنګيالَي وِي څو ننګيالَي وِي
څو سخاوت لَري هونبره بهتر دئ

مېړه هغه دَئ چه صبرناک وِي
دور انديشي لَري په لَمن پاک وي
چه دا ئې نه وِي په سر ئې خاوري
ګنده ئې عمر ګِنده ئې ژواک وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمه په تاو راغي په لاس کښ تيږي
اول ئې غوښت[۱] غوښتل اوس سپيني وريږي
دا هم لا پرېږده وَ آس ته گوره
کوري غوړي غواړي اوربشي ويږي

موړ هم هغه گڼه چه زړه ئې موړ وي
سترگي مړې لري که زوړ که ووړ وي
که ډېر دولت لَرِي چه طمعَ خواست کا
دَ گدائئِ وَ کار ته جوړ وي

مينه په هر چا چه دَ خه دَ پاره شِي
بقا ئې نه وِي زرکاره کاره شي
په حقاني وي مقصود هيڅ نلري
دَ هغې ميني به تل نداره شي

معشوقه کومه چه طربناکه وِي
ناز و نياز لَرِي په حسن پاکه وِي
نه دروغجنه نه قهر جنه وِي
نه بد خوراکه نه بد پوشاکه وي

مگر چه کښل کا دا کاتبان دي
واړه خوشخط کښ سَرَه يکسان دي

---

۱. يعني ږدڼ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځني مشکښي کښي ځني کنجکي
دَ چا تر دُرو حرفو نه گران دي

ملا په علم په کتاب نازېږي
حاجي دَ حج په ثواب نازېږي
غازي دَ توري په باب نازېږي
خوشحال په فضل دَ وهاب نازېږي

مهینه توره ښو رنگ تمام وړي
ځني ئې گېډه یا یو اندام وړي
ځني مخ واړوي نوغي وَ نکا
دَ هغو تورو ناحق ښوک نام وړي

مؤمن هغه دَئ چه جوړ یقین لري
وېره له خدایه اندوه دَ دین لري
بار دَ هر چا وړي خپل بار پچا نږدي
ښه ئې کردار وي ښه همنشین لري

مزري چه ډېر گوري ترس دِ ترې کم شي
چه درته غوړنب وَهي پښان دِ غم شي
واوري وهَلي اژدر خوړل نکا
چه نمو ئې تود کا هاله ستم شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرد به غیور وِي مرد به صبور وي
هم به په عفو په کرم مشهور وي
نامرد هغه دَي په حقیقت کښې
چه دا څو توک ئې له دله دور وِي

مردي دِ هیڅ ده که په زړه شېر نه یې
څخو خو وَشَه که زړه ور ډېر نه یې
تر سر چه تېر شې وېره هیڅ نه وي
وېره دِ هونبره ده چه تر سر تېر نه یې

موږه طوطیان یُو په بڼ راغلي
ګلونه ګورو کښېلي ښاغلي
څو مو قسمت وِي پکښې به اوسو
بیا به ترې درومو زړُونه داغلي

مرګ وي هم رنځ وي هم ناتواني وي
عمر په غم کښې په پرېشاني وي
دَ ښو ښو جونو دَ دیدن دَپاره
یا سل یا دوه سوه کاله ځواني وي

مېږه دِ توره ورکره وفا لري
ښځه دِ حسن شرم حیا لري
نوري پوښتني ور ځني مه کړه
هر څه به ښه لري هغه چه دا لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکړه نادانه دَ نکړو کار دئ
دا چه پرې خېژي غاښي دشوار دئ
خود کمزوري زبون ليده شي
چه دِ پريښي دا هونبره بار دئ

مزري پخپله ما ته نظر لري
له بله د ده کله حذر لري
گيدړ چه ښکار کا دَ شلانډو ملانډو
خوري ئې له ترسه نظر لربر لري

مقبول دَ خلقو په غم کښ ډوب وي
مقبول چه نه وي هر گوره خوب وي
چه نيست ئې ځان کړ له عيبه خلاص شول
چه ځان ئې هست کړ هغه معيوب وي

مينه چه تېره دَ سړي تر هډه شي
درومي دنَنه په ماغزه کښ گډه شي
دَ هغې ميني زوال هر گز نه وي
دَ هډ دَپاسه پساعت ډډه شي

مؤمن هغه دئ چه ترس دَ خداي لري
چه ترس دَ خداي لري زړه دِ پځاي لري
مؤمن دِ غم نکا دَ گناهونو
چه گناهونه دَ شيطان په راي لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَلک دَ کلي چه دَ چا سپک وي
دَ کلي مال به ئې ښځې هلک خورِي
تل چه په کور کښې مېرمن نابوده وي
پیۍ ئې پیشو څټې غله ئې مېرک وړي

منت دَ خداي ښه دَئ نه دَ وګړي
دَ ختکي نه دَ یوه زړي
که مست سنډګان دي بار به دَ چا نه وړي
غوایه تر بار لاندِي پرېبږده چه رخړي

موږه مزري یو په ښکار راغلي
دَ ښکار غمونو زړونه داغلي
چه بخت ئې بد وِي ښکار ئې هم بد وي
ښه ښه ښکارونه کا په بخت ښاغلي

مغل پښتون سرَه په پیچ و تاب دي
چه پښتانه ګورم خانه خراب دي
ښه ښه ځوانان شته په پښتانه کښې
چه لاس ئې نه رسي خانه خراب دي

ملا هر ګوره په ځان مغرور يې
بحث جدل کړې په هر چا سور يې
زه دِ دنَنه په حال خبر يم
ځما په پوهه يَو تش تنبور يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامرد به گرزي دَ پلار په نام پسي
ځوانمرد به گرزي پخپل صمصام پسي
دولت مخ ښځې لري ښځې ئې په نورو وي
مخ دَ دولت دئ په نیک فرجام پسي

نن بیا خپل بخت ته ځما تسلیم دئ
خورم به اوسم فال مي دَ میم دئ
چه درد و غم کښې ځما غلیم دئ
را آلوتلي دَ نصرت نسیم دئ

نصرت هورې وي هورې چه شخوند شي
دولت هورې وي چه کار په سند شي
په وخت دَ پیني[1] لستوڼي ډېر غړي
په وخت دَ توري که ښکاره مړوند شي

مردان هغه دِي چه همت ناک وي
په هَرَه چار کښې چست و چالاک وي
که غم پرې راشي پروا دَ غم نکا
خوابږه له هر چا په زیست په ژواک وي

نظر که وکړې اوُه آسمانه دي
اوُه آسمانه دي اوُه جهانه دي

---

۱. پینل یعني پخول پختن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسرار ئې هیچا موندلي نه دي
خبري ډېري په څو څو شانه دي

نه به په بیارته څما څواني راشي
نه به بیا دَور شاه جهاني راشي
یو زوي مي نشته دېرش دي که خو دي
چه بد پده کښې څما خاني راشي

نفس و شیطان سَرَه یَو تین وجود دي
په دوه صورته سَرَه نمود دي
دواړه مردود دي په شریعت کښې
چه د مردود مني هغه مردود دي

نن په نظر راغله یَوَه ترئَ
زنه ئې سیب وه شونډې نرئَ
بله به نه وي هسي دلبره
نه په خشکې نه په تريَ

ناکس هغه دَئ چه اصل بد لري
دَ نیک خواهانو نصیحت رد لري
دَ حق دارانو دَ حق پروا نکا
آدم لیده شي خصلت دَ دد لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوکر ژوندي نه دئ کار ئې دَ مړه وي
خپل زړه ئې نه وي دَ صاحب په زړه وي
چه ورته حکم دَ خپل صاحب وي
که هر څو گران دي هم ئې په وړه وي

ناست په گلزار کښې يار په کنار کښې
باده گردانه مطرب پکار کښې
دا حال چه زه لرم پخپل ديار کښې
بادشاه ئې نه لري په هندو بار کښې

نن ډېر نېکخواه وي سبا بد خواه شي
نن ډېر گمراه وي سبا په راه شي
زړونه په حکم دَ کردگار دي
قضا ته گوري چه څوک آگاه شي

نه به ځما غُنډِې بل ننگيالَي راشي
نه به ځما غُنډِې بل جنگيالي راشي
ختټک لا پرېږده په درست افغان کښې
عجب که هسِې فرهنگيالي راشي

نه ئې حساب شته نه ئې څه شمار دي
خلق دَ طمع له لاسه خوار دي
سرى به څه وايې ماهي مرغونه
په دام چه بند شي د طمع کار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناکس دِ وخوري دَ سترگو کسي
دا نادانان دِ وگړي کسِي
لعل گوهر پرېږدِي له خپله لاسه
په لاس مشکني کنجکي نيسي

ني چه واهه شي وايې عذاب دئ
چه غيبتونه کړې مگر ثواب دئ
غيبت تر زنانه تېرَي يادېږي
نَي منع شَوي په کوم کتاب دئ

ناز به دِ زه وړم چه يار ځما يې
چه بد دِ ښه گڼم ځو راته وايې
غمه هيڅ مه درومه ځما له ځانه
چه ته ځما سَرَه ځنډن آشنا يې

نظر دَ هر چا پخپل بهبود دئ
په زړه دَ هر چا خپل خپل مقصود دئ
هر يَو په زېرمه دَ خپل وجود دئ
هر څوک هغه کا چه خپل ئې سود دئ

نن مي و ځان ته دا نصيحت دئ
اميد پزړه کښې گنده زحمت دئ
اميد چه پرې کړې له غمه خلاص شې
دَ ياس په ملک کښې عجب راحت دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن شپه مي تللي له دله زنگ دئ
دَ شاه په زلفو مي وهَلَي چنگ دئ
تمامه شپه ئې په سينه پروت وم
راپوري واړه دَ زعفرانو رنگ دئ

نياز دَ بې نيازو سَرَه دَ کړونه دئ
دَ بېدردانو منت دَ ورونه دئ
طباخ که خوږ وي چه جوته شوي وي
که مرې له لوږي هم دَ خوړونه دئ

نومي پرې نه يښې فراق په کام کښې
ستړي مرغه يم نښتي پدام کښې
دَ خوښي جام مي هسي نسکور شو
چه څاڅکي پاتو نشو په جام کښې

ناسته ولاړي دِ په خرخښې دِي
ډېري فتنې دِ په سترگو کښې دي
په زړه مي واړه لکه مرهم لگي
د تا ناسازي تر سازو ښې دي

واړه مستان دِي چه مخ زېبا لَرِي
دَ خپلو تورو سترگو صهبا لَرِي
باور ئې هيچري په وعده نه بويه
په خوله به تل تل سبا سبا لَرِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده څوک مه کانېَ واده بلا دئ
غصې ئې ډېري دي غم ئې والا دئ
چه دَ عيال په زنځير بندي شول
تر هره بنده دا بند بلا دئ

وجود په مثل دَ گبينه دئ
ځواني ئې څه ده لکه خواږه دئ
خواږه چه ولاړ شي پاتو ئې ژاوله شي
قدر دَ ژاولي بې خوږو څه دئ

وايې د خوني شاهتير دِ وُل لري
کوږ دئ تنکي دئ لنډ دئ خلل لري
زه هم پوهېږم دَ زلزلې ده
تکيه دا خونه دَ عزو جل لري

وخت به دَ ژمي وي که وخت دَ ووړي
چه به را واغندِي دَ مرگ خرخوړي
ما به په تورو خاورو کښ واچوِي
پکښ به پرېوزم زه بوډي بوړي

وَيل له باغه شي له راغه څه وايي
صفت دَ گل شي اغزي څوک څه ستايي
رانځه زيب نکا په ړندو سترگو
که ناز کا ناز په بدرنگو نه ښايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده څوک مه کاږي ودونه غم دي
دَ دې غمونه له عمره سم دي
سخ دَ هغو دئ چه لونډان دي
په غم نيولي دَ يوه دم دئ

وايې په زړه دِ غمونه څونبره دي
څو دِ ناسازي را سَرَه هونبره دي
هر چه مَيَن شي ځما په پوهه
دَ قهر ولي مزري ږونبره دي

واده دِ هر هر پسرلي هر کال وي
ښځه دِ ځوانه آس دِ نيم زال وي
دا واړه توکه دَ دولتمنو دي
ځني دِ تښتي څوک چه کنګال وي

وفا به هيچري له کمذاته نه مومې
که همه عمر په زړه دَ ده درومې
تپوس به باز نشي زاغ به طوطي نشي
په تربيت ئې که بوعلي مومې

وخت دَ زوړوالي دئ دَ ځوانۍ نه دئ
که دِ دَ ځوان په يارۍ زړه دئ
جور و جفا وړه ورته نفر اوسه
دا کار په عشق کښې ور سَرَه ښه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته حیران شم که دانایئ دئ
دَ جنسَ جنسَ چه آشنایئ دئ
هر څوک چه خپل اصل سَرَه وصلت لري
له بله اصله ئې جدایئ دئ

وایې صوفي شه صوفي دِ ته شې
درومه نا اهل شپږ[۱] سو سپیته شې
که یار ساقي دئ عمر باقي دئ
لا به د میو ښېښې کړم تشې

واړه غلط دي څوک چه خپل ځان ستائي
کبر لوئي کا پرېشان پرېشان وائي
که هر څو لوي شي سړی بیا خاوري دئ
خوشحاله کبر لوئي په خداي ښایي

ونه به ولي تازه ولاړه وي
چه ویخ ئې نه وِي خوبي ئې ولاړه وي
اوبه باد خاوري ورلَره بویه
ویخ ئې قائم شي چه دا څه واړوي

هر څوک پخپله وعده قضا وژني
ومړي فنا شي نه ئې بیا بیا وژني

۱. محشي ورته لیکي یعني خس یې، ځکه چه خس په حساب د ابجد (٦٦٠) دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو څو مرګونه را بانديِ راغله
دَ يار ببلتون مي تر مرګ پخوا وژني

هغه چه کانديِ عزم کشئ
هغه به مومي ډېري خوښئ
خاوري شه خاوري چه ګل لتا کېږي
اور به دَر بل شي په آتشئ

هغه چه عهد قول پيمان لري
پرې مي سلام دَي دين و ايمان لري
څوک چه دَ دين دَ ايمان سامان لري
ارمان ئې کومه دي چه به ارمان لري

هغه چه کبر خود پرسيِ لري
خداي دَي چه هونبره بالا پستي لري
کامل به هيچېري بل راي دَ زړه نکا
اشيا دَ خداي په هستي هستي لري

هغه محبوبي واړه فائقي دِي
چه په پاکي په عفت شائقي دِي
څه شو که مچ په شکوو وَګرزي
شکري کله دَ مچ لايقي دِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چه خداي بولي په هر هر ځاي دي
ځني کرگس دي ځني هماي دي
چه سري بوټي خوري هغه گرکس دي
چه وچ هډُونه خوري هغه هماي دي

همت چه لوي لري کشال ئې کم وِي
ښاد وِي آزاد وِي شاه عالم وِي
چه دُون همت وي خسيس ممسک وِي
که مال ئې ډېر دَي نصيب ئې غم وِي

هغه چه مخ لرِي خوړې وربشې واخلي
په وېش چه سر شي بخري ښې ښې واخلي
هغه چه نه کَري په وړيو گرزي
هغه چه وکرِي هغه رېشې واخلي

هندکي چه هيڅ دئ په بهار درومي
خواري له خپله شامته مومي
يَو ئې وفا نشته بل ئې حيا نشته
بل ئې خواړه ځي دَ خواست تر کومي

هغه چه توري دَ بري په وخت وهِي
هغه ئې واړه دَ بل په بخت وهِي
سپاهيان دَ طمعِ دَ خپل مقصود وِي
دَ تنگځې توري ځښتن دَ تخت وهِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چه مخ کا په خود کامئِ
پرې به ور درومي بې آرامئ
رند یم اوباش یم عاشق قلاش یم
اندوه مي نشته دَ بد نامئ

هنر چه نلَري که مي پسر دئ
چه څوک ئې یاد کا درد مي دَ سر دئ
چه بېگانه وِي چه یگانه وي
یا مي لېمه دَي یا مي ځگر دئ

هغه مزري ندئ هغه کفتار دئ
چه بل غم نلري غم ئې دَ غار دئ
چه ئې له ماتي گیدړ هم وازدي خوري
که ښه دئ ښه خو دَ مزریو ښکار دئ

هوښیار به هر کله زمانه ساز وي
په دانائي به ئې دَ کار آغاز وي
نادان به هیچېري پدا خبر نه وِي
په هر هر کار به ئې بې ځایه راز وي

هوښیار به هر چېري په زړه ډرن وي
په جنگ چه ورشي نور به تورزن وي
نادان به تورو وته هوس کا
چه توري وبرېښي نور به ریخن وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هاتي ته گوره حال ئې معلوم دئ
څلور ئې پښې دِي يو ئې خرطوم دئ
که يَو ئې نه وِي پدا پنځه کښې
که هست و مست دئ نيست دئ معدوم دئ

هسي بل هم ګڼې لکه چه ته يې
هر څوک به ښه ګڼې په ځان که ښه يې
که ته مؤمن يې هر څوک مؤمن ګڼې
هر څوک کافر ګڼې که کافر ته يې!

هر چه دَ تورو زلفو مېرمني دي
په تورو بڼيرو باندي ميَنِي دي
دَ سپينو بڼيرو بلا په دويو شه
ولي له واره په زړه عمجنَي دي

هغه چه شرم دَ خاصو عامو دي
که زويه وروڼه دَ نيک فرجامو دي
دَ مړو په رنګ شه په مزکه ړنګ شه
چه بد نام کړوني دَ څو نېکنامو دي

هوښيار غليم به په خوله جنګ غواړي
ډېر به تر جنګه په آشتي وياړي
عمر خو يَو دئ چه په غم درومي
دا هسي عمر دِ وبا ونغاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيار به هر کله فهم په دم لَرِي
نظر په عين پخپل قدم لَرِي
دم غنيمت گڼه په هيڅ مغرور مشه
که دلگير کښېني اسمان څه غم لري

هغه چه نمونځ نکا که دِ خپل پلار دئ
ادب ئې هيڅ مکړه په دين کښ خوار دئ
پرېږده چه ومري زړه سوي پرې نه بويه
که په فاقه کښ ليل و نهار دئ

هوښيار به نه وِي چه احمق ته پند وائي
خوږې خبري خرونو ته نه ښائي
خواږه دَ خرو نه دِي دَ آدم دي
چه ئې خوراک زده چه ئې مزه ستائي

هندو چه بت وته هسي نسکور دئ
مؤمن مخ يښي دَ کعبې په لور دئ
دا دواړه توکه رسم و عادت دئ
اوده عالمه! مطلب څه نور دئ

هوښيار به چشت و چالاک بيدار وي
په هرَه چاره به ژر خبر دار وي
ډېر به عمل لري، لږ ئې خبري
په هر زمان به ئې نظر پکار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيار به هيچېري له ځانه خوښ نه وي
پخپل دانش به فضول سرکښ نه وي
چه ديرينه وِي چه تجربې لري
په کار و بار به دَ هغو بې اش نه وي

هنر په دوې ورځي ښکاره دَ کس شي
عيب ئې ورو ورو ښکاره پس پس شي
يو شان مرغۍ نشي دَ سړي له ځالي
ورځني باز او کارگان کرگس شي

هغه چه قول قرار متين لري
دولت دَ دين دَ دنيا قرين لري
چه دا ئې نه وِي نور څه ئې مه گوره
که ښې ښې چاري دَ دنيا دَ دين لري

هاتي چه وَمرِي بوي ئې پيدا شي
په لاري تلوني چه څوک پرې راشي
پوزه نيولې ځني تېرېږِي
خلاصي ئې نه وِي يوه بلا شي

هنر جوهر راوړه دَ لوئۍ ستوري
که دا دِ نشته ته يې کمزوري
هسي به اوسې که عقل هوښ لرې
چه د خندا نشې کاسه نسکوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيار به نه وِي چه نادان ته پند وائِي
خره ته خبره دَ قند و خوند وائِي
په هر هر ټوکي کښيده نه کېږي
ولي به هر چا ته پند خردمند وائي

هوښيار به هر چېري محتاج دَ پند وي
پند په ده باندي بهتر تر قند وي
نادان به هيچېري دَ پند پروا نکا
پند به په ده باندي د حنظل خوند وي

هنر چه نه لَري که دِ پسر دئ
سړی ئې مه بوله يَو گاَو خر دئ
که هر څو زور لري که هر څو زر لرې
تر دا همه واړه بهتر هنر دئ

هغه استاد گڼه چه درته څه ښئي
کشر هم مشر وي چه درته ښه ښئي
په سپينه ږيره به ئې منت لرم
که ووړکي راشي راته څه وښئي

هوښيار به هيچېري بې پنده نه وي
کار او گفتار به ئې بې خونده نه وي
چه عقل نه لري بد نفس بې شرم وي
فکر ئې هيچېري بې شخونده نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیش به هیڅوک په دنیا نه وي
په وار په وار به ورځني تله وي
مرغونه راشي په باغ کښې کښېني
بیا ئې د باغه نه الوته وي

هر یو تر بله بهتر ځان خپل گڼي
نشته چه ځان به کهتر تر بل گڼي
په خپل خپل عقل هر څوک غره وي
په هره چاره کښې خپل ځان عاقل گڼي

یو تور بورا دئ بل تور جعل دئ
قسمت دَ دواړو سَرَه بېل بل دئ
بورا په بوي دَ گلو نو پائېِ
تل و گندگۍ ته جعل اړل دئ

یار دَ خوشحال دئ خوشحال دَ یار دئ
که وفا دار دئ که جفا کار دئ
دَ عاشقانو چه څه اسرار دئ
دَ رقیبانو باندِي څه کار دئ

یار که څه یار وِي له ځوانه زوړ ښه دئ
تل به دِ نیاز وړي و نیاز ته جوړ ښه دئ
بل فکرَ نشته دَ سوات په ملک کښې
که زوړ که ځوان وي تر وړي موړ ښه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څه خاربښ دئ چه هویدا شي
په څو رنګه سَرَه شیدا شي
عیب تر شا کا په لېونتوب کښښ
دَ دوو په منځ کښښ دریم پیدا شي

یا ښه ځوانان دئ یا ښه اسان دئ
چه ورته ګران شي مشکل آسان دئ
دَ چا چه نه وِي دا دواړه توکه
عیب ئې مه کړه که هر اسان دئ

یَو چه مَین شي دَ بل پر رخه وي
چه سَرَه ښېل شي باندي ئې سخه وي
ګل که ښه نه وَي بلبل به څه کاوه
مینه په هر څه د څه دمخه وي

یَو مست دَ میو څو پیمانې لري
بل دَ جائفلو یو څو دانې لري
خبر په حال دَ مستانو نه دئ
دَ خپلې چارې سل افسانې لري

یار به دَ یار په یارۍ ویاړي
په هَرَه چار به ئې ښېګړه غواړي
که یار ئې خاندي دئ به هم خاندي
که یار ئې ژاړي دئ به هم ژاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو لوي تر غرونو فکر را پېښ دئ
نه پلار نه زويه نه دَ چا خوېښ دئ
زر گناهونه په استغفار بخښي
دا خداي هوښيار دي نه چه يو هېښ دئ

يار ئې په مهر په محبت شي
بکښ له پسه هنر حکمت شي
چه نه ئې دا وِي نه ئې هغه وي
آخر په دواړه لوريه زحمت شي

ياغي بازونه يو يو باز دار نيسي
څه چرگي نه دِي چه ئې هر خوار نيسي
دَ هري چاري اسباب پيدا کړه
افسون دِ زده کا هغه چه مار نيسي

يو دئ چه هر کله حلوا شيرينه خوري
بل دئ چه تل تل اوگره جوينه خوري
په مرگ به دواړه سَرَه يَو رنگه وي
دَ گور چمجۍ به ئې غوښي په مينه خوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷۳۸

یار مي دَ سپږو تر منځ اوُم دئ[۱]
چه څوک ئې نه ستايي په حسن ګرم دئ
چه را ښکاره شِي په ما رڼا شِي
چه مخ ئې نه وينم په ما تور تم دئ

۱. يعني په اوو ستوروکښ چه شپږ نور سيارات دِي، اَوم زما يار دَي چه هغه نو لمر دئ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**